

# ټاکنیزو شکایتونو ته رسېدنه:
## افغانستان او د قانون د نه پلی کیدو ګوابښونه

په ۲۰۱۰ کال کې ځانګړې ټاکنیزې محکمې ته کتنه

غزال حارس
مارچ ۲۰۱۴

۱۲ کاله
باکیفیته څېړنه

د څېړنې د بنسټ
افغانستان
لپاره
AREU

د افغانستان د څیړنې او ارزونې واحد
د موضوعي خپرونو لړۍ

# ټاکنیزو شکایتونو ته رسیدنه:
## افغانستان او د قانون د نه پلي کیدو ګواښونه

په ۲۰۱۰ کال کې ځانګړې ټاکنیزې محکمې ته کتنه

غزال حارس
مارچ ۲۰۱۴

دغه څیړنه د امریکا د متحده ایالاتو د سولې د انستیتیوت
او د فنلنډ د سفارت په مالي مرسته تر سره شوې ده.

د پښتنې انځور     شاه مری/ ای ایف پي

ژباړن:     حفیظ الله معروف

د خپرونی کود:     ۱۴۰۴P

© ۱۳۹۳ د افغانستان د څېړنې او ارزونې واحد سره ټینې حقوق محفوظ دي. کیدای شي دغه خپرونه تکثیر او بیا چاپ شی او یا دبیا لاسرسی په دستګاه کې زېرمه او یا په هره بڼه او هره وسیله لکه: برقي ضبطی او نورو وسایلو سره انتقال شی، په دې شرط چې د لیکوال او د افغانستان د څېړنی او ارزونی د واحد د مشخصاتو یادونه په کې وشی. د هغې پلورل او پیرودل او له هغې څخه هر ډول سوداګریزه استفاده منع ده. که چیرې دغه خپرونه بیا خپره او یا د بریښنایي بڼه په واک کې ورکړل شی، باید دافغانستان د څېړنې او ارزونې واحد انترنتی کربڼه www.areu.org.af په هغه کې چاپ او یا په انترنتی صفحه ولیکل شي. د هر ډول ګټې اخیستنی لپاره چې پورته یې یادونه ده شوې باید مخکی له مخکې د خپرونکي دافغانستان د څېړنې او ارزونې واحد لیکلې اجازه له انټرنیټی سایټ www.areu.org.af او یا له ۷۹۹۲۰۸۵۴۸ (۰) ۰۰۹۳ شمېرې سره د تماس له لارې ترلاسه کړی

## د لیکوال په اړه

غزال حارث په کابل کې د افغانستان د امریکایي پوهنتون د حقوقو د پوهنځی استاده ده چی اساسي قانون تدریس کوي. هغې د افغانستان په امریکایي پوهنتون کې له شامیلېدو د مخه، د کلیوالی صنایعو د ملي پروګرام د رئیسې په توګه، چې د کلیو د بیارغونې او پراختیا وزارت په چوکات کې یو ملي پروګرام دی- کار کاوه. همدارنګه یې د جمهوری ریاست د **۲۰۰۴** م کال د ټولټاکنو په بهیر کې د آزاده او عادلانه ټاکنو د بنسټ (FEFA) د اجرائیی مدیرې په توګه دنده تر سره کړې او په **۲۰۰۵** م کال کې یې د پارلمانی ټاکنو د څارنکوارګانونود نقش د تقویې پورې اروندو فعالیتونو په برخه کې کار کاوه. نوموړی د بریتانیا د لندن پوهنتون د افریقا او ختیځ د مطالعاتو له پوهنځی څخه د حقوقو په څانګه کې ماستري اخیستې ده.

## د افغانستان د څېړنې او ارزونې واحد په اړه

د افغانستان د څېړنې او ارزونې واحد په کابل کې میشته یوه خپلواکه څېړنیزه موسسه ده. ددې ادارې دنده د لوړ ځرنګوالې درلودونکو او پالیسۍ پورې اړوندو څېړنو له لارې پرپالیسۍ او چارومثبتې اغیزې دي، او همدا راز نوموړې اداره په افغانستان کې د څېړنې او زده کړې د کلتور د ودې په موخه ، د څېړنې پایلې په چټکه توګه خپروي. دې موخې ته د رسیدو لپاره له خپلو څېړنو او کتابتون څخه د ګټې اخیستنې دترویج په موخه له پالیسي جوړوونکو، مدني ټولنې، څېړونکو او زده کوونکو سره ددوی د څېړنېزې وړتیا د پیاوړي کولو په موخه ښکیل ده څو په دې توګه وکړای شي شننو، غبرګونونو او خبرو اترو ته لاره هواره کړي.

د افغانستان د څېړنې او ارزونې بنسټ (AREU) په **۲۰۰۲** کال کې په افغانستان کې د نړیوالې مرستندویې ټولنې په همکارۍ جوړ شو. دغه بنسټ د مشرتابه یو بورد لري چې د مرستندویو ادارو، لکه: ملګرو ملتونو او نورو ګڼ اړخیزو ادارو او نادولتي ټولنو استازي پکې ګډون لري. AREU اوسمهال د خپلو مرستو ډېره برخه د فیلنیډ له سفارته، د سویډن د بهرنۍ پرمختیا د مرستندویه ادارې (SIDA) او د پرمختیا او همکارۍ لپاره د سویس له ادارې (SDC) څخه تر لاسه کوي.

په **۲۰۱۴** کال کې د دغه بنسټ د ځانګړو پروژو ملاتړ د اروپایي کمېسیون (EC)، د پرمختیا او همکارۍ لپاره د سوېس ادارې (SDC)، د نړیوال پرمختګ انستیټیوټ (ODI)، د ملګرو ملتونو پرمختیایي ادارې (UNDP)، نړیوال بانک، د منځنۍ اسیا پوهنتون (UCA)، د امریکا د سولې انستیټیوټ (USIP)، د نړیوالې همکارۍ لپاره الماني ټولنې (GmbH)، (GIZ) او د فیلینډ د سفارت لخوا تر سره کېږي.

# مننه او کوروداني

د هغو مرکه کیدونکو له ونډې اخیستنې څخه پرته، د چې خپل ارزښتمن وخت یې زموږ په واک کې راکړ او د طرحه شوو موضوعګانو په اړه یې نظرونه راسره شریک کړل، دغه څېړنه نا ممکنه وه. همدارنګه به د مرکه کیدونکو له نظریو او معلوماتې لیکنو پرته، چې موږ ته یې راسپارلې، دغه څېړنه نیمګړې هم وه.

ددې څېړنې لیکوال له نافع چودهرې، د افغانستان د څېړنې او ارزونې د واحد له کارکوونکو او د امریکا د متحد ایالاتو د سولې له انستیتیوټ نه د ابتدایي نسخې په اړه د ارزښتمنو نظریو د وړاندې کولو له امله ډېره مننه کوي، چې ددغې څېړنې متن یې ایډیټ او د غلطیو د اصلاح لپاره یې ولوست، خو په څېړنه کې د هر ډول نیمګړتیا مسولیت په ما پورې اړه لري.

غزال حارس
مارچ ۲۰۱۴

# د موضوعاتو لیکلړ


لنډیز ...... ۱

۱. پیژندنه ...... ۲

۲. د څېړنې میتود ...... ۴

۳. زمینه: په افغانستان کې د ټاکنو حقوقي چوکاټ او دقانون د پلی کیدو حالت ...... ۵

۳.۱ د افغانستان اساسي قانون ...... ۵
۳.۲ ټاکنیز قوانین ...... ۶
۳.۳ په افغانستان کې د واک تفکیک او د قانون پلي کېدل ...... ۲۱

۴. د ۲۰۱۰ کال پارلماني ټاکنې ...... ۱۴

۴.۱ یو کلن کړکیچ: د پیښو تاریخ ...... ۴۱
۴.۲ د ۲۰۱۰ کال د پارلماني ټاکنو بیا کتنه ...... ۱۴
۴.۳ ټاکنیزې درغلی ...... ۱۵
۴.۴ د ټاکنو د خپلواک کمیسیون ځواب ...... ۱۶
۴.۵ ټاکنیزو شکایتونو ته رسېدنه ...... ۱۷
۴.۶ د لومړنیو او وروستیو پایلو اعلان ...... ۷۱

۵. د ټاکنو ځانګړې محکمه ...... ۲۰

۵.۱ د ځانګړې محکمې په اړه د سترې محکمې سکوت ...... ۰۲
۵.۲ د اساسي قانون او وضعی قوانینو بنسټونه ...... ۲۱
۵.۳ د ځانګړې محکمې کړنې (اجراأت) ...... ۲۳
۵.۴ سیاسي بنسټ؟ ...... ۲۴
۵.۵ د ځانګړې محکمې منحلیدل او د ټاکنو خپلواک کمیسیون ته یې د واکونو لیږدیدل ...... ۲۵
۵.۶ د قضایی خپلواکي: واقعیت که افسانه؟ ...... ۲۶
۵.۷ د ټاکنیزو بنسټونو راتلونکې ...... ۲۸

۶. هغه درسونه، چې له ټاکنو څخه زده شول ...... ۳۱

۶.۱ وړاندیزونه ...... ۳۱

ضمیمه ...... ۳۵

مأخذ ...... ۳۶

## لنډنومونه

| | |
|---|---|
| AGO | لویه څارنوالي |
| AIHRC | دافغانستان دبشري حقونوخپلواک کمیسیون |
| ECC | دټاکنیزوشکایتونوکمیسیون |
| FEFA | دافغانستان دازادواوعادلانه ټاکنوبنسټ |
| IAEC | د افغان ټاکنولنډمهالی کمیسیون |
| ICCPR | دسیاسي اومدني حقونونړیوال کنوینسیون |
| ICOIC | داساسي قانون پر تطبیق دڅارخپلواک کمیسیون |
| IEC | د ټاکنوخپلواک کمیسیون |
| IECC | دشکایتونود اوریدو خپلواک کمیسیون |
| JEMB | د ټاکنو د ادارې ګډ کمیسیون |
| LOJC | دمحاکمو د قضایي قلمرو او ادارې قانون |
| MP | دولسي جرګې غړی |
| OOACOMS | د وزیرانوشورا د دارالانشا ریاست او د چارو اداره |
| OSCE/ODIHR | داروپا لپاره د همکارۍ او امنیت اداره//دبشري حقونواو دیموکراتیکو بنسټونو اداره |
| PECCs | د ټاکنیزو شکایتونو ولایتي کمیسیونونه |
| SC | ستره محکمه |
| SNTV | یوازینې نه لیږدیدونکې رایه |
| UDHR | دبشري حقونونړیواله اعلامیه |
| UN | ملګري ملتونه |
| UNAMA | په افغانستان کې دملګرونوداستازولۍدفتر |

## لنډیز

دافغانستان اساسي قانون د افغانستان اتباعو ته د دې حق ورکړی، چې هم خپل ځان کاندیدولای شي او هم بل چاته رایه ورکولای شي. د دغه قانون له مخې، په هیواد کې د ټاکنو د څارنی او اداره کولو لپاره د ټاکنو خپلواک کمیسیون رامنځ ته شوی دی. دا په داسی حال کی ده چی، په اساسي قانون کې د ټاکنیزو ستونزو د حل د میکانیزم یا لارو چارو په ګډون د دغه کمیسیون د واکونو او چوکاټ په اړه هیڅ صراحت اوجزییات نه دي راندې شوي. دغه ډول جزیات باید په جلاتوګه په قانون کې وضعه شی.

په ۲۰۰۴ او **۲۰۰۵** کال کې هغه مهال، چې ملي شورا نه وه، ټاکنیز قوانین د ولسمشر د ځانګړي فرمان له مخې تصویب شول. خو له دې سره سره، کله چې په ۲۰۰۹ او ۲۰۱۰ کال کې ملي شورا جوړه شوه، بیا هم د ۲۰۰۹ او ۲۰۱۰ میلادی کلونو ټاکنیزقوانین له مدنی ټولنی، سیاسی ګوندونو، د ملی شورا له غړواو نورو اړوندو بنسټونو سره له ډیری کوچنی مشوری پرته د ولسمشری د ځانګړو فرمانونو له مخی تصویب او د اجرا وړ وګڼل شول.

په **۲۰۰۵** کال کې د ټاکنو قانون له مخې د ټاکنیزو شکایتونو د ارزونې قانون د دې لپاره جوړشو، چې د ټاکنو اړوند شکایتونه و ارزوي. خو بیا هم د **۲۰۰۵** کال قانون، چې له ځینو بدلونونو سره سره روښانه او ځانګړی پروسیجرونه پکې نه وو، د شکایتونو کمیسیون او د ټاکنو کمیسیون ترمنځ یې پریکړو موازي واکونه رامنځ ته کړل. د دې ترڅنګ، د شکایتونو کمیسیون موقت حالت د ټاکنو په بهیر کې د دغه کمیسیون پر اغیزمنتیا هم اغیزه وکړه. خو په عملي ډګر کې له دې سره سره، چې د وخت او سرچینو د کمښت له امله دغه کمیسیون له مهمو ننګونو سره مخامخ و، بیا یې هم بې پرېوالی او ژمنتیا وستایل شوه.

په فزیکي سرچینو او یا هم په قانوني چوکاټ له نیمګړتیاوو، ورهاخوا، د حکومت له خوا پر لپسې فشارونو هم په **۲۰۰۵** او **۲۰۰۹** کلونوکې د شکایتونود کمیسیون کارونه ډیراغیزمن کړل. د شکایتونو د کمیسیون په کارونوکې د حکومت مداخله په ۲۰۱۰ کې ډیر وه. حکومت هڅه کوله، چې د هرې ممکنې لارې پر مټ د ټاکنو پایلې تغییر کړي، حتا دا که د اساسي قانون له اصولو پورته اقدامات هم وو. حکومت د ټاکنو پرکمیسیون او د شکایتونو پر کمیسیون د فشار لپاره د لوېې څارنوالۍ له حکمونو ګټه اخیسته او د ټاکنیزو کمیسیونو پریکړې یې ننګولې.

کله، چې حکومت ونه شوای کولای دغه کمیسیونونه اړکړي، نود تاکنو د کمیسیون په وړاندی یی ځانګړې محکمه جوړه کړه. هغه حقوقی دلایل چې د هغو پر بنسټ دغه محکمه را منځ ته شوی وهو تر کلکو نیوکو لاندی راغلل، دغه محکمه جوړ شوه، کارو یې تر شپږو میاشتو دوام وموند.

بالاخره د یو سیاسي جوړ جاړی پر بنسټ ځانګړې محکمه ملغی شوه. د دغه سیاسی جوړ جاړي د یوې برخې په توګه د ټاکنو کمیسیون هوکړه کړې، چې د ټاکنو پایلې بدلې کړې. د ملي شورا نهه غړي (چې پخوا یې ټاکنې ګټلې وې) د ټاکنو وړنکوله لیست څخه وایستل شول او پر ځای یې نهه نور ځای ناستي وټاکل شول. د ټاکنو دغه پایلې د اساسي قانون او د ټاکنو د قوانینو له توجیه پرته بدلې شوې.

هغه څه، چې د ۲۰۱۰ کال د ټاکنو په بهیرکې رامنځ ته شول، په افغانستان کې د واک په ویشلو کې د کمزورۍ ننبه وه ځکه په یوه قانوني حکومت کې د قانون حاکمیت او د اساسي قانون اصول له خطر سره مخامخ کړل. د یوه پیاوړي څارونکي بنسټ په توګه د ملي شورا نه اغیزمنتیا، په حکومت پوری د قضاییه قوی تړلتیا او په اساسی قانون کی اجراییه قوی ته له اندازی زیات قدرت تفویض، تولو له یو بل سره لاسونه ورکړل او اجراییه قوی ته یی له قانو څخه د لوړو اقداماتو زمینه برابره کړه.

د دې لپاره، چې په افغانستان کې ټاکنې اغیزناکې ثابتې شي، نوخلک باید د قانون حاکمیت او داساسي قانون له مخې د حکومت اصولو ته درناوی وکړي، واکونه په سم ډول تفکیک شي، اجراییوي صلاحیت مشخص شي، پیاوړې ملي شورا باید رامنځ ته شي، بې پرې او خپلواکه قضایي ارګان باید فعال وي، د ټاکنو کمیسیونونه او غړي یې باید بې پرې وي او په پای کې باید د ټاکنو د ټول بهیر د څارلو لپاره پیاوړي څارونکي بنسټونه موجود وي، چې ناقانونه کارونه و څیړي.

د واک نا سم ویش، په افغانستان کې د ناکامۍ یومهم لامل بلل کیږي. د دغې ناکامۍ ټوله ګټه یوې خوا ته رسیږي. د دې لپاره، چې د دولت په درې واړوځواکونو کې واکونه په مناسب ډول وویشل شي، به بنسټونو کې اصلاحاتو ته سخته اړتیا ده. خو د دې کار لپاره لومړی باید په سیاسي کچه د رضایت موجود وي، چې دغه اصلاحات رامنځ ته شي. که چیرې د حکومتي بنسټونو په ګډون د ټاکنو کمیسیونونه اغیزمن ثابت نه شي، افغانان پرې خپل باور له لاسه ورکوي. په پای کې دا ویلای شوو، که دغه روان حالت همداسې پاتې شي، ښایي دافغانستان د تیرې لسیزې لاس ته راوړنې له ځانګړي ډول د نوي اساسي قانون منل او د داسی ادارو را منځ ته کول چی د خلکو استازیتوبوکړی، له خطر سره مخامخ کوی.

## ۱. پیژندنه

دا به نا سمه نه وي، چې د افغانستان ټاکنې د ۲۱ پیړۍ پدیده وګڼل شي. که څه هم افغانستان په دې تیره لسیزه کې څوځله ټاکنې تجربه کړې خو بیا هم دغه بهیر د ډیموکراتیکو ټاکنو لپاره له نړیوالو منل شوو معیارونو سره ډېر برابر نه و.

په ۲۰۰۱ کال کې- وروسته له هغه چې په افغانستان کې د طالبانو نظام ړنګ کړل شو، په دغه هیواد کې د ولسواکۍ لورې ته حرکت پیل شو چې په پایله کې یې په ۲۰۰۴ کال کې اساسي قانون تصویب ته شو. ټاکنې اصلا د بن غونډې د تګلارې یوه مهمه برخه وه او د ۲۰۰۴کال په اساسي قانون کې مهم ځای ورکول شوی دی. د اساسي قانون له مخې، د افغانستان وګړي حق لري چې ځان کاندید کړي او یا هم بل کاندید ته د رټو او مناسبو ټاکنو له لارې په یوه ډیموکراتیک بهیر کې رایه ورکړي. د اساسي قانون له رامنځ ته کیدو را وروسته په افغانستان دغه هیواد کې شپږ ټاکنې شوې دي، چې دوه ځله د ولسمشرۍ ټاکنې وې، دوه ځله د ولایتي شورا او دوه ځله هم د ملي شورا ټاکنې وې. په پیل کې، همغسې چې په اساسي قانون کې تصریح شوې، په ۲۰۰۴ کال کې په خپل وخت د دریوو لومړیو ټاکنو د ترسره کیدو هڅې وشوې. د ستونزو او پیچلتیاوو په پام کې نیولو سره، د ملي شورا او ولایتي شوراګانو د ټاکنو پریکړه وشوه، چې د ولسمشرۍ له ټاکنو وروسته به ترسره کیږي. د ۲۰۰۴ کال په لومړیو ټاکنو کې ۵، ۱۰ میلیونه خلکو نوم لیکنه کړې وه، چې ۸۰٪ یې په ولسمشرۍ ټاکنو کې برخه واخیسته.

په ۲۰۰۴ او ۲۰۰۵ کال کې لومړنۍ درې ټاکنې (د ولسمشرۍ، ولایتي شوراګانو او ملي شورا ) د انتخاباتو د ګډ کمیسیون له خوا اداره کیدې. په دغه کمیسیون کې د ټاکنو خپلواک کمیسیون هم برخه لرله، چې مالي ملاتړ یې د ملګرو ملتونو د استازولۍ دفتر یوناما له خوا کیده. د ټاکنو خپلواک کمیسیون د دریوو نورو ټاکنو په ترسره کیدو کې هم بریالی شو. د ټاکنو د ټول بهیر د څارلو لپاره په ۲۰۰۵ کال کې شکایتونو کمیسیون رامنځ ته شو.

دا، چې ټاکنې په نوو او زړو دموکراسیو کې د مشروع واک د ترلاسه کولو لپاره یواځینۍ لاره ده. خو بیا هم نو د ټاکنو بهیر له طبیعي پلوه له جنجالو سره مخامخ دی. په داسې حال کې چې د ټاکنیزو شکایتونو رسیدولو لپاره مختلف سیستمونه رامنځ ته شوي، نو د هغو هیوادونو لپاره چې واک پکې لیږدول کیږي، له حکومتي او د نورو چارواکو له مداخلې پرته د یوه خپلواک میکانیزم رامنځ ته کول خورا مهم دي.

دا مهمه ده، چې د ټاکنیزو لانجو د حل میکانیزم باید ټاکنیزې محکمې ته ورته وي او د قوانینو له مخې ټول شکایتونه وارزوي او د ټاکنوحقونه پرځای کړي[۱]. د یوې مناسبې ټاکنیزې محکمې نشتوالی او یا هم کمزوری، نه یواځې دا چې د ټاکنو شفافیت او بې پرې والی له ګواښ سره مخامخ کوي، بلکې داسې یو حالت رامنځ ته کوي چې د ټاکنو په بهیر کې مختلفو لوریو ته د لاسوهنې زمینه برابروي او دا کار د قانون حاکمیت او د قانوني حکومت پلویتوب له خطر سره مخامخ کوي.

نو د دې لپاره، چې ټاکنیز شکایتونه پرته له دې چې دغه سیاسي بهیر په خطر کې واچول شي سم و څېړل شي، دا مهمه ده چې دولت له ټولو ښکیلو اړخونو سره په مشوره روښانه قانوني چوکاټ رامنځ ته کړي. د ټاکنو او شکایتونو خپلواک کمیسیون دې رامنځ ته کړي، د دغو کمیسیونونو قانوني پریکړو ته دې درناوی وکړي او پای کې دې دخلکو د رایو-چې حق یې دی ملاتړ وکړي.

دا هم مهمه ده، چې دغه قانوني چوکاټ باید د ټاکنیزو سرغړونو او ټاکنیزو جرمونو ترمنځ تو پیر وکړي او دا هم باید روښانه کړي چې د ټاکنیزو شکایتونودکمیسیون دندې څه دي او د قانون دپلي کوونکو ارګانونو وظیفې کومې دي. په ورته وخت کې دا هم اړینه ده، چې د ټاکنیزو شکایتونو کمیسیون د لانجمنو مسلو د حل لپاره روښانه مقررات، پروسیجرونه او لاروښوونې وضع کړي. شکایتونو کمیسیون باید له وړاندې داسې پروګرام پیل کړي، چې له مخې یې کاندیدان، سیاسي ګوندونه، د هغوی استازي او د ټاکنو څارونکي بنسټونه په دې پوه کړي، چې کومه کارونه ټاکنیزه سرغړونه ده او کوم یې جرم بلل کیږي.

په دې څېړنیز رپوټ کې د ملي شورا ټاکنې د ۲۰۱۰ کال د یوې څېړنیز قضیې په ډول څېړلی شوې دي او د هغې له مخې په افغانستان کې د ټاکنیزو ستونزو د حل میکانیزم تحلیلوي. په دې تحقیق کې پر قانوني چوکاټ، د ټاکنیزو کمیسیونونو پر واکونو او د ټاکنیزو سرغړونو د څېړلو پر میکانیزم خبرې شوې دي.

---

۱ هوزې دو جې سوزاند هینریګوز او ایمان ایوب، ټاکنیز عدالت د نړیوال IDEAرساله (ستکهلم، نړیوال ایدیا، ۲۰۱۰).

په دې څېړنه کې په ځانګړې ډول د هغې ځانګړې محکمې په اړه هم بحث شوی، چې ولسمشر له ټاکنو وروسته جوړه کړه. د دې تحقیق موندنې په پای کې ښيي، چې د دغې ځانګړې محکمې جوړېدو په اساسي قانون او یا هم دهیوادو په نورو قوانینو کې اساس نه درلود. د دغې محکمې جوړېدو وښوده، چې اجرايوي څواک (ولسمشر) واکه ناوړه ګټه اخیستې او دهیواد پر قضايي برخې خورا اغیز لري.

په دې تحقیق کې د سترې محکمې او د اساسي قانون پر تطبیق د څار کمیسیون، چې دواړه په همهالي ډول اساسي قانون تفسیروي، قضايي حوزې هم څېړل شوې دي. د دغو بنسټونو د کارونو په تو پیر کې نا روښانتیا د قضا د قضايي حوزې د قلمرو په اړه مغشوشتیا رامنځ ته کړې ده او له دغه ډول ناروښانتیا نه د هیواد مشر او یا هم نور چارواکي په خپله ګټه کار اخیستلی شي.

تحقیق په دې پای ته رسیدلی، چې په افغانستان کې پر قانوني حکومت له نژدې یوې لسیزې تیرېدو وروسته اوس هم د واک ویش، د قضا خپلواکي، د قانون حاکمیت او بالاخره د اساسي قانون له اصولو سره سم دحکومت د جوړولو اصول په خطر کې دي. په داسی حال کې چې، ډېرو لوبغاړو او د واک څښتنانو اوس هم د خپلوعلایقو په خاطر دغه ډول حالت ساتلی دی. که چیرې دغه حالت پای ته و نه رسول شی، د افغانستان د تیرې لسیزې لاس ته راوړنې به له سخت ګواښ سره مخامخ شي، په ځانګړې ډول د نوي اساسي قانون منل او د ملي شورا د دواړو خونو رامنځ ته کیدل.

## ۲.  د څېړنې میتود

د دې څېړنې اصلي میتود د معلوماتی مرکو له مخې د معلوماتو په راغونډولو، د پخوانیو معلوماتو په بیا کتلو او د عملي مشاهدو پر بنسټ ولاړ دی. په دې څېړنې کې له ګڼ شمیر هغو کسانو سره مرکې شوې دي، چې د ټاکنو په بهیر کې ښکیل وو. د دې څېړنې د توازن ساتلو لپاره له بیلا بیلو خلکو سره، چې مختلفې نظریې یې درلودې مرکې شوې دي.

له هغه مهمو او کلیدی کسانو چې مرکې ورسره شوې، په هغو کې د ټاکنود خپلواک کمیسیون (IEC) پخواني او اوسني کمیشنران، د ټاکنیزو شکایتونوکمیسیون پخواني بهرنی غړي، قانون پوهان او حقوق پوهان، د ۲۰۱۰ کال د ټاکنو کاندیدان، د ملي شورا غړي، د قضایي هیات غړي، د ټاکنو نور مسوولین او قانون پوهان، سیاستپوهان او ټاکنیز ماهرین شامل دي. دارنګه د هغو کسانو نظریې چې د دغې ځانګړې محکمې پلویان او یایې مخالفان وو، هم په دغه څېړنه کې اوریدل شوې دي. په ټوله کې ۲۷ مرکې د دغه څېړنې لپاره شوې دي.

د هغو کسانو شرایط، چې د مرکو لپاره غوره کیدل: ۱) مرکه کیدونکی باید داسې څوک وي، چې یا مخامخ د ټاکنو بهیر کې ښکیل وي او یا هم کاندید وي، ۲) حقوقی کار پوه وي، ۳) سیاسي کارپوه وي، ۴) او یا هم داسې څوک وي چې د ټاکنو له بهیر او یا هم دټاکنیزو محکمی پروسی په اړه له بهیر ژور معلومات ولري.

که څه هم په دی څیرنه کی پوښتنې مشخصي نه وې ځانګړې شوې ځکه مرکه کوونکو ته په ازاد ډول د دې فرصت ورکو کیده، چې خپل نظر څرګند کړي. په ځینو پوښتنو کې له خلکو نه د مرکو پرمهال لاندې پوښتنې مطرح کیدې:۱) له ۲۰۰۵ کال را په دې خوا، په افغانستان کې د ټاکنیزو شکایتونو ته د رسیدو په اړه د دوی معلومات؛ ۲) په تیرو دریوو ټاکنو کې د شکایتونو د کمیسیون د کارونو اغیزمنتیا ؛ ۳) د ټاکنو د ځانګړې محکمې را منځ ته کیدو په اړه د دوی معلومات؛ ۴) د دغې محکمې قانوني شته والی؛ ۵) د پا کنو په قانونی چوکاپ کې تشې او یا خالیګاوې؛۲) هغه مسلې چې دقوانینو د ناروښانتیا په پایله کې رامنځه ته کیږي او ؛ ۷) په راتلونکې کې د دغې پروسې دپرمختګ او د ودې په اړه د دوی نظرونه.

ځینو ځانګړو فکټورونو په مستقیم او یا هم غیر مستقیم ډول پر دې څیړنې اغیز کړی دی. د نورو لاملونو ترڅنګ معلوماتو ته لاسرسی یوه لویه ننګونه وه. په دغه څېړنې کې داسې یوه موضوع څیړل شوې چې نژدې درې کاله وړاندې پیښه شوې وه. هغه مهال د ټاکنیزو شکایتونو کمیسیون یو دایمي بنسټ نه و او تر دې نژدې تیر وخته یې دارلانشا او همداسې څه نه لرل چې خپل معلومات په ارشیف کې وساتي. د معلومات د زیرمې لپاره یو مرکزي ځای نه و، نو په دغه څېړنې کې اړوندو موضوعاتو ته د لاسرسي لپاره له بیلا بیلو سرچینو نه کار اخیستل شوی دی. د غه څیړنه پر هغو معلوماتو هم ولاړه ده، چې له مرکه کیدونکونه، په ځانګړی ډول له هغو نه چې په مستقیم ډول د ټاکنو په بهیر کې ښکیل وول، ترلاسه شوی دي. دا هم د یادولو وړ ده، چې ځانګړو چارواکو او مرکه کیدونکو ځینې معلومات له موږ سره نه شریکول، ځکه هغه یا سري وو او یا هم په څیړنوکې د کارولو اجازه نه ورکول کیده. په ځآنګړي ډول دا هغه لیکونه وو، چې دبیلابیلو بنسټونو له خوا د دغه څېړنې د موضوع په اړه تبادله شوې وو.

د دې تر څنګ، ځینې مرکه کیدونکي خوښ نه وو چې په صادقانه ډول خپلې کیسې راته ووایي ځکه ولسمشر اوس دوی پر ځینو دندو ګمارلې دي. دارنګه ځینو مرکه کیدونکو چې له قضایي ارګان سره یې تړاو درلود، نه یې غوښتل چې د خپلو قضایي پریکړو او ستونزو په اړه خبرې وکړي. سره له دې، زموږ ډلې د ټاکنیزو لانجو دحل ځانګړې محکمې له مشر سره څو څو ځلې اړیکې ونیولې خو هغه په دې اړه بحث کول نه غوښتل. د دې لپاره چې دغه تشه ډکه شي او په څیړنه کې توازن ې رامنځ ته شي، څیړونکو د سترې محکمې، پر اساسي قانون دتطبیق دڅار کمیسیون، د ټاکنو کمیسیون او نورو بیلا بیلاو چارواکو سره چې مخامخ د ټاکنو په بهیر کې ښکیل وو، خبرې وکړې او د دغې موضوع په اړه مهم معلومات ترې ترلاسه شول.

# ۳. زمینه: په افغانستان کې د ټاکنو حقوقي چوکاټ او دقانون د پلي کیدو حالت

## ۳.۱ د افغانستان اساسي قانون

په افغانستان کې د طالبانو د رژیم له را پرځیدو وروسته، د بن تړونونو په دغه هیواد کې د راتلونکې ولسواکۍ او نوي اساسي قانون جوړیدو ته لار پرانیسته. د بن په تړونونو کې دارنګه د ړنو او ازادو ټاکنو له لارې د داسې حکومت وړاندیز هم وکړ، چې دخلکو استازیتوب وکړ.[2] افغانستان د ۲۰۰۴ کال اساسي قانون کې د بشري حقونو د نړیوالې اعلامیې (UDHR) په ګډون نورې نړیوالې اعلامیې منل شوی او هغوی ته یې په درناوي ټینګار کړی دی. [3]د بشري حقونو نړیواله اعلامیه د هغو حکومتونو ملاتړ کوي، چې د ړنو ټاکنو له لارې د خلکو اراده څرګندوي. [4]د سیاسي او مدني حقونو نړیوال کنوانسیون په ټاکنو کې د مساوي برخې اخیستنې له لارې د رایه ورکولو او کاندیدلو دحق ضمانت کوي. په همدې ترتیب،[5] د ۲۰۰۴ کال اساسي قانون، د طبیعي حق په ډول د دغه هیواد په ټاکنو کې د وګړو برخه اخیستنه او رایه اچونه روښانه کړې دي. په د دی رپوټ په راتلونکی برخه کې د ټاکنو په اړه د قانون د مفاد په معلومات وړاندې کیږي.

د افغانستان اساسي قانون د خپلو وګړو د دې حق ضمانت کوي، چې په ټاکنو کې د خپلې خوښې کاندید ته رایه ورکړي او یا هم کاندید شي.[6] د ټاکنو کمیسیون په دغه هیواد کې د ټاکنو بهیر د ادارې او څارنې واک لري. د ټاکنو کمیسیون د ولسمشرۍ، ملي شورا ، ولایتي شوراګانو ، د ولسوالۍ شوراګانو ، د ښاروالۍ شوراګانو ، دکلیو د شوراګانو او د ښاروال د غوره کولو لپاره د ټاکنو مسوولیت لري. [7]دا به داسی حال کې ده چې، په اساسي قانون کې د ټاکنو دکمیسیون د مسوولیتونو او چوکاټ په اړه راټه معلومات نه دي ورکول شوي. په قانون کې یواځې دومره راغلي، چې د ټاکنو کمیسیون د دې مسوولیت لري چې د ملي شورا [8]د غړو باور لیکونه وځاري. نو د ټاکنیزو شکایتونو د حل د میکانیزم په ګډون په اساسي قانون کې ډیر نورمعلومات هم نه دي راغلي، چې وروسته به یې روښانه کړو.

د اساسي قانون له مطالعی نه داسې ښکاري، چې د دغه قانون د تصویب او د ملي شورا د لومړۍ دورې د لوړې د مراسمو ترمنځ مودی ته انتقالي دوره[9] وایي. د دغې دوری پرمهال لنډ مهالی دولت مکلف دی، چې د ټاکنو د تر سره کیدو لپاره د ټاکنو کمیسیون رامنځ ته کړي. په اساسي قانون کې دا هم راغلي دي، چې د ټاکنو اړوند نور قوانین به د ولسمشرۍ د ځانګړي فرمان له مخې نافذیدای شی. دغه قوانین باید ملي شورا لومړنی غونډی ته وړاندې شوی وای او د ملی شورا د قانون جوړوونکو له خوا د هغو د تعدیل او تصویب تر مهال به د پخوا په شان نافذ ګڼل کیدل. خو دا په داسی حال کی ده چې آن[10] د انتقالي دورې له پای ته رسیدو وروسته هم د دې پرځای چې د ټاکنیزقوانین د ملي شورا له لارې تصویب شي، د ولسمشرۍ له ځانګړو فرمانونو له مخې څخه په ګټی اخیستنی سره مرعی الاجرا پاتې شول.

د افغانستان اساسي قانون د نورو اساسي قوانینو په څیر، کې د ټاکنو لپاره د ټاکنو د نظام به اړه صراحت نه لری، یواځې دومره یادونه پکې شوې چې دسیاسي ګوندونود جوړیدو حق شته[11] په داسې حال کې چی د ټاکنو د یوه مقتضی سیستم د موضوع چی په باید ځای ورکړل شی، په خپل ځای پاتې او راتلونکې ته محول شوی ده. دغه ډول انعطاف مننی ته په هغو ټولنو کې د یوه ښه فرصت په ډول کتل کیږي تازه له بحرانه راوتلې وي ځکه دا کار مقننه قوی ته د دې فرصت برابروي چې د یوه ښه کارنده ټاکنیز سیستم لپاره اصلاحات راولي. په پیل کې داسې تمه وه، چې په ټاکنیز سیستم کې به مهمې څیرې او تر ټولو مهم دا چې سیاسي ګوندونه برخه اخلي.

۲ په افغانستان،د همیشنیو دولتی بنسټونو د جوړیدو تر معاله د لنډ مهالوتشکیلاتو په اړه تړون ( د بن کنفرانس)، عمومي شرط ۴، ۲۰۰۱

۳ د افغانستان اساسي قانون، ۷ ماده، ۲۰۰۴ کال

۴ د بشري حقونو نړیواله اعلامیه، ۲۱ ماده، ۱۹۴۸

۵ دسیاسي او مدني حقونو نړیوال کنوانسیو ، ۲۵ ماده، ۱۹۶۶

۶ د افغانستان اساسي قانون، ۳۳ او ۱۵۲ ماده، ۲۰۰۴ کال

۷ په هغو اووه ډوله ټاکنو کې چې دافغانستان په اساسي قانون کې یې یادونه شوې، په هغو د ولسوالیو شوراګانو ، د کلی یا سیمې شوراګانو د ښاروالیو د شوراګانو او لپاره ټاکنې تر اوسه نه دي ترسره شوي. د رپوټونو له مخې، د دغه کار دلیل دادی چی په بیلابیلو وختو کې تر سره کیږی او زیات لګښت غواړی د بیلګې په توګه د ذکریا بارکزی مقاله وګوری، چی د افغانستان د ۲۰۱۴ کال د جمهوری ریاست او ولایتی شورا د ټولټاکنی په اړه یی لیکلی او په ۲۰۱۳ کال کې د امریکا د متحده ایالاتو د سولی د انستیتیوت له خوا په واشنګټن ډی سی کې خپره شوې ده..

۸ د افغانستان اساسي قانون، ۸۲ ماده، ۲۰۰۴ کال

۹ د افغانستان اساسي قانون، ۱۵۷ ماده، ۲۰۰۴ کال

۱۰ د افغانستان اساسي قانون، ۱۵۹ ماده، ۲۰۰۴ کال

۱۱ د افغانستان اساسي قانون، ۳۵ ماده، ۲۰۰۴ کال

خو په عمل کې حکومت يو اړخيز اقدامات وکړل او په ۲۰۰۴ او ۲۰۱۰ کال کې يې پر لېسې داسې ټاکنيز قوانين رامنځ ته کړل چې له هيڅ لوري سره يې مشوره پکې ونه کړه. سره له دې چې له دغه ډول سيستم سره په پراخه کچه سياسي ګوندونو او مدني فعالانو مخالفت هم وکړ خو بيا هم حکومت د انتقال نه وړ واحدې رايې سيستم[12] (SNTV) منځ ته راوړ[13].

د نړۍ د ډېرو هيوادونو په اساسي قوانينو کې دغه ډول انعطاف مننه د دې لپاره کارول کيږي چې بيلا بيلا سيستمونه و ازمايي او هغه يو ترې غوره کړي چې د ولسواکۍ د پرمختګ لپاره ترې کار اخيستل کيږي، دا ستازو پياوړې شوراګانې رامنځ ته کړي، خو دغه فرصتونه په افغانستان کې د ګوندونو د کمزوري کولو او د هغوی فعاليت د مخنيوي لپاره وکارول شول. نو له همدې امله، د يوه ټاکنيز سيستم د رامنځ ته کولو د پريکړې پوښتنه پر خپل ځای پاتې ده، چې وروسته پرې بحث کيږي. او همدغه کار دې ته لاره هواره کړه، چې ويشل شوې ملي شورا رامنځ ته کړي.

کله، چې لومړۍ ملي شورا و ټاکل شوه، دواړو يعنی هم سياسي ګوندونو او هم مدني ټولنو د يوه ولايت په ټولو ولسواليو کې د يوه کانديد لپاره يعنی يو ولايت يوه انتخابي حوزه ده د رايې اچونې د سيستم لپاره، د ملي شورا په دويم پړاو ټاکنو کې د اصلاحاتو قوي غوښتنه کوله او له پخواني سيستم سره په پراخه کچه مخالفت و. کله، چې حکومت د هر ډول اصلاحاتو د هڅې مخالفت کاوه نو دغه کار يې د سياسي ګوندونو د برياليتونو د غوښتنو سره په ټکر کې وه. په پايله کې، د ملي شورا دويم دور ټاکنې هم همغسې وشوې چې په يوه ولايت د يوه کانديد لپاره يوه انتخاباتي حوزه وه او ښايي د **۲۰۱۵** کال پارلماني ټاکنې هم په همدغه سيستم وشي.

په افغانستان کې داسې سيستم په کار دی، چې ګڼ ګوندونه پکې شامل وي، ځکه دغه ډول سيستم به د ډيموکراسۍ پر بنسټ خدمتونه وکړي. حکومت وايي چې دغه ډول سيستم د افغانستان لپاره ګټه نه لري او دغه ډول سيستم د افغانستان د سياسي ګوندونو پخوانی ناخوښه تاريخ ته په کتو سره ردوي. خو په افغانستان کې د سياسي پياوړو ګوندونو له نشتوالي پرته ولسواکي دغه هيواد ته ښيګڼه نه شي راوستلی. د ولسواکۍ د مهمو بنسټونو په توګه، ګوندونه بايد په کور دننه ديموکراتيک وي، سم پيژندل شوې وي او برياليتوب لپاره منسجم وي.

## ۳.۲ ټاکنيز قوانين

ټاکنيز قوانين د ټاکنو د تنظيم بهير قانوني کوي. د برياليو ټاکنو د ترسره کيدو لپاره، پياوړی او قانوني چوکاټ له مهمو فکټورنو څخه ګڼل کيږي. دغه ډول چوکاټ د روښانه، عمومي او ټاکلو جزياتو نه په ډکو قوانينو سره رامنځ ته کيدای شي، چې د ټاکنو د بهير روڼتيا او اعتبار يقيني کړي. د دې رپوټ دغه برخه پر هغو ټاکنيزو قوانينو لنډه رڼا اچوي، چې له مخې يې د ۲۰۰۴ او ۲۰۱۰ کلونو ترمنځ ټاکنې ترسره شوې.

### د ټاکنو د تنظيم انتقالی بنسټونه: د ۲۰۰۴ کال د ټاکنو قانون

له تاريخي پلوه، افغانستان د ټاکنو په تړاو کمه تجربه لري. د ۲۰۰۴ کال له ټاکنو وړاندې وروستۍ ټاکنې نژدې څو لسيزې وړاندې تر سره شوې وې چې د نړيوالو معيارونو له پلوه يې د ازادو او رڼو ټاکنو معيارونه نه وه پوره کړي[14].

سره له دې، چې په افغانستان کې د ولسواکه ټاکنو لپاره هيلې وې، خو بيا هم نړيواله ټولنه په هغو ګڼو ننګونو خبره وه، چې د ټاکنو په وړاندې موجودې وې. د بن په غونډه کې له ژمنو سره په څنګ کې، انتقالي حکومت پريکړه وکړه، چې په افغانستان کې د لومړيو ټاکنو د اداري لپاره له ملګرو ملتونو سره ګډ کميسيون رامنځ ته کړي.

د ۲۰۰۳ کال به جولای کې دوه ځانګړي فرمانونه صادر شول، چې د يوه له مخې يې د افغانستان لنډ مهالی ټاکنيزو کميسيون (IAEC) رامنځ ته شو او د بل فرمان له مخې يې د ټاکنو تنظيم ګډ دفتر[15] رامنځ ته شو. د لنډ مهالي کميسيون دنده دا وه، د ۲۰۰۴ کال چې د

۱۲ د دغه سيستم له مخې، رايه اچوونکي يوه کانديد ته په مختلفو ولسوليو کې رايه ورکولای شي. هغه کانديدان بريالي اعلانيږي چې تر ټولو يې ډيرې رايې وړې وي. د نورو نواقصو ترڅنګ، د سياسي ګوندنونو لپاره د دغه سيستم يوه لويه ننګونه داده، چې په يوه سيمه کې يې کانديدان ديوې څوکۍ لپاره سيالي کوي. دا کار د دې لامل ګرځي، چې په داخل د ګوند کی درزونه راپيدا کړي. دغه سيستم د سياسي ګوندنو او هم د رايه اچوونکو لپاره پيچلو تګلارو ته اړتيا لري او دغه کار ځينې وخت کمزوري ګوندونه کوي. په دې اړه نور معلومات، د انډريو ريونالډس، بين ريلي او انډريو ايلس هغه کتاب وګورئ چې د ټاکنو د سيستم په اړه ليکل شوي دي.

۱۳ په پارلماني ټاکنو کې، (يو ولايت د يوې ټاکنيزې حوزې) د سيمسم په اړه معومات او پيچلتيا د نډريو رونالډ په کتاب کې وګورئ، چې نوم يې- "د افغانستان د ټاکنود سيستم جوړونه د اصلاحتو لپاره دلايل او اختيارونه" دی

۱۴ ريګنالډ استين، "افغانستان: د ټاکنو د اداري لپاره د کميسيون رامنځ ته کول"، "د ټاکنو اداری جوړښت کی: د IDEA نړيوال ټوک، الان وال، انډريو ايلس. ۱۱۳ – ۱۷ (سټاکولم: IDEA نړيوال ټوک، ۲۰۰۲) د ټاکنو د خپلواکۍ او روښانتيا د معيار لپاره، د ټاکنو د خپلواکۍ او روښانتيا د معيار اعلاميه وګورئ (پاريس: پارليمانی شورا، ۱۹۹۴).

**۱۵** د افغانستان منځمهالی ټاکنيز کيمسيون، د فرمان ګنه، ۳۹، ۲۰۰۳ (۱۳۸۲لمريز کال)؛ د ټاکنو ګډ کميسيون، د فرمان ګنه ۴۰، ۲۰۰۳ کال، (۱۳۸۲لمريز کال)

ټاکنود[۱۲] ټولو اړوندو چارو په اړه حکومت ته مشوره ورکړي او دملګرو ملتونو د مرستې له ډلې (UNAMA) سره د همکارۍ په ترڅ کې رایه ورکونکي ثبت کړي[۱۷]. د ۲۰۰۴ کال دفبروۍ د میاشت ۱۱۰ ګڼه فرمان صادر شو چې وروسته ۴۰ ګڼې فرمان په واسطه تعدیل شو، د دغو بدلونونو له مخې، د ټاکنو ګډ کمیسیون ته د دې واک ورکول شو چې دټاکنو بهیر د څارنې، اداري او چمتوالي لپاره ډیر کارونه وکړي[۱۸].

د ۲۰۰۴ کال د مې میاشت کې ولسمشر کرزي د اساسي قانون[۱۹] د **۱۵۹** مادې له حکم سره سم له خپل واک نه کار واخیست او د ۲۰۰۴ کال د ۲۸ ګڼه فرمان له مخې یې د ټاکنو خپلواک کمیسیون رامنځ ته کړ چې د ټاکنو چارې پر مخ بوځي[۲۰]. دغه قانون د ټاکنو د ګډ کمیسیون د واکونو تکرار او ددغه کمیسیون د ګډ دفترجوړښت و چې د ۱۱۰ ګڼه فرمان پر بنسټ را منځ ته شوی و. د ټاکنود تنظیم ګډ کمیسیون دیارلس غړي لري، چې له دوو پرته نور یوولس غړي یې رایه کارولی شي. ولسمشر کرزي په دغود کمیسیون غړو کې شپږ افغان غړي کسان وګمارل په داسې حال کې چې د افغانستان لپاره دملګرو متلونو ځانګړ ی استازي بیا پنځه نړیوال یا بهرنی غړي د دغه کمیسیون لپاره وټاکل. هغه افغان، چې د ټاکنو کمیسیون د دارلانشا مشر او د یوناما د هیات ټاکنیز مشاور د دغه کمیسیون هغه غړي وو چې رایه یې نه شوای کارولی[۲۱]. په ۲۰۰۵ کال کې د جمهوري ریاست د ۲۱ ګڼې فرمان پر بنسټ ، د ټاکنو د خپلواک کمیسیون اووه غړو د ټاکنو د لنډ مهالي کمیسیون ځای ونیو. [۲۲]

د ۲۰۰۴ کال د ټاکنو قانون پر شرایطو برابرو ټولو وګړو ته په ازادو او رڼو ټاکنو کې د مساوي، پټو، عمومي او مستقیمي رای کارونې حق ورکړی. خو له بده مرغه په افغانستان کې دسیاسي ګوندونو تیر منفي تاریخ ته په کتو سره دغه قانون داسې نه و جوړ شوی، چې سیاسي ګوندونه پکې پرمختګ وکړي. په عمل کې دغه قانون دې ته لاره هواره کړي، چې هم د ملي شورا په ټاکنو او هم د ولایتي شوراګانو په ټاکنو کې یو ولایت یوه انتخاباتي حوزه وګڼل شي. د دغه قانون له مخې سیاسي ګوندونه دې ته وهڅول شول، چې په ټاکل شویو ولایتونو کې سل په سلوکې څوکیو ته کاندیدان[۲۳] وګماري. په حقیقت کې د سیاسي ګوندونوکاندیدانو ته د خپلواکو نوماندانوپه سترګه کتل کیدل او داسې اټکل کیده، چې دغه سیستم به افغانستان داسې ټاکنو ته بوځي چې ګڼ شمیر خپلواک کاندیدان به وي او سیاسي ډلې به د ټولو رایو لږه برخه تر لاسه کړي. [۲۴]

د ټاکنیزو لانجود حل لپاره، د ۲۰۰۴ کال د ټاکنو قانون خپلواک، د ټآکنو خپلواک کمیسیون ته ورکړی دی. خو له دې سره سره بیا هم په دغه قانون کې د ټاکنو خپلواک کمیسیون د واکونو او تګلارو په اړه محدود معلومات ذکر شوې دی. د دغه قانون له مخې د ټاکنو خپلواک کمیسیون دا واک لري، چې د رایو د شمیرنې، کاندیدانو، رایو او د نوم او رایویې پاڼو ثبت په اړه د راپورته کیدونکو ستونزو په اړه پلټنه وکړي. د ټاکنو خپلواک کمیسیون کولای شي، چې هغه کاندیدان چې د کمیسیون شرایط پوره نه کړي، له لیسته وباسي. د ټاکنو پر خپلواک کمیسیون سر بیره، خلک هم کولای شول چې له کاندیدانو څخه د ټاکنو خپلواک کمیسیون ته شکایت وکړی. [۲۵]

د ۲۰۰۴ کال د ټاکنو قانون د ټاکنیزو سرغړونو یادونه کړې او د هغو د څیړنو او حکم کولو واک یې د ټاکنو خپلواک کمیسیون ته ورکړی دی. د رایو او د رایو د مرکزونو د شمیرلو په اړه به شکایتونه د ټاکنو کمیسیون د سیمه ییزو چارواکو دممکنه غوښتنو له مخې په همغو مرکزونو کې حلیږي. هغه پریکړې چې د ټاکنو خپلواک کمیسیون یې کوی وروستۍ او الزامي وي [۲۲]. د ټاکنو خپلواک کمیسیون د دې حق لري، که کاندیدان او یا هم سیاسي ګوندونه د ټآکنیزو سرغړونو ملاتړ وکړي او یا پکې ښکیل شي، پر هغوی بندیزونه ولګوي. که د ټاکنو کمیسیون د ټاکنیزو قوانینو خلاف جرمي سرغړونه ومومي، هغه د قانون پلي کوونکیو ادارو ته راجع کولای شي.

په قانون کې راغلې مقررات هومره هر اړخیزه نه دي، چې ټولو لانجو ته د پای ټکی کیږدي.نو له همدې امله د ټاکنو ګډ کمیسیون د

۱۲ د افغانستان منځمهالي ټاکنیز کمیسیون، دفرمان ګنه ۴۰، ۲۰۰۳ کال سریزه، ( ۱۳۸۲ لمریز کال)

۱۷ د ټاکنو ګډ کمیسیون، د فرمان ګنه،۴۰، اوله ماده، ۲۰۰۳ کال ( ۱۳۸۲ لمریزکال)

۱۸ د لنډمهالي دورې پرمهال د ټاکنیزو غونډو عناصر، د فرمان نمبر، ۱۱۰. اول، ۲۰۰۴. د ټاکنو خپلواک کمیسیون، د فرمان ګڼه، ۲۱، ۲۰۰۵ کال ( ۱۳۸۲)

۱۹ دافغانستان د اساسي قانون ۱۵۹ ماده،: "د افغانستان انتقالي اسلامي دولت د انتقال په دوره کې لاندې دندې سرته رسوي: ۱) په شپږ میاشتو کې دننه د ولسمشرۍ، ملي شورا او سیمه ییزو جرګو په اړه د تقنیني فرمانونو صادرولو ؛ ۳): د ټاکنو دخپلواک کمیسیون جوړول..... "

۲۰ د ټاکنو قانون، د فرمان نمبر، ۲۰ ( رسمي جریده، ګڼه.۸۲۹) ۲۰۰۴ کال یا ۱۳۸۳ لمریز کال

۲۱ د لنډمهالي دورې پرمهال د ټاکنیزو غونډو عناصر، د فرمان نمبر، ۱۱۰. اول، ۲۰۰۴. (۱۳۸۳ ل)

۲۲ د ټاکنو خپلواک کمیسیون، د فرمان نمبر ۲۱، ۲۰۰۵ کال

۲۳ ټاکنیز قانون ( رسمي جریده، ګڼه ۸۲۹ ) مادې، ۲۲ او ۴۴مې، ۲۰۰۴ کال

۲۴ دا نډریو ریناالډ او انډریو ویلډر کتاب "په افغانستان کې د مشروع ټاکنو پر وړاندې ننګونې"(کابل: د افغانستان د ارزونې او څیړنې واحد، ۲۰۰۴ کال)،۱۴.

۲۵ د ټاکنو قانون، ۱۲ ماده، لومړۍ فقره. ۴۵، ۴۲ ماده دویمه فقره. ۴۷ ماده.

۲۲ د ټاکنو قانون، ۵۷ – ۵۸ مادې

ټاکنیزو ستونزو، سرغړونو او د ناقانونه کړنو دحل لپاره یې دوه مقررې وضع کړې او د ټاکنیزو شکایتونو د څېړنې لپاره پروسیجرونه رامنځ ته کړل، که څه هم دا کار ډېر وروسته وشو[۲۷]. په پایله کې د د ټاکنو کارکونکیو، کاندیدانو او د هغوی استازو د دغو مقررو په اړه لږ معلومات لرل.

د ۲۰۰۴ کال د ټاکنو په پای کې، د ټولو هغو درغلیو، جعل او سرغړونو د څېړلو لپاره کافي ځوابونونه ورکول د یوه منصفه هیات[۲۸] د را مینځ ته کیدو لامل شو، هغه شکایتونه چې د نوماندانو له خوا مطرح شوی وو وڅیړی او د ټاکنو د تنظیم ګډ کمیسیون ته رپوټ ورکړی دغه هیات د هغو اصلاحاتو وړاندیز وکړ چې شکایتونو ته د رسیدنې لاری چاری غوره والی ومومی[۲۹].

## د ټاکنیزو شکایتونو د کمیسیون د کار پیل: د ۲۰۰۵ کال د ټاکنوقانون

د ۲۰۰۴ کال د ولسمشرۍ ټاکنو پرمهال د ټاکنیزو شکایتونو پر وړاندې ننګونو ته په پام سره، د ا فغانستان د بشري حقونو د خپلواک کمیسیون (AIHRC)، د آزادو او رڼو ټاکنو بنسټ فیفا(FEFA)، د اروپایي ټولنې د څارونکو او ځینو نورو مهمو ټاکنیزو بنسټونو په ګډون د داسې یوه خپلواک بنسټ د جوړیدو وړاندیز وشو، چې ټاکنیزې لانجې وڅیړي.[۳۰] د ټاکنیزو شکایتونو کمیسیون وروسته له هغه رامنځ ته شو، چې د ۲۰۰۵ کال د ټاکنونو په قانون کې تغییرات راوړل شول. د ۲۰۰۵ کال د ټاکنو په قانون کې تر ډیره هغه مقررات را نغاړل شوې وو، چې د ټاکنو دګډ کمیسیون په واکونه کې راوړل شوې وو. د دغه کمیسیون دنده د ټاکنو څارنه وه[۳۱].

د ټا کنیزو شکایتونوکمیسیون د ټولوټاکنیزو سرغړونواوشکایتونو دڅېړلومسوول و. په دغه کمیسیون کې دوه غړي د بشري حقونو د کمیسیون او مدني ټولې له خوا ګمارل کیدل، او درې نړیوال غړي یې په افغانستان کې دملګرو ملتونو د ځانګړي استازي له خوا ټاکل کیدل. دغو غړو یو کس د خپل کمیسیون د مشر په توګه وټاکه. په قانون کې د شکایتونو کمیسیون ته واک ورکول شوی وه، چې د کاندیدانو له خوا ټول ټاکنیز شکایتونو او سرغړونې و څېړي. د شکایتونو کمیسیون دا دنده هم لرله، چې د شکایتونو د څېړلو او حکم صادرولو لپاره تګلارې جوړې کړي[۳۲].

د ۲۰۰۵ کال ټاکنو قانون له خپلو تګلارو نه څو برابره ښه وه. په دغه قانون کې ۱۹ ټاکنیزې سرغړونې په ګوته شوې. په نوو ټاکنیزو سرغړونوکې دغه نوې سرغړونې شاملې وې. په ټاکنو کې درغلۍ یا د رایو شمیرل، په پروسه کې له خپل اغیز نه کاراخیستل، تغییرات، یو دبل پر ځای ګمارل، غلا کول، یا هم له قانوني اسنادو پرته د ټاکنو اړوند اسنادو له منځه وړل، د ټاکنو د کارکونکیو په کارونو کې لاسوهنه کوله، ټاکنیزو درغلیو ته نور خلک هڅول او د ټاکنو اړوندو مقراراتو او یا هم د ټاکنو د پروسې نه سرغړونه کول. [۳۳]د دې ترڅنګ، د ۲۰۰۵ کال ټاکنو قانون دغه کمیسیون ته دا واک هم ورکړی وه، چې که دوی ته څوک رسمي شکایت وکړي، کولای شي دهغه څه په اړه هم پریکړه وکړي، چې دوی یې سرغړونه ګڼي. دغه کار د شکایتونو کمیسیون ته دا اخیتار ورکړ، چې موضوعات په خپل نوښت سره وڅیړي اود ټاکنیزو قوانین دپلې کیدو څارنه وکړي.

د ټاکنیزو سرغړونو پر وړاندې بندیزونو اوسزاګانو کې د خبر داري ورکول، نغدي جریمه کول، د رایو بیا شمیرل، د بیا ټاکنو لاربښوونه کول، له لیست نه د کاندیدانو ایستل، د رایو باطل اعلانول او د لس کلونو لپاره په کمیسیون او یا هم په درالانشا کې له کارکولومنع کول شامل وو. د جرم په صورت کې، د شکایتونو کمیسیون دا حق درلود، چې سرغړوونکی دنورې څېړنې او تعقیب لپاره لویې څارنوالۍ ته معرفي کړي.[۳۴]

۲۷ په دغو دوو مقررو کې یوه یې – د ټاکنو او د رایو د شمیرنې پرمهال د سرغړونو او شکایتونو مقرره وه او دویمه یې د ټاکنو پرمهال د ناقانونه کړنو مقرره وه. دغه دواړه مقررې د ۲۰۰۴ کال د سیپټمر د ۲۵ او د اوکټوبر د دویمې ترمنځ صادرې شوې.

۲۸ د ټاکنو ګډ کمیسیون له ملګرو ملتونوغوښتنه وکړه، چې د دغه هیأت لپاره کارپوهان ونوموي او ۲۰۰۴د کال په ټاکنو کې د کاندیدانو له خوا ثبت شوي شکایتونه وڅیړي.

۲۹ "د افغانستان د ۲۰۰۴ کال د ولسمشرۍ ټاکنو په اړه د ټاکنو د کارپوهانو د پلاوي د بې پرې والي په اړه وروستی رپوټ." (کابل: د افغانستان د ۲۰۰۴ کال د ولسمشرۍ ټاکنو په اړه د کارپوهانو د هیات ناپیلېتوب ۲۰۰۴)

۳۰ " د پارلماني ټاکنو په اړه وروستی رپوټ، ۲۰۰۵" (کابل: د ټاکنیزو شکایتونو کمیسیون، ۲۰۰۶)

۳۱ ټاکنیز قانون، (رسمي جریده، ګڼه ۸۵۰، ماده ۵۷، ۲۰۰۵ کال- ۱۳۸۴ لمریز کال)

۳۲ ټاکنیز قانون،۵۲ ماده، دریمه او څلورمه فقره، ۲۰۰۵ کال

۳۳ ټاکنیز قانون، ۳۵ ماده، ۲۰۰۵ کال

۳۴ ټاکنیز قانون، ۵۴ ماده، ۲۰۰۵ کال

د **۲۰۰۵** کال له ټاکنو وړاندې، د شکایتونو کمیسیون ته نژدې ۱،۱۰۰ شکایتونه رسیدلي وو، چې د **۵۵۷** کاندیدانو کاندیداتورې یې تر پوښتنې لاندې راوستوله. ټاکنو وروسته، ۴۰۰،**۵** نور شکایتونه هم ثبت شول. په ور رسیدلو شکایتونو کې، د کمیسیون لپاره تر ټولو لویې ننګونې هغه شکایتونه وو، چې د کاندیدانو کاندیداتورۍ یې تر پوښتنې لاندې راوستولې، څکه دوی پر جنګي جرمونو، له بشري حقونو نه پر سرغړونې او له ناقانونه وسله والو ډلو سره په تړاو تورن وو. د دریو لاملونو له مخې، د کاندیدانو د ارزونې پروسه بریالۍ نه ښکاریده. لومړی: هغه قانوني چوکاټ، چې له مخې یې باید له وسله والو ډلو سره تړلي کاندیدان له لیسته ایستلې شوي وای، یا هم بشپړه نه شوه او یا هم سم تعریف شوی نه و. دویم: هغه بنسټونه چې دغه پروسه یې پر مخ بیوله، یا یې سرچینې نه لرلې او یا یې ورتیا نه لرله. دریم: افغان حکومت او نړیوالې ټولنې داسې سیاسي اراده نه لرله چې دغه خلک دې په مناسب ډول و ارزول شي.[35] نو له همدې امله، هغو کاندیدانو چې له وسله والو ډلو سره د تړاو تور پرې پورې وه، هغوی هم ټاکنو ته لاره پیدا کړه.

خو له دې سره سره، بیا هم د شکایتونو کمیسیون علاقه لره، چې د کاندیدانو دارزونې لپاره مناسبه پروسه رامنځ ته کړي. خو دغه پروسه، اصلا دمدني ټولنو، د لویې څارنوالۍ او د کورنیو چارو وزارت پر معلوماتو ولاړه وه. هغه یو شمیر قضیې چې د شکایتونو دکمیسیون له لوري پرې فیصله شوې، بیا هم د نورو څیړنې او اقدام لپاره ملي بنسټونو راجع شوې وې.[36] د شکایتونو دکمیسیون لومړنۍ څیړنې ښیي، چې د دغه کمیسیون او نورو اړوندو ادارو لکه ستره محکمه او لویه څارنوالي اړیکې ډیرې نژدې او د همکارانه وې[37].

په مجموع کې د شکایتونو کمیسیون دخپل کار لپاره ګمارل شوی و. خو له دې سره سره، دا د افغانستان په تاریخ کې لومړی ځل وه، چې د ټاکنود اړوندو شکایتونو دڅیړلو لپاره یو ځانګړی کمیسیون ګمارل کیږي. د شکایتونو په کمیسیون کې استثنات ډیر وو او دقانون له مخې دغه کمیسیون ته ډیر مسوولیتونه سپارل شوې وو. که څه هم د ټاکنو په قانون کې دغه کمیسیون واک ته ورکول شوی و، خو بیا هم کمیسیون دشکایتونو د پریکړو لپاره ځانګړې تګلارې نه وې مشخصې کړې. د شکایتونو کمیسیون دتګلارې قاعدې او اخلاقي اصول وضع کړل خو د کارکوونکو د زده کړو لپاره یې ډیر وخت ته اړتیا لرله.[38]

د دې ترڅنګ، د شکایتونو کمیسیون تر ځانګړو محدودیتونو لاندې خپل کارونه پر مخ بیو. دغه کمیسیون له ټاکنو لږ څه وړاندې رامنځ ته شو، نو ځکه یې کارونه په ولایتونو کې د دفترونو کموالي، د سرچینو لږ والي او د ټاکنو کمیسیون پر ولایتي دفترونو باندې تکیې اغیزمن کړل.[39] د قانون له مخې، د شکایتونو کمیسیون د پایلو له ډاډمنیدو **۳۰** ورځې وروسته منحل شو.

د **۲۰۰۵** کال د ټاکنو قانون له مخې د ټاکنو ګډ کمیسیون باید د انتقالي ادارې له پای ته رسیدو وروسته منحل شي او د قانون له مخې یې واکونه باید ټاکنو خپلواک کمیسیون ته ولیږدول شي.[40] خو دولسمشرۍ د یو ځانګړي فرمان له مخې، د ټاکنو ګډ کمیسیون د ملي شورا د لوړې[41] تر مراسمو خپل کار ته دوام ورکړ ځکه فرمان په قانون کې تغییرات راوستل. د انتقالي دولت له پای ته رسیدو د ټاکنو ګډ کمیسیون هم له منځه یوړل شو او له دې سره جوخت د ټاکنو خپلواک کمیسیون رامنځ ته شو. د دغه کمیسیون، چې ټول غړي یې افغانان و او هیڅ بهرنی غړی یې نه درلود دنده درلودی چې، په **۲۰۰۹** کال کې په افغانستان کې د ولسمشرۍ دوهم ځل ټاکنې تر سره.

## د واحدی نه لیږدیدوونکې رایې پر وړاندې ننګونې: د اصلاحاتو لپاره هڅې

کله، چې د **۲۰۰۵** کال ټاکنې پای ته ورسیدې لکه څنګه چه وړاندوینه شوې وه، د واحده نه لیږدیدونکې رایه د نا متجانس او له سیاسی پلون نا منظم پارلمان د رامنځ ته کیدولامل شو. سیاسي ګوندونو ډیرې څوکۍ ترلاسه نه شوای کړی. خو په هغه صورت کې که د ګوندونو پر بنسټ سیستم معرفي شوی وای، نو د ګوند مشرانو دومره رایې ترلاسه کړې وې، چې له مخې یې ملي شورا ته یې ډیرو استازو لاره پیدا کولای شوای. ملي شورا له **۳۲** سلنه اچول شویو رایو څخه جوړه شوی واو که څه هم **۲۸** سلنه رایې د نا

---

۳۵ فاطمه ایوبي، انتونیلا ډیلیډا او پټریشیا ګوسمن: "په افغانستان کې ۲۰۰۹ – ۲۰۱۰ کلونو له ټاکنو درس". (نیویارک: د انتقالي عدالت نړیوال مرکز، ۲۰۰۹).

۳۶ "د **۲۰۰۵** کال د ملي شورا ټاکنو وروستی رپوټ"

۳۷ دغه همکاري د **۲۰۰۵** او **۲۰۰۹** کال د ټاکنو په اړه د شکایتونو دکمیسیون په وروستي رپوټ کې روښانه دی

۳۸ محمد فرید حمیدي، د اړیکو مسوول، ۲۰۱۴

۳۹ ډیویډ انیس، "د افغانستان د ټاکنو د قانوني چوکاټ تحلیل: د ټاکنیزو سیستمونو نړیوال بنسټ،" / http//www.ifes.org/content/Publication white-Papers/2006/Analysis-of-the-Lgal-Electoral-Framework-of Aghanistan.aspx, 2006( accessed 7 February 2014 د ګرانټ کیپن "ټاکنی په ۲۰۰۹ او ۲۰۱۰ کی: په افغانستان کی د ډیموکراسۍ د جوړښت تخنیکی او قرینه ای ستونزی "(د افغانستان د څیړنی او ارزونی اداره: کابل، ۲۰۰۸).

۴۰ ټاکنیز قانون، **۵۲** ماده، **۲۰۰۵** کال.

۴۱ د ټاکنو دګډ کمیسیون د چارواکو د کار پای، د فرمان نمبر ۱۱۰، لومړۍ ماده، ( رسمي جریده، **۸۷۴**ګڼه ، **۲۰۰۲ – ۱۳۸۵** لمریز کال)

موفقو کاندیدانو په ګټه شمار شوې وې.[42] په نتیجه کې، ډیرو داسې فکر کاوه، چې ملي شورا استازولي نه شوای کولای.[43] خو لویو ګوندونو تر یوه بریده وکولای شوای چې د ګوند رایې د جغرافیې له مخې وویشې او په دې ډول یې خپلو غړو ته د ډیرو څوکیو د ترلاسه کوولو لاره پرانیسته خو کوچنیو ګوندونو آن په ملي شورا کې یوه څوکۍ هم ترلاسه نه شوای کړی.

له ټاکنو څو کاله وروسته، د ملي شورا ځینو غړو چې له سیاسي ګوندونو سره یې تړاو درلوده، پریکړه وکړه، چې دغه سیستم بدل کړي. د ټاکنو خپلواک کمیسیون هم په دې کار خوښ و، چې مختلف غوراوي ولري او هڅه یې کوله، چې د رایو د نه لیږد سیستم د ټاکنو له هغه سیستم سره ګډ کړي، چې استازي پکې متناسب وي.

خو که داسې هم نه کیږي، نو یوازې د ټاکنو هغه سیستم دی رامنځ ته شي، چې استازي یې متناسب وي. د ولسي جرګې د تقنیني چارو کمیټې په ۲۰۰۷ کال کې د ټاکنو د قانون لپاره بله فرعي کمیټه جوړه کړه. په رایو کې د کمښت له امله را پورته شویو ناخوښیو ته په پام سره، دغه کمیټه د دې لپاره وګمارل شوه، چې تیرې ټاکنې و ارزوي، نور ټاکنیز سیستمونه هم مطالعه کړي او بیا داسې سیستم رامنځ ته کړي چې په ټاکنو کې د سیاسي ګوندونو ونډه یقیني کړي. دغې کمیټې د خپل کار پر مهال بیلا بیل ټاکنیز سیستمونه وکتل، په مختلفو چوکاټونو کې یې هر سیستم مطالعه کړ، له نړیوالو او کورنیو کارپوهانو سره یې له نژدې خبرې وکړې، او د پارلمان دغړو په ګډون یې، له سیاسي ګوندونو، قانون پوهانو، نړیوالو اوملي بنسټونو او له نورو اړوندو چارواکوا سره چې له ټاکنو سره ښکیل وو، پراخې سلا مشورې وکړې. بالاخره د غې جرګه ګۍ د داسې یوه ګډ سیستم وړاندیز وکړ، چې یوازې سل څوکۍ په ټاکنو کې سیاسي ګوندونو ته ځانګړې شوې وې.

کله چې دغې جرګې د خپلې[44] طرحې لپاره له ولسي جرګې نه د راتلونکو ټاکنود قانون لپاره د رایې غوښتنه وکړه، په غیر اټکلي ډول د حزب وحدت مردم، ملي محاذ، حزب اسلامي، د اسلامي دعوت تنظیم، افغان ملت او اقتدارملي ګوندونو ډیرواستازو د دغه ګډ سیستم دطرحې مخالفت وکړ.[45] نورو خپلواکو استازو او د کوچنیو ګوندونو غړو دغه طرحه له دې امله رد کړه، چې ګوندې ښایي دغه ډول سیستم یوازې د سیاسي ګوندونو رامنځ ته کیدو ته لاره پرانیزي چې د کورنیو جګړو او جهاد د بهیر یوه برخه او د کورنیو جګړو مسوول دي او په دې سره به پارلمان تر خپل واک لاندې راولي.

دا چې ولې په ولسي جرګه کې (آر پي) یا د متناسب استازولۍ د ټاکنو سیستم رد شو، یوازې یې لامل په تیر وخت کې په افغانستان کې د سیاسي ګوندونو د اعتبار کمزوری نه وه. که چیرې دغه قانون تصویب شوی وای، نو له جغرافیایي پلوه به یې هم استازي اغیزمن کړې وو، او ډیرو به په ولایتونو کې خپلې څوکۍ له لاسه ورکړې وې. سیاسي ګوندونو ته د ۱۰۰ څوکیو ځانګړي کیدلو به دا معنا لرلې وای چې لږ تر لږه سلو استازو به په راتلونکو ټاکنو کې د سیاسی ګوندونو په ګټه رایه ورکوله او په عین حال کې په پارلمان کې د حکومت پلوی غړو، د حکومت دریځ تعقیباوه او له دی مسودې سره په مخالفت کې وو، په دی توګه یی د قوی سیاسی ګوندونو او په راتلونکو ټاکنو کې د یو قوی پارلمان د رامنځ ته کیدو مخه ونیوله.[46] کله چې د دغه قانون طرحه بشپړه شوه او رایه اچون ته چمتو شوه، نو جرګه ګۍ د کوچیانو له استازو سره کوچیانو ته د ځانګړو شویو څوکیو او انتخاباتي حوزې په اړه په لانجه کې کیوتله.[47] دا مسله خورا جنجالي شوه او په پارلمان کې دغه بحث په ټپه ولاړ حالت ته ورسید.

## د ۲۰۰۹ کال ولسمشریزې ټاکنې: د ټاکنیزو شکایتونو کمیسیون او د درغلیو ننګونې

د ۲۰۰۵ کال د ټاکنو له قانون نه چې په ډیر اندکې مواردو کې تعدیل شوی و او هغه وضعیت یی چې یو کاندید یا د پارلمان غړی مړشی – تشریح کاوه؛ په ګټې اخیستنی سره تر سره شول.[48] د ۲۰۰۹ کال په ټاکنو کې د دواړو کمیسیونونو واکونه جوړښت له تغییر پرته په خپل حال پاتې شول.

---

۴۲ رینالډ او کیرې، "دافغانستان د ټاکنود سیستم رغول."

۴۳ صالح محمد ریګستاني، (د ملي شورا پخوانی غړی)، فبروري، ۲۰۱۴

۴۴ په لومړي سر کې دغه قانون د مسودی بڼه لرله چې ولسي جرګې جوړه کړې وه. نو د تګلاې له اصولو سره سم باید پر مسودی په ۳۰ ورځو کې بحث شوی وای. د دې لپاره خبره باوری شی چې لږ تر لږ د دغه قانون پر یوه برخه یو ځل تر بحث لاندی شوی ده نو د قانون مسوده د رایو لپاره عمومي غونډې ته راوړل شوه. جرګې ته دا روښانه وه، چې دغه مسوده لا ډیر کار ته اړتیا لري نو له همدې امله په رسمي ډول سیستم د رایه اچونې لپاره یو نه وړل شوه.

۴۵ د ریګستاني دمعلوماتو له مخې، ډیرو مشرانو ځکه دغه وراندیز رد کړه، چې دوی له دغه بهیر نه خبر نه و. دولی له ګوندونو سره په تماس کې و خو مخامخ یې د هغوی له مشرانو سره خبرې نه وې کړې. که څه هم په لومړیو کې دوی دغه مسوده رد کړه خو وروسته یې په اکثریت سره د ګډ سیستم ملاتړ وکړ.

۴۶ ریګستاني، ۲۰۰۴

۴۷ کوچیان د افغانستان هغه وګړي دي، چې کورونه یې تل پر یوه ځای نه وي. د افغانستان د ۲۰۰۴ کال اساسي قانون د ۴۸ مادې له مخې ولسمشر باید د مشرانو جرګې په ۳۴ انتصابي غړو کې دوه څوکۍ کوچیانو ته ځانګړې کړي. خو په ولسي جرګه کې بیا کوچیانو ته لس څوکۍ ځانګړې شوې دي او دهغوی لپاره یې ځانګړې انتخاباتي حوزه په پام کې نیولې. همدغه کچه د ۲۰۱۰ کال د ټاکنو په قانون کې هم راغلې ده. د نورو معلوماتو لپاره د فبریزو فوچینو "د افغان کوچیانو ټولنیزه سرګرداني: بدلیدونکی نخښې، پوهیدنه او د افغان ټولنی سیاست وګوری" (کابل: د افغانستان د تحلیل ګرو شبکه، ۲۰۱۳).

۴۸ د ټاکنیز قانون، د ۳۷ مادې په ۴، ۵ او ۳ مه فقره کې تغیرت، د فرمان نمبر، ۱۱۹( رسمي جریده، ګڼه ۸۴۷)، ۲۰۰۴ – ۱۳۸۳

که څه هم، د ټاکنیزو شکایتونو کمیسیون د ۲۰۰۹ کال په ټاکنو کې د ۲۰۰۵ کال د ټاکنو په پرتله له لویو ننګونو سره مخامخ شو. د ۲۰۰۹ کال د ټاکنو پرمهال دشکایتونو کمیسیون د زرګونو شکایتونو او درغلیو د مسودې څېړنو په تړاو د بې پریو والي او ژمنتیا له کبله وستایل شوه. د دغو شکایتونو د څېړنې پرمهال د شکایتونو کمیسیون د دې اړتیا درک کړه، چې د رایو په ډېرو محلونو کې دې رایې له سره و ارزول شي او یادې بیا وشمېرل شي. د شکایتونو کمیسیون د ټاکنو له خپلواک کمیسیون سره په ګډه د رایو د ارزونې پروسه بشپړه کړه چې په پایله کې یې په لوی شمیر رایې باطلې کړې، په ځانګړي ډول هغه رایې چې ولسمشر کرزي ته اچول شوې وې. د ټاکنو له پایلو معلومه شوه، چې هیڅ کاندید ۵۰ سلنه جمع یوه رایه پوره نه کړه او ټاکنې دویم پړاو ته وغځېدې. د دغه بهیر په اوږدو کې د شکایتونو کمیسیون دحکومت ترسختو فشارونو لاندې راغی. په ځانګړی ډول، پر دغه کمیسیون داسې تور پورې شو، چې د بهرنیانو تر اغیزی لاندې دی. په همدغه وخت کې حکومت[49] د شکایتونو د کمیسیون له کمیشنرانو څخه یو یې له دندې استعفا ته وهڅاوه.[50] خو له څو ورځو وروسته هغه بیرته له کمیسیون سره یوځای شو.

## د ټاکنیزو شکایتونو د کمیسیون بیا رغونه: د ۲۰۱۰ کال د ټاکنو قانون

د ۲۰۱۰ کال ټاکنو قانون، چې باید د ملي شورا ټاکنې یې له مخې ترسره شوې وای، پارلمان تصویب نه کړ، ځکه ولسمشر کرزي ادعا کوله چې دغه قانون د پارلماني اصولو له مخې، په وروستي کال کې ولسي جرګه نه شي تصویبولی.[51] ولسمشر کرزي د اساسي قانون په ۱۰۹ مادې تکیه کوله. په دغه ماده کې راغلي، چې ملي شورا په خپل وروستي کال کې نه شي کولای چې د ټاکنو اړوند طرحې په خپله اجنډا کې ونیسي.[52] د اساسي قانون له مخې، دولسمشر کرزي خبرې سمې وې. خو له سیاسي پلوه ولسمشر دا واک هم درلوده، چې د پارلمان له تصویب نه تیر شي اوپو نوی قانون د ولسمشرۍ د ځانګړي فرمان له مخې له توشیح کړي او د شکایتونو دکمیسیون جوړښت برابر کړي.

د ۲۰۰۹ کال د ټاکنو پرمهال دشکایتونو کمیسیون له کارونونه ولسمشر کرزي راضي نه ښکاریده. نو له همدې امله د ولسمشرۍ فرمان د شکایتونو کمیسیون د رامنځ ته کیدو په اړه یوه عمومي او مبهمه ماده رامنځ ته کړه، چې د کمیسیون د غړو د ټاکلو صلاحیت یې د ولسمشر په واک کې ورکړ.[53] له لومړي سر دا پریکړه شوې وه، چې د کمیسیون ټول غړي به افغانان وي. خو بیا هم د سترې محکمې او د افغانستان دبشري حقونو د خپلواک کمیسیون له خوا یو یو کاندید ور پیژندستر لرې کړای شوی و. د نوې تګلارې له مخې ولسمشر د ملي شورا د دواړو جرګو له مشرانو او قاضي القضات سره په مشوره دغه پنځه غړي وټاکل. همدارنګه دشکایتونو د کمیسیون د ولایتي غړو ګمارنه هم ومنله. کله چې دغه فرمان صادر شو، پر ولسمشر د نویو ګمارنو په میکانیزم کې د لا نور تغیر لپاره فشارونه ډیر شول. هغه د ملګرو ملتونو د استازولي-یوناما هغه طرحه ومنله، چې د کمیسیون په پنځو غړو کې به دوه بهرني غړي وي او درې به یې افغانان وي. کله، چې ګمارنې وشوې، په افغان غړو کې د سترې محکمې یو استازی و خو د بشري حقونو د خپلواک کمیسیون غړی ترې ایستل شوی و. د شکایتونود کمیسیون لپاره په نویو ټاکل شویو غړو کې یوه یې هم د ټاکنو د څارنې او یا هم د شکایتونو دڅیړنې پخوانۍ تجربه نه لرله.

په دغه قانون کې یوه مهمه ځانګړنه دا وه، چې د شکایتونود ولایتي کمیسیونونو جوړیدل پکې راغلي وو، چې په ولایتي کچه قضیې وڅیړي. هغه شکایتونه، چې په ولایتونو کې څیړل شوي وو، د بیا کتنې لپاره مرکزي کمیسیون ته استول کیدل. وروسته له هغه، چې د ټاکنو پایلې جوتې شوې، په دوو میاشتو کې دننه دننه دواړه -هم مرکزي او هم و لایتي کمیسیونونه لغوه شول او د دوی واکونه د ټاکنو خپلواک کمیسیون ته ولیږدول شول. د واکونو په لیږد کې د مقررو مبهموالي او د مشخصوالي نشتوالي په عمل کې ګڼې ننګونې راپورته کړې.د بیلګې په ډول، دغه کار په پایلو کې تغییرات راوستل او د ټاکنو کمیسیون په داخل کې د ګټو تضاد راپورته کړ، په ځانګړي ډول په هغه بنسټونو کې چې دشکایتونو کمیسیون باید د ټاکنو دکمیسیون دکارکوونکو دسرغړونو په اړه وروستۍ پریکړه کړې وای. دغه قانون له وړاندې ځینې نور شیان هم د سرغړونو په ډول پیژندلې وو، چې دشکایتونو دکمیسیون په تګلارو کې شامل دي. د بندیزونو او سزاګانو برخه له پخواني قانون سره ورته وه. د شکایتونو کمیسیون په ټاکنو کې مهم رول ولوباوه او ۷،۸۲۳

۴۹ هغه غړی چې استعفا یې ورکړې وه، مصطفی بارکزی نومیده، چې شکایتونو کمیسیون ته د سترې محکمې له خوا ور پیژندل شوی و.

۵۰ احمد فهیم حکیم، (د شکایتونو دکمیسیون غړی، پخوانی کمیشنر، ۲۰۰۹) فبروري، ۲۰۱۴.

۵۱ د کړکیچ نړیوالې ډلې ریپوټ ورکړ، چې ولسي جرګې دغه فرمان له وړاندې رد کړی و، "خو کله چې دغه فرمان مشرانو جرګې ته ورسید، هلته چې ولسمشر کرزی د پام وړ واک لري، ډیری سناتورانو په دې پریکړه وکړه، چې پارلمان په دخپل دور په وروستي کال کې حق نه لري چې د ټاکنو قانون تغیر کړي، یایې بدل کړي او یا هم پرې بحث وکړي. نو ځکه دغه فرمان په خپل پخواني حالت سره ومنل شو." "د کړکیچ نړیواله ډله، ۲۰۱۱، بروکسل"

۵۲ د افغانستان داساسي قانون، ۱۰۹ ماده، ۲۰۰۴ کال.

۵۳ د ۲۰۱۰ کال د ټاکنو قانون ۲۱ ماده وایي: "ولسمشر به د ولسي جرګې او مشرانو جرګې له مشرانو او د ستر ی محکمې له مشر سره په سلا مشوره د شکایتونو د ارزولو او درغلیو د څیړلو لپاره په مرکز او ولایتونو کې د ټاکنیزو شکایتونو کمیسیونو نه جوړوي. دغه کمیسیونونه له ارزونې وروسته خپلې پریکړې اعلانوي. دغه کمیسیونونه به لږ تر لږه ۱۲۰ ورځې له ټاکنو مخکې ټاکل کیږي. "

شکایتونو ننګونې وڅېړل. د کمیسیون دکارونو په پایله کې ۱۲۰ کاندیدان له لیسته وایستل شوه، ۳۴۴ د رایو محلونو نه باطل شول وې او د ځانګړو کاندیدانو ټولې اویا هم یوه برخه رایې باطلې شوې.[۵۴] خو له دې سره سره لا هم د کمیسیون د کارونو د تګلارو په اړه ډیرې پوښتنې بې ځواب پاتې وې ، لکه د رایو د باطلولو معیارونه. داسې ښکاریده، چې دتګلارو په غوره کیدو کې د ټاکنو د دواړو کمیسیونونو ترمنځ همغږي لږه وه. د دواړو کمیسیونونو ترمنځ یوه مهمه جنجالي موضوع دا وه، چې دواړو کمیسیونونو د رایو د باطلولو لپاره له معیارنو څخه بیلا بیل پوهاوی درلوده. د ټاکنو کمیسیون غوښتنه کوله، چې یواځې هغه رایې دې باطلې اعلان شي، چې کاندید د ته درغلیو له لارې ورکول شوې وي، خو د شکایتونو کمیسیون بیا ټینګار کاوه چې د دغه ډول کاندیدانو ټولې رایې باید باطلې اعلان شي او کاندید دې هم د بریالیو نوماندانو له لیست نه وایستل شي.

## ۳.۳ په افغانستان کې د واک تفکیک او د قانون پلي کېدل

اوس په نړۍ کې نژدې هر هیواد اساسي قانون لري. د یوه اساسي قانون له مخې دیموکراسۍ د قانون حاکمیت او د اساسي قانون مشروطه حاکمیت ته اړتیا لری.د مشروطه حاکمیت له هغو قواعدو څخه عبارت دی ، چې د بنسټیزو قوانینو په واسطه یې د نظام واک تعریف کړی او ددی صلاحیتونو حدود ټاکی[۵۵]. د مشروطه حاکمیت اهداف باید تل د قانون د حاکمیت، د حکومت پر واکونو باندې د محدودیتونو وضعه کولو او د اساسی حقونو د ساتنې او حفاظت ملاتړ ي وي.[۵۶] نو د مشروطیت اصول د حکومتي چارواکو دشخصي پریکړو خلاف د قانون دحاکمیت ملاتړ کوي. دا د شخصي سلیقو پرځای دقانوني حکومت شته والی ډاډمنوي. [۵۷] دقانون حاکمیت لازمه ګڼی، چې قانون باید عام وي او په ټولو یو شان پلی شي، روښانه او ثابت وي، د راتلونکی لپاره اغیزمن وي، نه د تیر لپاره، باید ثابت وي، قوانین باید داسې وي، چې پلې کیدل یې امکان ولري... د دغو ځانګړنو په شته والي کې قوانین خپله کاری اغیزمنتیا لري. [۵۸]

په افغانستان کې د مشروطه حاکمیت د دوام لپاره ډیره مهمه ده چی د دندو په اجرا کی صلاحیتونه مشخص او داسی تفکیک شوی بنسټونه وجود ولری چی هغه عملی کړي: په بله ژبه، ملي شورا قوانین جوړوي، اجراییه قوه یی عملي کوي او قضایي قوه یې تفسیروي. دا کار په خپله اجرایوي کار ته اړتیا لري چې له قانونه خپل واک واخلي او بیا په اغیزمن ډول و ازمایل شي. خو په افغانستان کې، همغسې چې په دې څېړنه کې تشریح شوي، د ډیرو حکومتي ارګانونو واکونه له یو بل نه نه دي بیل شوي. د یوه ارګان له خوا ، په اساسي قانون کې له راغلو واکونونه د ډیر واک کارول په ځانګړي ډول داجرایوي قوې له خوا ، په دغه هیواد کې د مشروطیت د اصول پرخلاف ګواښونه راپورته کړې دي.

د کارونو ویش او په ولایتونو کې دبنسټونو خپلواکي لازمي بلل کیږي. باید داسې لارې چارې او محدودیتونه رامنځ ته شي، چې له مخې یې یو بنسټ د بل بنسټ په کارونو کې مداخله ونه کړي. د واکونو دغه ډول ویش دې ته لاره برابروي، چې دولتي بنسټونو کې توازن رامنځ ته کړي.

هغه څه، چې د ۲۰۱۰ کال په ټاکنو کې پیښ شول، د دې کمزورۍ نښه بلل کیږي، چې په افغانستان کې واکونه داسې ویشل شوي، چې د مشروطیت اصول او د قانون حاکمیت په یوه قانوني حکومت کې له ګواښ سره مخ کوي. د نظارت د یوې غښتلې او قوي ارګان په توګه د پارلمان بې اغیزتوب او اجراییه قوې ته د قضاییه قوې یو ډول غاړه ایښودنه، او د اساسی قانون پر بنسټ د اجراییه قوې په وړاندې د نورو قواوو له خوا مصلحت منې، اجراییه قوې ته دا وړتیا او امکان ورکړی چې په ډیرو مواردو کې د اساسي قانون له چوکاټ څخه بهر عمل وکړي.

په اغیزمن ډول د واک تفکیک لپاره اړینه ده، چې مقننه قوه سم کار وکړي. پیاوړی پارلمان، چې د څارنې واک ولري خورا مهم دی. په ټوله کې دافغانستان پارلمان، چې دخلکو[۵۹] استازولي کوي، تل یې د ولسمشر پر کارونو د څارنې څرګندونه نه ده کړې او نه یې هم پریکړې تل سمې دي. په حقیقت کې ولسمشر پر مقننه قوه پراخ واک لري ځکه د ولسي جرګې د اوسني مشر په ګډون ډیر ولسي استازي مهارتونه او تجربې نه لري. خو د پارلمان غړي باید له اساسي قانون سره سم، خپلې دندې سرته ورسوي. داساسي قانون مطابق اوسني واکونه، په ځآنګړي ډول د ولسمشر احضارول پارلمان ته د ولسمشرۍ مسوولیت منل محدودي. خو له دې سره سره، افغانستان په اوږدمهال کې داسې پیاوړي پارلمان ته اړتیا لري، چې دا جراییه قوه د واکونو په تناسب او ارزولو کې مهم رول ولري.

۵۴ " د افغانستان د ۲۰۱۰ کال د ولسي جرګې ټاکنې" ( کابل: د دیموکراسۍ ملي انسټیټوټ، ۲۰۱۱ )

۵۵ ډون اي. فیهرینباچر، په جنوب کې دغلامانو ساتل په اساسي قوانین او د مشروطیت اصول (اتنز، جي ای : جورجیا پوهنتون ۱۹۸۹)، ۱

۵۶ عبدالحی، انعامي، د افریقا د مشروطیت اصول اود اسلام رول: پینسلوانیا پوهنتون، ۲۰۰۶.

۵۷ بي. او نوابوزي، په بیړنیو حالاتو کې د مشروطیت اصول (لندن: سي هرسټ او کمپني، ۱۹۷۳)، ۱

58 یاسو حیسبي، او سیسار پینالي " لومړی فصل، اساسي قوانین،"

۵۹ د افغانستان اساسي قانون، ۸۱ ماده، ۲۰۱۴.

له بل لوري، په یوه ولسواکه ټولنه کې، هلته چې د وګړو د بیان ازادي خوندي وي، دقضا خپلواکي هم خورا مهمه ده. خود قضا خپلواکي ته لوی ګواښ د قانون حاکمیت ته نه درناوی دی. دبشري حقونو نړیوالې اعلامیې، د سیاسي او مدني حقونو نړیوال کنوانسیون (CCPR)او نورو نړیوال محکمو [۲۰] د قضا خپلواکي په رسمیت پیژندلې ده. د ملګرو ملتونو عمومي شورا د یوې پریکړې له مخې د قضا دخپلواکۍ اساسي اصول منلې دي. د بن په غونډه کې هم په [۲۱] افغانستان کې د قضا د خپلواکۍ پر مهمو والي ټینګار شوی دی.

که څه د افغانستان اساسي قانون قضاییه قوه یو خپلواک رکن بللی خو داسې لړۍ مقرري شته، چې د دغې قوې د خپلواکۍ ضمانت کوي. په اساسي قانون کې نه یواځې دا چې ولسمشر د ستري محکمې غړي ټاکي او ملي شورا ته یې د تایید رایو د تر لاسه کولولپاره وړپیژني، بلکې دا واک یې هم ورکړی چې د قضا په غړو کې څوک قاضي القضات وټاکي. د دې تر څنګ ولسمشر دا اختیار هم لري، چې په ټیټه کچه قاضیان مقرر کړي او یا یې له دندې ګوښه کړي. په افغانستان کې د قضا تر ټولو ستر ارګان دی خو دغه ارګان نه شي کولای چې ولسمشر او یا هم د هغه کابینې غړی محاکمه کړي. د قضا هغه دنده ده، چې اساسي قانون یې تفسیراوه، له ننګونو سره مخامخ دی څکه هغه ژبه چې د ولسمشرۍ د دفتر له خوا په[۲۲] طرحه کې کارول شوې، خورا ګونګه ده. ستره محکمه د قضایي څېړنې واک لری خو میکانیزم نه لري. د قضا بودجه د اجرایوي مشر په سلا مشورې برابرېږي خو دقاضیانو معاش پکې کم دی او د سرپنا او امنیت لپاره یې هم څه په پام کې نه دي نیول شوي. ولسمشر د قانون له مخې د اعدام دحکم، د جزا د تخفیف او یا هم دعفوې کولو واکونه لري خو ولسمشر تر اوسه دغه واک د فرمانونو له مخې، چې روښانه قانوني وضاحت نه لري، پر مخ بیایی[۲۳].

په عمل کې ډېر داسې ګامونه پورته شوي، چې قضا اجرایوي څواک ته محتاجه پاتې شي. په ځانګړې ډول، هغه مهال چې ولسمشر کرزي د ستري محکمې غړي له وړاندې وټاکل. دغه غړي د څلورو، اوو او لسو کلونو لپاره ګمارل کیدل. خو هغه دغه ګمارنې په قضا کې دخپل اغیز لپاره وکارولې. د بېلګې په ډول ولسمشر د قاضي القضات په توګه داسې یوڅوک د څلور کلونو لپاره وګماره، چې دهغه د ډلې [۲۴] پخوانی باوري سړی و. داسې اټکل کیږي، چې د ستري محکمې د مشر د اوسنۍ دورې له پوره کیدو وروسته نبایي هغه دحکومت په کومه بله مهمه دنده هم وګمارل شي، څکه دی ولسمشرته نژدې سړی پاتې شوی. د اټکل خلاف، سره له دې چې د ۲۰۱۰[۲۵] کال جون به میاشت کې د ستري محکمې د مشر څلورکلنه دوره پای ته ورسیده ، ولسمشر د معیارونو پر خلاف هغه د ستري محکمې د سر پرست مشر په توګه وټاکه. نو له همدې امله د ستري محکمې اووه نیم کاله کیږي، چې په واک دی او دغه موده په اساسي قانون کې له ټاکل شوې مودې نه نژدې درې نیم کال ډیره ده [۲۶]. دې کار د دې ارزښت نه درلود، چې پر اساسي قانون د تطبیق د څار کمیسیون په دې اړه خپل نظر ورکړی او دغه نظر نه یواځې دا چې له اساسي قانون سره د دغې مودې د غځیدو په اړه یې اړخ نه لګاوه بلکې دقاضي القضات او دوو نورغړو سرپرستي، چې غځول [۲۷] شوې وه، هم و ننګوله.

نو په افغانستان کې، دې ته په پام سره چې بنسټونه جوړښتي عیبونه لري اوهمدارنګه اوسنی سیاسي معضلې محدودیتونه هم دي، نو قضا د اجرایه څواک له خورا ډیرو بې مورده اغیزو قرباني پاتې شوې ده.

---

۲۰ " د قضا د خپلواکۍ په اړه د ملګرو ملتونو هغه اساسي اصول وګورئ،" چې د قضا په اړه یې وضع کړې دي.
http//:www2.ohchr.org/english/law/indjudiciary.htm, 1985 (accessed 12 February 2014).

۲۱ د جزییاتو لپاره، د رامین موسچتغي هغه کتاب ولولې، چې د افغانستان محکمې یې له اساسي قانون او نړیوالو قوانینو سره پرتله کړې دي. ( کابل: د مقایسوي عمومي قوانینو په اړه د مکس پلنکي انسټیټوټ، ۲۰۰۹)

۲۲ د اساسي قانون ۱۲۱ ماده وایي: "له اساسي قانون سره د قوانینو، تقنیني فرمانونو، بین الدول معاهدو او بین المللي میثاقونو د مطابقت څېړل، د حکومت یا محاکمو په غوښتنه د هغو تفسیر دقانون له حکمونو سره سم د ستري محکمې کار دی." همدارنګه د جان ډیمپسي او جې الکسنډر هغه کتاب وګورئ چې دافغانستان داساسي قانون د تفسیر د بحران دحل په اړه لیکلی دی. (واشنګټن ډي سي: په امریکا کې د سولې بنسټ، ۲۰۰۹ )

۲۳ د افغانستان اساسي قانون، دریيم فصل، : "ولسمشر". اووم فصل، "قضا."

۲۴ د ستري محکمې د مشر عبدالسلام عظیمي د نشر شوې بیوګرافۍ د معلوماتو له مخې، هغه له خپلې اوسنۍ وظیفې وړاندې د ۲۰۰۴ او ۲۰۰۲ کلو ترمنځ د ولسمشر د لوړ پوړي قانوني سلاکار او قضایي او عدلي بورډ د مشر په توګه پاتی شوی دی.

۲۵ " د ستري محکمې د سرپرستو غړو، ړ سرپرستو وزیرانو او سرپرست لوی څارنوال په اړه قانوني نظر پوښتنه، یورډ بوک،" ۱۳۹۰، ۳۷ : کابل، د اساسي قانون پر پلې کیدو دڅار کمیسیون، ۲۰۱۱ )

۲۶ د ستري محکمې مشر خپل وظیفه د ۲۰۰۲ کال په جون میاشت کې پیل کړه، او له ټاکل شویو څلورو کلونو وروسته یې باید د ۲۰۱۰ کال په جون کې د دی ځای ناستی ټاکل شوی وای. خو د ولسي جرګې له تایید پرته دهغه موده نژدې درې نیم کاله وغځیده.
http://supremecourt.gov.af/fa/page۲۱۲(accessed March ۲۰۱۴).

۲۷ "د ستري محکمې د سرپرستو غړو، سرپرستو وزیرانو او سرپرست لوی څارنوال په اړه قانوني نظر پوښتنه،" یورډ بوک، "۱۳۹۰، ۳۷ : کابل، د اساسي قانون پر پلې کیدو دڅار کمیسیون، ۲۰۱۱ )

# ۴. د ۲۰۱۰ کال پارلماني ټاکنې

## ۴.۱ یو کلن کړکیچ: د پېښو تاریخ

| | |
|---|---|
| ۲۰۱۰ | |
| د سپټمبر ۱۸ مه | د ملي شورا ټاکنې وشوې |
| د سپټمبر ۲۳ | لومړنۍ پایلې اعلان شوې |
| د اکټوبر ۱۰ | د بریالیو کاندیدانو لومړنی فهرست اعلان شو |
| د نومبر ۲۴ | له غزني پرته د ټاکنو بشپړې وروستۍ پایلې اعلان شوې |
| د ډسمبر لومړۍ | د غزني ولایت وروستۍ پایلې اعلان شوې |
| د ډسمبر ۲۲ | د ټاکنو څېړلو ځانګړې محکمه جوړه شوه |
| ۲۰۱۱ | |
| د جنوري ۱۹ | د ټاکنو لپاره د ځانګړې جوړې شوې محکمې مشر د څېړنو د تکمیل لپاره د یوې بلې میاشتې اضافي وخت غوښتنه وکړه |
| د جنوري ۲۰ | د ټاکنو۲۳ تنو بریالیو نوماندانو سره وکتل او پریکړه یې وکړه، چې د جنورۍ په ۲۳ به د ولسمشر له پرانیستې پرته پارلمان ته ننوځي |
| د جنورۍ ۲۲ | ولسمشر کرزي ملي شورا پرانیسته |
| د جنوري ۳۱ | د ټاکنو د قانون له مخې د شکایتونو کمیسیون لغوه شو |
| د فبرورۍ ۱۹ | ولسمشر کرزي مشرانو جرګې ته ۳۴ انتصابي غړي وروپېژندل |
| د مارچ ۲۲ | ولسي جرګې لوی څارنوال استجواب کړ او بیا یې دهغه د استیضاح غوښتنه وکړه |
| دجون ۲۳ | د ټاکنو ځانګړې محکمې خپلې وروستۍ پریکړې اعلان کړې |
| د جون ۲۲ | ولسي جرګې د سترې محکمې قاضیان استجواب ته وروغوښتل او بیا یې دهغوی د استیضاح غوښتنه وکړه |
| د اګسټ ۴ | استیناف محکمې د ټاکنو د ځآنګړې محکمې پریکړې تایید کړه |
| د اګسټ ۱۰ | د ټاکنو ځانګړې محکمه منحل شوه او د وروستۍ پریکړه واک د ټاکنو خپلواک کمیسیون ته وسپارل شو |
| د اګست ۲۱ | د ټاکنو کمیسیون نهه، نوي غړي بریالي اعلان کړل |
| د سپټمبر ۳ | د پارلمان نهه تنو غړو د وفا دارۍ لوړه وکړه |

## ۴.۲ د ۲۰۱۰ کال د پارلماني ټاکنو بیا کتنه

د اساسي قانون دفقرو له مخې، د ملي شورا ټاکنې باید د ۲۰۱۰[۲۸] کال په می میاشت کې تر سره شوې وای. خو ټاکنې ان سیپټمبر ته وځنډول شوې او مهم لاملونه یې ناامني، د بودجې کموالی او لوجیستکي ننګونې بلل کیدې. په دغو ټاکنو کې د افغانستان د ولسي جرګې ۲۴۹ څوکیو ته له ۳۴ ولایتونو څخه ۲۵۰۲ [۲۹] کسانو ځانونه کاندیدا کړې وو.

دا چې د ۲۰۱۰ کال پارلماني ټاکنې د ۲۰۰۹ کال د ولسمشرۍ له لانجمنو ټاکنو نژدې یو کال وروسته وشوې، نو د افغانستان د ټاکنو په تاریخ کې دغه ټاکنې د پرمختګ یوه نښه بلل کیده. که څه هم د ۲۰۱۰ کال د ټاکنو بهیر په کې د روڼوالي او د حکومتي بنسټونو له خوا د لاسوهنو پراخې اندېښنې راپورته کړې. دغه ډول لاسوهنې دافغانستان راتلونکې ډیموکراسۍ ته جدي ګواښونه مخامخولی شي، ځکه په دغه هیواد کې له وراندې سیاسي ثبات نازک دی.

د ۲۰۰۹ کال د ولسمشرۍ او ولایتي شوراګانو ټاکنو د دغه هیواد په سیاسي حالت باندې ژور اغیز پرې ایست. په داسې حال کې چې له دغو ټاکنو وروسته په افغانستان کې د پارلماني ټاکنې کیدونکې وې، خلکو پر دغه بهیر لږ باور درلود ځکه په تیرو ټاکنو کې د پراخو درغلیو، د حکومتي لاسوهنو، فساد، د چارواکو له خوا له واک نه د ناوړه ګټه اخیستنې او پرلپسې ناامنیو ګواښونو ادعاوې کیدې.

سره له دې چې سیاسي چاپیریال کړکچین و، خو بیا هم افغانانو د ولسي استازو د ټاکلو لپاره په رای اچونې کې برخه واخیسته. د دې ترڅنګ، چې دټاکنو له بهیره خلک سترې ښکاریدل، امنیتي ګواښونه هم د دې لامل شول چې په ټاکنو کې د خلکو ګډون [۷۰] کم وي.

۲۸ د افغانستان اساسي قانون، ۸۳ ماده، ۲۰۰۴ کال

۲۹ مارک ټران، "د افغانستان ټاکنې وځنډېدې." کارډین، جنوري ۲۴، ۲۰۱۰

۷۰ د آی، دي، اي، اې د نړیوال رپوټ له مخې، د ۲۰۱۰ کال په پارلماني ټاکنو کې د ۲۰۰۵ کال د ولسمشرۍ ټاکنو په پرتله نژدې ۲ عشاریه یو میلیونو ډیرو خلکو رایه اچولې وه." Voter Turnout Data for Afghanistan "

http://www.idea.int/countryview.cfm?id=۴ (accessed March ۲۰۱۴)

## ۴.۳ ټاکنیزې درغلۍ

په داسې حال کې، چې د قانوني چوکاټ له مخې د ټاکنو کمیسیون ته د چمتووالي لپاره یواځې نهه میاشتې پاتې وې، د ټاکنو قانون د ۲۰۱۰ کال په فبرورۍ کې تصویب شو. خو له دې سره سره د ټاکنو د کمیسیون نوي مشرتابه ته لارښوونه شوې وه چې د شفایت لپاره خپلې هڅې ډیرې کړي. دغه پرمختګونه د ځو ځانګړکسانو له خوا کیده خو په دې کار سره د بنسټونو اوږد مهالي اصلاحات په شک کې واچول شول.[71] سره له دې، چې دټاکنو د کمیسیون په ګډون نورو ټاکنیزو بنسټونو پرمختګونه رامنځ ته کړل، خو تیرو ټاکنو ته په پام سره عامو وګړو دا درک درلود چې سم کارونه نه دي ترسره شوي.

د ۲۰۱۰ کال په پارلماني ټاکنو، د ټاکنیزو بهیرونو په اړه د عامه پوهاوي کچه خورا لوړه وه، او په پایله کې خلکو داسې تمه کوله چې دغه پروسه به سمه پلې شي. د ټاکنو کمیسیون دغو هیلو ته په ټاکنو کې د شته تګلارو په تقویه کولو سره د ټاکنو د شفافیت ځواب ورکړ. په حقیقت کې د ټاکنو کمیسیون روښانه کړه، چې د ټاکنو د ځنډیدو یو مهم لامل دا دی چې ټاکنیز بهیرونه باید روښانه شي.[72] د هغو پرمختګونو له مخې چې د ټاکنو کمیسیون رامنځ ته کړل، خلکو کولای شوای چې په لږ وخت کې د انلین له لارې لومړنۍ پایلې وګوري. د ټاکنو خپلواک کمیسیون دکاندیدانو او د سیاسی ګوندونو استازو ته د هرې ورځې په پای کې د رایو د شمیرنې له مرکز نه د پایلو یوه کاپي هم ورکوله.[73]

له دغو هڅو سره سره، ناامني بیا هم یوه لویه اندیښنه وه. د ټاکنو خپلواک کمیسیون له امنیتي چارواکو سره په همغږۍ پریکړه وکړه، چې د ټاکنو له ۶،۸۳۵ مرکزونو څخه به ۹۳۸ تړلي پاتې کیږي. نو له همدې وجې، هغو سیمو ته چې ناامنې بلل کیدې، د ټاکنو خپلواک کمیسیون ورته رای پاڼې ونه لیږلې. د دغو مرکزونو د تړلو دلیل دا راوړل کیده، چې رای پاڼې په ناامنه سیمو کې ساتل کیږي.[74] بل داسې میکانیزم نه و، چې خلکو په دغه ډول ځایونو کې رایه ورکړې وای.

د ۲۰۱۰ کال په ټاکنو کې کمساری تاوتریخوالی رامنځ ته شو، چې کاندیدانو، چارواکو، دکمپاین غړو او رایه اچوونکو ته پکې مرګ ژوبله هم واوښته. د امنیت په برخه کې له پورته شویو ګامونو سره سره، ۱،۳۰۰ نور مرکزونه هم تړلي پاتې شول او پر ۹۱ مرکزونو بریدونه وشول. په ځینو ځایونو کې خلک د ناامنیو له ویرې رای مرکزونو ته لاړ نه شول. د ټاکنو کمیسیون پر هغو مرکزونو چې بریدونه پرې وشول او یا هم بند وو، واک نه درلود. نو[75] کمزوري امنیتي حالت په ټاکنو کې درغلیو ته لاره پرانیسته. خو له دې سره سره، د ګڼ شمیر څارونکو ډلو د رپوټونو له مخې، داسې نور لاملونه هم وو، چې په ټاکنو کې یې پراخو درغلیو سره کومک وکړ.

> د ټاکنو ورځ د لوړې کچې له تاوتریخوالو ډکه وه، رسنیو او څارونکو د درغلیو او ناقانونه کړنو رپوټونه ورکړل. په دغو درغلیو کې د جعلي کارتونو کارول، ځو ځلې د رایې اچول، په زور د چا په ګټه رایې اچونې ته خلک مجبورول، د کوچنیانو له خوا رایه کارونه او د نورو پرځای رایه اچونه شامل وو. په ځینو ځایونو کې داسې رپوټونه هم ورکول شوي وو، چې رایه نه وه اچول شوې خو پایلې یې سپارل شوې وې. سره له دې چې دټاکنو کمیسیون ځینې تګلارې جوړې کړې وې خو بیا هم بیلا بیلو څارونکو او خبریالانو د تیر کال له ټاکنو سره د درغلیو کچه ورته بلله. (د درغلیو کلتور) ته ورته اصطلاحات هم راپیدا شول او کاندیدانو داسې احساس کاوه، چې له غیرې قانوني لارو پرته ړنې ټاکنې څوک نه شي ګټلای.

- د اروپا د مرستې او همکارۍ سازمان/ د بشر د حقونو او دموکراتیکو بنسټونو اداره (۲۰۱۰)

د افغانستان د آزادو او عادلانه ټاکنو بنسټ (FEFA) د ټاکنو په ورځ ۷،۰۰۰ څارونکي د رایې ورکولو سیمو ته استولې وو. د غه بنسټ د ټاکنو د شکایتونو او ټاکنو کمیسیونونو د ټاکنو د ورځې د سل ګونو سرغړونو او درغلیو رپوټونه د ثبوت په ډول وسپارل. دوی دواړو کمیسیونونو ته له ۳۱ ولایتونو څخه شاوخوا ۸۹۰ جدي قضیې د شواهدو په ډول وړاندې کړې. په دغو قضیو کې ډیری رایو ورکونکیو ته ګواښونه او د صندوقونو ډکول شامل و[76].

71 "د ټاکنو د ملاتړې ډلې،" رپوټ، "۷. (وارسا: په اروپا کې د امنیت او همکارۍ سازمان، د دیموکراتیکو بنسټونو او بشري حقونو دفتر، ۲۰۱۰)
72 ټرن " دافغانستان ټاکنې وځنډول شوې."
73 فضل احمد معنوي، (په ۲۰۱۰ کال د ټاکنو دخپلواک کمیسیون مشر)، فبروري، ۲۰۱۴.
74 معنوي، فبروري، ۲۰۱۴
75 پریس، کوم، ۲۰۱۴
76 "دافغانستان د ۲۰۱۰ پارلماني ټاکنو په اړه د څارونکو د ماموریت رپوټ": کابل، د ازادو او رڼو ټاکنو بنسټ، فیفا، ۲۰۱۱

د ټاکنو کمیسیون نوي اقدامات د درغلیو دمخنیوي لپاره کافي او اغیزمن نه وو. حتا هغه مرکزونه، چې د ټاکنو په ورځ تړلي وو دراېو شمېرنې مرکز ته ډک صندوقونه ولېږل شول. په ډېرو قضیو کې صندوقونه د کاندیدانو دپلویانو له خوا په ښه او ډک شوې وو. د دغو درغلیو روښانه بېلګې دا وې چې صندوقونه سم نه وه ډک شوي، یا داسې ډک شوي وو، چې له د کمیسیون د ټاکل شویو رایو- ۴۰۰ ځخه ډېرې رایې پکې وې او یا په یوه صندوق کې ټولې رایې یو ډول په ښه شوې وې.

## ۴.۴ د ټاکنو د خپلواک کمیسیون ځواب

د ټاکنو کمیسیون، چې د ټاکنو په ورځ له پېښو ښه خبر و، په لومړي قدم کې ټول هغه صندوقونه د درغلیو په شک قرنطین کړل چې له وړاندې له وضع شوو معیارونو سره په ټکر کې وو. خو په دې پرېکړه کې یوازې دا شامل و، چې دغه صندوقونه له څارنې وروسته چې د کاندیدانو، ناظرینو او سیاسي ګوندونو داستازو په وړاندې کېده، په رای شمېرنه کې شامل کړي او کنه. [۷۷]

خو له دې سره سره، د صندوقونو د قرنطینولو مقرره خورا جنجالي وه. د ټاکنو کمیسیون دا نه وه روښانه کړې، چې دغه پروسه به څنګه کار کوي، نو له همدې امله د څارنې، قرنطین او د شکمنو رایو باطلول کاندیدانو ته روښانه نه وه. کاندیدان او سیاسي ګوندونه له دغې موضوع سره د ټاکنو کمیسیون د چلند په اړه خورا حساس وو ځکه د ټاکنو دکمیسیون پرېکړه وروستۍ او د استیناف غوښتنې حق چا نه درلود.[۷۸] د دې ترڅنګ، د ټاکنو په قانون کې یاد شوو شرطونو د ټاکنوخپلواک کمیسیون ته هم صلاحیت ورکاوه، چې د شکایتونو کمیسیون له دنقش له په پام کې نیولو پرته دمشکوکو صندقونو په اړه پرېکړه وکړي. [۷۹] نو په پایله کې، یوازې د شکایتونو کمیسیون ته دا فرصت ورکول شوی و، چې د رایو له شمېرنې وروسته دې ته ځواب ته پیدا کړي، چې دشکمنو صندقونو په اړه سمه پرېکړه شوې او کنه.د دغه ډول شکمنو صندوقونو د پرېکړې په اړه د شکایتونو قانون دوه لارې مشخصې کړې وې. یوه لاره دا وه، چې شکمن صندوقونه په رای شمیرنه کې شامل کړي او کنه. دویمه لاره یې دا وه، چې د شکمنو رایو له شمېرنې وروسته، ټولې هغه رایې بیرته وباسي، چې د ټاکنو کمیسیون په رای شمیرنه کې شاملې کړې دي.

له بده مرغه، چې د ټاکنو کمیسیون قرنطین شوي صندوقونه پرته له دې چې[۸۰] د کاندیدانو استازي او څارونکي موجود وي، و څارل. د ۲۰۰۹ کال په ټاکنو کې هم د شکمنو صندوقونو په اړه له مقرراتو څخه ناسمه ګټه واخیستل شوه. د ټاکنو کمیسیون دارلانشا په لومړي سر کې دغه صندوقونه یوازې د دې لپاره قرنطین کړل، چې وروسته یې بیرته په رایه شمیرنه کې ورګډ کړي، ځکه لومړنیو پایلو داسې ښوولې، چې د ولسمشر کرزي په ګټه اچول شوې رایې له [۸۱]ټکل شوې کچې نه کمې وې. د قانونو دغه دول مواد چې د ټاکنیزو مناقشو د ارزونې په اړه دوه ګونې صلاحیتونه به واک کې ورکوبې، ، چې حکومت په لوړه کچه په پروسه کې ښکیل کیدای شي.

په داسې حال کې، چې په تیرو ټاکنو کې د تجربه یو خبرداری و، نو د راتلونکیو ټاکنو لپاره باید دغه مواد باید اصلاح شوي وای چې د ۲۰۱۰ کال په پارلماني ټاکنو کې ورته لانجې نه وای راپورته شوې. په حقیقت یې د مدني ټولنو ډلو لکه (FEFA) او د اورپا د امنیت او همکارۍ سازمان، چې د ۲۰۰۹ کال ټاکنې یې څارې وې او رپوټونه یې هم پرې چمتو کړې وو، ګڼ شمیر وړاندیزونه هم ورکړې وو. [۸۲] خو دغه وړاندیزونه نه عملي شول او نه هم ورته پام وشو او افغانستان د ۲۰۱۰ کال پارلماني ټاکنو ته ولاړ. [۸۳]

په حقیقت کې هغو ځانګړو اقداماتو چې دوی وضع کړی وو، کولای شوای چې د ۲۰۱۰ کال په ټاکنو کې د درغلیو مخه ونیسي. د بیلګې په ډول د ۲۰۰۹ کال له ولسمشرۍ ټاکنو وروسته، د ادعا شویو درغلیو د عاملونو نه تعقیب او څېړنې دې سره مرسته وکړه، چې په ټاکنو کې درغلۍ په یوه دود بدلې شی. د ټاکنو کمیسیون په رسمي ډول ادعا وکړه، چې زرګونه هغه کار کوونکي چې یا یې درغلۍ کړې وې او یا یې له درغلیو سره مرسته کړې وه، په اړه یې څېړنه کړې وه، خو کمیسیون هغه فهرست یا میکانیزم خپور نه کړ، چې دغه ارزونه یې څه ډول کړې وه. د دې ترڅنګ د ټاکنو د خپلواک کمیسیون هغه ارزونه هم شفافه نه وه، چې د ادعاوو له مخې ځینې کاندیدان له وسله والو ډلو سره اړیکې لري. بالاخره، کله چې ټاکنې پای ته ورسیدې، ډیرو هغه کاندیدان چې له وسله والو ډلو سره یې اړیکې لرلې، په ټاکنو کې برخه اخیستې وه او په دې کار سره د ټاکنو کمیسیون او د ټاکنو د ټولې پروسې باور ته زیان ورسید.

۷۷ ټاکنیز قانون (رسمي جریده، ګڼه ۱۰۱۲) ماده ۵۷، ۲۰۱۰. (۱۳۸۹المریز)

۷۸ "د ټاکنو دملاتړې ډلې رپوټ."

۷۹ ټاکنیز قانون، ۵۷ ماده، ۲۰۱۴

۸۰ "د افغانستان د پارلمانی ټولټاکنی دبررسی ماموریت ۲۰۱۰"

۸۱ حکیم، ۲۰۱۴

۸۲ "د افغانستان اسلامي جمهوریت، د ولسمشرۍ او ولایتي شوراګانو ټاکنې، د ټاکنو دملاتړې ډلې رپوټ." (وارسا: د اروپا د امنیت او همکارۍ سازمان، د دیموکراتیکو بنسټونو او بشري حقونو اداره، ۲۰۰۹)

۸۳ " د افغانستان د پارلماني ټاکنو په اړه د څارونکو ماموریت، ۲۰۱۰."

داسې چې د ۲۰۱۰ کال په ټاکنو کې د خلکو ونډه پراخه نه وه، د یوا عشاریه درې میلیونو رایو باطلولو دغه کچه لا پسې راټیټه کړه او په دې سره ګڼ شمیر کاندیدان د بریالیو کاندیدانو له لیسته ووتل. د ټاکنو کمیسیون خپله وظیفه ترسره کړه او دې ته چمتو وو، چې د بریالیو کاندیدانو لومړنی لیست اعلان کړي. اوس نو موضوع د شکایتونو کمیسیون لاس ته ورغله، چې پاتې ټاکنیز شکایتونه وڅیړي او د ټاکنو وروستۍ پایلې تصدیق کړي.

## ۴.۵ ټاکنیزو شکایتونو ته رسېدنه

د شکایتونو کمیسیون ته د رایو شمیرنې په مرکز او رایو اچونې په غرفو کې د درغلیو په اړه شاوخوا ۴,۰۰۰ شکایتونه رسیدلي وو. د شکایتونو کمیسیون دغه شکایتونه په لاندې کټګوریو وویشل: الف) هغه شکایتونه د ټاکنو پر پایلو اغیز کولای شي او د شکایتونه د کمیسیون له خوا جدي څیړنې ته اړتیا لري؛ ب) هغه شکایتونه، چې د ټاکنو پر پایلو اغیز نه شي ښندلی او کیدای شي وروسته یې په اړه قضاوت وشي؛ او ج) هغه شکایتونه چې د کمیسیون له خوا له ټاکل شویو پروسیجرونو سره اړخ نه لګوي او یا هم ټاکنیز شکایتونه نه دي. [۸۴] د شکایتونو کمیسیون لومړیتوب دا وه، چې د (الف) کټګورۍ شکایتونه لومړی فیصله کړي، چې شمیر یې نږدې ۲,۵۰۰ شکایتونو ته رسید.

سره له دې، چې د شکایتونو ولایتي کمیسیونونو د ولایت په کچه ټولو شکایتونو ته د رسیدنې واک، خو له هغو قضیو پرته چې داستیناف غوښتنه یې کوله، بیا هم ډیرې قضیې له دې امله د شکایتونو مرکزي کمیسیون ته راجع کیدې څکه چې د ولایتي کمیسیونوغړو ته خطر متوجه وو. [۸۵] څارونکو ډلو د شکایتونو د ولایتي کمیسیونونو په اړه داسې رپوټونه ورکول، چې د دغو کمیسیونونو له خوا د شکایتونو څیړل هم اغیزمن نه دي او هم شفاف. څینې وخت هغه پریکړې چې د شکایتونو ولایتي کمیسیونونو کولې، په اړه یې هغو ګوندونو ته خبر نه ورکاوه، چې د هغوی په رایو یې اغیز کاوه. حتا داسې هم ویل کیدل، چې څینو پریکړو یې بیخي قانوني بنسټ نه درلود. [۸۶] د شکایتونو پر کمیسیون له دې امله هم نیوکه کیده، چې د شکایتونو د فیصلو پرمهال شفافیت نه لري او دا رنګه د شکایتونو دپروسې په اړه خلکو ته په معلوماتو ورکولو کې پاتې راغلی.[۸۷]

په پنځو مختلفومرحلوکې، د شکایتونو کمیسیون د ۳۸۳ مرکزونو رایې د هغو شکایتونو پر بنسټ باطلې اعلان کړې، چې ټاکنیزې سرغړونې پکې جدې وې. د ټاکنو دبهیر په پای کې، دشکایتونو کمیسیون په رسمي ډول ۴۱۳ کاندیدان او ګڼ شمیر د ټاکنو کمیسیون کارکوونکي، چې د درغلیو شک پرې کیده، د تعقیب لپاره لویې څارنوالۍ ته معرفي کړل. [۸۸]

## ۴.۶ د لومړنیو او وروستیو پایلو اعلان

د ۲۰۰۹ او ۲۰۱۰ کال په ټاکنو کې دواړو کمیسیونونو یوه نوښت کړی و، چې له انترنیټ نه یې کار اخیست. دواړو کمیسیونونو پریکړه کړې وه چې د شفافیت د ډاډمنیدو لپاره به دوی هم لومړنۍ پایلې او هم وروستۍ پایلې په خپلو ویب پاڼو کې خپروي. د ټاکنو کمیسیون دارنګه دا هم روښانه کړه، چې درایو شمیرنې ټول مرکزونه باید د پایلو د پاڼو یوه کاپي هره ورځ کاندیدانو، سیاسي ګوندونو او څارونکو ته ورکړي. د دغو پرمختګونو موخه دا وه، چې پر ټاکلي وخت معلومات خپاره کړي او شفافیت ته لاره برابره کړي. څکه د معلوماتو دشریکولو پخوانۍ لاره داسې وه، لکه په جګړه کې کاریدونکي توره چې دواړه لوري یې تیره وي. کله به چې لومړنۍ پایلې اعلان شوې، کاندیدانو ته به روښانه شوه، چې په پراخه کچه رایې باطلې اعلان شوي نو څکه به د ټاکنو پایلې د دوی په ګټه نه وي. حکومت هم اندیښنه لرله، چې د دوی ملاتړ کاندیدانو ته اچول شوې رایې باطلې اعلانیدې. په پایله کې د حکومت له خوا د ملاتړو کیدونکو کاندیدانو په ګډون مخالفو کاندیدانو په فعال ډول هڅه کوله، چې د ټاکنود بهیر پاتې پروسه ګډوډه کړي. [۸۹]

---

۸۴ د شکایتونو کمیسیون دغه کټګورۍ په دې ډول تعریف کړې وې. په الف کټګورۍ "کې هغه شکایتونه موجود و، چې که ثابت شوي وای، په مرکزونو کې یې دټاکنو پر پایلو اغیز ښندلی شوای....دغه ډول شکایتونو ته سم دلاسه رسیدګي وشوه او څیړونکو بنسټونو دغه ډول شکایتونو ته ډیر لومړیتوب ورکاوه." د (ب) کټګورۍ "شکایتونو کې هغه ادعاوې شاملې وې، چې که ثابتې شوای وای، د ټاکنو پر پایلو یې اغیز نه شوای کولای. دغه ډول شکایتونه هغه مهال د شکایتونو کمیسیون وڅیړل چې کله یې کارکوونکي او سرچینې د لومړۍ درجې یعنې دالف کټګورۍ شکایتونو پر څیړنو بوخت نه وه." د (ج) کټګورۍ "شکایتونو نورې څیړنې ته اړتیا نه لرله څکه دغه شکایتون د ټاکنو له ترسره کیدو نه ۷۲ ساعته وروسته نه و ثبت شوي. دغه شکایتونو بشپړ نه و، او د شکایتونو د ثبتولو رسمي معیارونه یې نه پوره کول. همغسې چې د شکایتونو کمیسیون په اصولو کې راغلي، دریمه کټګورۍ شکایتونو د ټاکنو اړوند سرغړونې نه وې. په دې اړه نور معلومات،" "د ۲۰۰۹ کال د ولسمشرۍ ټاکنو په وروستۍ رپوټ کې کتلای شئ." (کابل:د ټاکنیزو شکایتونو کمیسیون، ۲۰۰۹)، ۳۱.

۸۵ احمد ضیا، رفعت، د شکایتونو کمیسیون کمیشنر،.۲۰۱۴

۸۶ "د ټاکنو د ملاتړې ډلې رپوټ."

۸۷ "د افغانستان د پارلماني ټاکنو په اړه د څارونکو د ماموریت رپوټ، ۲۰۱۰"

۸۸ "د څارونکو ماموریت: د ۲۰۱۰ کال د ولسمشرۍ ټاکنې، وروستی رپوټ،" (کابل: نړیواله ډموکراسي، ۲۰۱۱)

۸۹ معنوي، ۲۰۱۴

په دغه بهیر کې د حکومت لاسوهنه ډېره پراخه وه. وروسته له هغه، چې د ټاکنو خپلواک کمیسیون لومړنۍ پایلې اعلان کړې، لوی څارنوال عمومي وینا وکړه او ادعا یې کوله، چې د پایلو داعلان بڼه د شرم خبره ده او دی ناراحته دی. د ټاکنو خپلواک کمیسیون دهغه دغه ادعاوې په کلکه رد کړې او د لویې څارنوالۍ چارواکي یې وننګول، چې د ټاکنود بهیر او اصولو په اړه ژور معلومات نه لري.[۹۰] وروسته لویې څارنوالۍ یوه اتهام پانه خپره کړه او سترې محکمې ته یې هم واستوله، چې د ټاکنوخپلواک کمیسیون او شکایتونو کمیسیون ګڼ شمیر لوړپوړي چارواکي په ټاکنو کې په درغلیو او فساد کې ښکیل بللي دي.[۹۱] لویې څارنوالۍ دوی خاینین وبلل او له سترې محکمې نه یې غوښتننه وکړه، چې د مرګ حکم په ګډون بیلا بیلې جزاګانې ورکړې.[۹۲]

د ولسمشرۍ ماڼۍ په هغه غونډه کې چې ټول ذیدخله طرفونه پکې حاضر وې، ولسمشر کرزي وویل چې دی د ټاکنو له لومړنیو پایلو راضي نه دی. هغه همدارنګه وویل، چې تمه لري دټاکنو وروستۍ پریکړه به له حکومت سره په مشوره اعلان شي. د ټاکنو کمیسیون او شکایتونو کمیسیون د ولسمشر د دغه دریځ پرضد ودریدل او ټینګار یې کاوه، چې دوی به له قانون سره سم خپل مسوولیتونه پرېږدي. یوې مهمې څیرې چې په دغه غونډه کې یې برخه لرله وویل، چې ولسمشر نا خوښه ښکاریده او په یو معنا لرونکی لحن یې د غونډې ګډونوالو ته وویل که پایلې زموږ په خوښه نه وي، نوموړ به هغوی (څارنوالان) له اعلان وروسته به یې قاضیانو ته ولیږو.[۹۳]

د ولسمشر تمه دا وه، چې یوه شي د کومو دلایلو له مخې رایې باطلې اعلان شوې دي. لومړی خو هغه د غزني له پایلو راضي نه وو. هلته ټولې ۱۱ څوکۍ هزاره ګانو وړې وې او یوه څوکۍ هم پښتنو نه وه ګټلې. په غزني کې د رایو پایلې تر ډېره د ناامنیو د ګواښونو ته تاثیر لاندې راغلې وې او همدا لامل وه، چې ډېرو پښتنو د ټاکنو په ورځ د رای اچونې مرکزونوته د تلو فرصت پیدا نه کړ. د دې ترڅنګ، د دغه ولایت په ډېرو برخو د طالبانو اغیز او واک د دې لامل شول، چې نه هم حکومت او نه هم د ټاکنو کمیسیون خپل کارونه سم سرته ورسوي.[۹۴] نو له همدې وجې داسې څه له هغو پایلو سره نه شوای کیدای، چې په غزني کې د ټاکنواو شکایتونو کمیسیون کړې وو. د دې ترڅنګ ولسمشر ټاکنو له خپلواک کمیسیون او شکایتونو کمیسیون غوښتننه کوله، چې د غزني رایې له سره وشمیري، منظمې دې کړي او یا دې ولسي جرګه کې د پښتونو د مساوي استازو د پیداکیدو لپاره په غزني له سره ټاکنې وکړي.[۹۵]

دویم، ولسمشر د هغو مشرانو له (او دهغوی خپلوانو) خوا چې د ده ملاتړ یې کاوه او ټاکنې یې بایللې وې، تر فشار لاندې و. د ځینو کسانو له خولې، په دغو اشخاصو کې د ولسمشر ورونه، دهغه د کورنۍ نژدې غړي، د کابینې وزیران او په حکومت کې ځینې بانفوذه خلک شامل وو. د دوی د رایو تاییدول نه یوازې دا چې د قدرت معامل ګر قانع کول، بلکې په پارلمان کې یې د ولسمشر نفوذ او واک هم پراخاوه.[۹۶]

دریيم، همغسې چې ځینو ویل، ولسمشر راضي نه و، چې یو خپلواک او پیاوړی پارلمان دې را منځ ته شي.[۹۷] پیاوړې پارلمان کولای شوای چې د اساسي قانون له مخې د اجرایوي برخې ټول کارونه وڅاري او په دې کار سره د دولت په بنسټونو کې د واک د ویش توازن پراخ کړي.

څلورم، په تیرو ټاکنو کې پر نیمګړتیاو او کمزوریو د بریا د یوې هڅې په ډول، ولسمشر غوښتل دا ثابته کړي، د ټاکنو چارواکي د ټاکنو د ترسره کیدو لپاره کمزوري او بې کفایته وو. په دې کار سره به د هغه دا علاقه پرځای شي،[۹۸] چې د ۲۰۰۹ کال ولسمشرۍ ټاکنو یو څه مشروعیت پرځای کړي. په هغه ټاکنو کې د ولسمشر کرزي په پلوۍ ۸۰۹،۳۴۹ رایې په ټاکنو کې د درغلیو له امله باطلې

---

۹۰ رفعت، ۲۰۱۴

۹۱ خبري کنفرانس، ۲۰۱۴

۹۲ د والسټریټ ژورنال د رپوټ له مخې، " د ټاکنو د کمیسیون مشر په کابل کې یوې خبرې ناستې ته وویل.... چې ده هغه لیک لوستی چې لویې څارنوالۍ سترې محکمې ته استولی دی. د هغه د خبرو له مخې په دغه لیک کې د ټاکنو کمیسیون غړي په خیانت تورن کړې وو او له سترې محکمې نه یې هغوی ته د مرګ د حکم غوښتنه کړې وه." ( یارسلوا ټروفیمو: افغان سترې محکمې د ټاکنو دباطلیدو غوښتنه کړې- په کندهار کې ځانمرګي بریدګر شپږ امریکایي سرتیري وژلي، والسټریټ ژورنال، ۲۰۱۰، د ډیسمبر ۱۲

۹۳ رفعت، ۲۰۱۴

۹۴ پامیل "د افغانستان هزارګانو په لانجمنو ټاکنو کې ډېرې څوکې ګټلې دي،" واشنګټن پوسټ، بهرنۍ برخه، ۲۰۱۰، ډیسمبر ۲۴.

۹۵ مطبوعات، ۲۰۱۴

۹۶ مطبوعات،۲۰۱۴

۹۷ رفعت، ۲۰۱۴

۹۸ رفعت، ۲۰۱۴

اعلان شوې وې. [۹۹] نو دهمدې لپاره هغه غوښتل چې د پارلماني ټاکنو پرمهال دا ثابته کړي چې د ټاکنو کمیسیونونه بې کفایته دي، ځکه دوی په تیرو ټاکنو کې باکفایته نه وو. نو د دې لپاره چې ولسمشر له خپلې خوښې سره سم د ټاکنو پایلې تر لاسه کړي، پریکړه ییوکړه، چې پر دواړو کمیسیونو د فشار لپاره له لویې څارنوالۍ او سترې محکمې نه د وسایلو په توګه کار واخلي. خو له دې سره سره، د شکایتونو کمیسیون د ټولو حکومتي بنسټونو د ګواښونو پر وړاندې په خپل دریځ ودرید. د شکایتونو کمیسیون وروستۍ پایلې تصدیق کړې او د ټاکنو کمیسیون دکوچیانو د څوکیو په ګډوند د ۳۳ ولایتونو پایلې اعلان کړې خو دغزنې پایلې پر خپل ځای پاتې شوې. دغزنی ولایتي پایلې یوه اوونۍ وروسته په ډاګه شوې. په ټوله کې ۲۴ بریالي کاندیدان له لیست نه وایستل شول. [۱۰۰]

۹۹ "د ۲۰۰۹ کال د ولسمشرۍ ټاکنو وروستی رپوټ،" ۳۸.

۱۰۰ "د ټاکنو دملاتړې ډلې رپوټ."

## ۵. د ټاکنو ځانګړې محکمه

د ۲۰۱۰ کال د ولسمشرۍ له ټاکنو وروسته، د ا جرایوي ځواک له خوا له قانونه پورته کړنې تر سره شوې واضح او څرګندې دي. کله، چې د ټاکنو پایلې اعلان شوې، حکومت ته پوه شوچې د دوی زورکارونې او مداخلې کار نه دی ورکړی. نو له همدې امله، حکومت داسې هسې پیل کړې، چې له نورو ورته لارو د ټاکنو په پایلو کې خپلو اهدافو ته ځان ورسوي. د ټاکنو دپایلو د بدلیدو یوه لاره دا وه، چې داسې یو میکانیزم رامنځ ته کړي، چې د ټاکنو اړوند جنجالونه له سره وڅیړي. په پای کې، داسې فکر کیده چې نوی میکانیزم ښایي د ځانګړې محکمې جوړېدل وي. حکومت ډاډمن چې لږ تر لږه ستره محکمه به له دغه نظر سره موافقه وي. د دغه ډول ځانګړې محکمې د جوړیدو لپاره، حکومت د سترې محکمې په ګډون له بیلا بیلو اړخونو سره مشورې پیل کړې.

د دغې محکمې جوړېدل د افغانستان لپاره د یوه لوی ګواښ نښه وه. دغه محکمه له اساسي قانونه نه د ورپورته اقدام په ډول د لا ډیر سیاسي واک د تر لاسه کیدو لپاره کارول کیده چې په هیواد کې د سیاسي ثبات په بیه تمامیده. نو مخکې له چې دې د دغې ځانګړې محکمې د جوړېدو او قانوني چوکاټ ته کتنه وکړو، نو لازمه ده، چې په افغانستان کې د واک ویش او د مشروطیت اصول مطالعه کړو.

### ۵.۱ د ځانګړې محکمې په اړه د سترې محکمې سکوت

که د شکایتونو کمیسیون او د سترې محکمې د اړیکو تاریخ ته وکتل شي، دا په ډاګه کیږي چې سترې محکمې د شکایتونو د کمیسیون په کارونو کې هیڅ کله مداخله نه ده کړې او لا یې د شکایتونو کمیسیون فیصلو ته درناوی کړی دی. ډیرې داسې بیلګې شته، چې د دغوورړو بنسټونو ترمنځ همغږي روښانه کوي. د بیلګې په ډول سترې محکمې، لویې څارنوالۍ او د کورنیو چارو وزارت د شکایتونو د کمیسیون په غوښتنه د مجرمانو د مخینې په اړه دغه کمیسیون ته معلومات ورکړې دي.[۱۰۱] دویم، سترې محکمې د شکایتونو دکمیسیون د قانون له مخې په لومړیو دوه دور و ټاکنو کې خپل کسان دوی ته ور پیژندلې دي. په ۲۰۱۰کال کې هغه مهال، چې قانون سترې محکمې ته دا واک نه وورکړی، کمیسیون ته کاندید معرفي کړي، او د دې پرځای یې د ملي شورا د دواړو جرګو له مشرانو سره د مشورې وړاندیز کړی او، نوسترې محکمې په فعال ډول په دغه پروسه کې برخه واخیسته. د دې تر څنګ ولسمشر له قضا نه یو قاضي د شکایتونو کمیسیون د مشر په توګه هم کاندید کړ. دریيم، د ۲۰۰۵ کال د ولسمشرۍ ټاکنو پرمهال، کله چې ځیني ناکامو کاندیدانو سترې محکمې ته د استیناف غوښتنه وکړه، دشکایتونو کمیسیون د سترې محکمې واکونه را وننګول، چې څنګه دغه قضیې څیړي، چې [۱۰۲] بالاخره دغه قضیې د نارسمي مشورو له لارې هوارې شوې. نو له دې نه ظاهرا داسې ښکاریده، چې سترې محکمې نه هم ناکامو کاندیدانو په اړه د شکایتونو کمیسیون پریکړې و ننګولې او نه یې هم د دغو لانجو په اړه په شویو پریکړوکې مداخله وکړه. خو په دې قضیه کې دا روښانه نه ده چې ولې سترې محکمې په ۲۰۱۰ کال پریکړه وکړه، چې د شکایتونو کمیسیون پریکړې له اساسي قانون سره سمې نه وې، ناقانونه وې او ځانګړې محکمه باید د ټولو ټاکنیزو لانجو په اړه پریکړه وکړي.

د ۲۰۱۰ کال د پارلماني ټاکنو پرمهال، داسې باور کیده چې سترې محکمې په لومړي سر کې د ځانګړې محکمې د جوړیدو په نظر انتقاد درلود[۱۰۳]. کله چې ولسمشر له سترې محکمې سره سلا وکړه، نو محکمې په ځواب کې ورته وویل چې د دغه ډول محکمو جوړېدل به د اساسي قانون او نورو قوانینو له اصولو سره په ټکر کې وي. ولسمشر دغه موضو د اساسي پرتطبیق دڅارنې له خپلواک کمیسیون سره شریکه کړه. دغه کمیسیون هم د سترې محکمې په څیر ځواب ورکړ چې د شکایتونو دڅیړنې لپاره دځانګړې محکمې جوړېدل هم له اساسي قانون سره په ټکر دی او هم ناقانونه ده. له دې وروسته، داسې ښکاریده چې ولسمشر سترې محکمې ته دنده سپارلې وه، چې له اساسي قانون او نورو قوانینو سره سم ځانګړې محکمې جوړیدو ته لاره هواره کړي.

بالاخره، ستره محکمه د ولسمشرپه غوښتنه د ځانګړې محکمې په جوړیدو راضي شوه. دغه محکمه د ولسمشر له تایید وروسته جوړه شوه. محکمې پنځه قاضیان لرل، چې څلور یې دکابل او ولایتونو له استیناف محکمې نه وو او یو یې دسترې محکمې له سلاکارانو څخه و. دغو غړو د لوړې مراسم ترسره کړل، دافغانستان اساسي قانون او نورو قوانینو ته یې د وفادارۍ تابعیت څرګنداوه، همدارنګه یې ژمنه کوله، چې د دوی په وړاندې پرتې قضیې به په خپلواک او نا پیلې ډول څیړي.

۱۰۱ "د ۲۰۰۵ کال د پارلماني ټاکنو په اړه وروستی رپوټ،" ۱۰.

۱۰۲ "د ۲۰۰۵ کال د ولسمشرۍ ټاکنو په اړه د ټاکنو د ملاتړې ډلې وړاندیزونه" (وارسا: په اروپان کې د امنیت او همکارۍ سازمان، ۲۰۰۵)

۱۰۳ احمدزی، ۲۰۱۴

## ۵.۲ د اساسي قانون او وضعي قوانینو بنسټونه

ستره محکمه د دغې ځانګړې محکمې د جوړېدو لپاره د اساسي قانون له مخې درې دلایل وړاندې کول. په حقیقت کې سترې محکمې پر دغو لاندې دریوو مادو تکیه کوله. د اساسي قانون په ۱۲۰ ماده کې راغلي، چې د ستری محکمه په صلاحیت کې په ټولو هغو دعوو غور شامل دی، چې د دولت په شمول د حقیقي او حکمي اشخاصو له خوا د مدعي په حیث له قانون سره سم د محکمې په وړاندې اقامه شي. ۱۲۲ ماده : هیڅ قانون نه شي کولای په هیڅ ډول حالاتو کې کومه قضیه یا ساحه د قضایه قوې له صلاحیت څخه وباسي او بل مقام ته یې وسپاري. او ۱۲۳ ماده وایي: د دې اساسي قانون د حکمونو په رعایت، دمحکمو په تشکیل صلاحیت او اجراتو پورې مربوط قواعد او په قاضیانو پورې مربوطې چارې د قانون له لارې تنظیمېږي. همدارنګه سترې محکمې د محکمو د قضایي قلمرو او اداري د قانون په پنځوسمه ماده هم تکیه کوله، چې سترې محکمې ته دا صلاحیت ورکوي چې د ولسمشرۍ په تاییدۍ سره په مرکز او ولایتونو کې دابتدایي محکمو دیوانونه جوړ کړي.[۱۰۴]

د دغې محکمې له جوړېدو نه یوه ورځ وروسته، د اساسي قانون پرتطبیق د څارنې خپلواک کمیسیون فوق العاده غونډه راوبلله چې د دغه محکمې جوړېدل یې رد کړل. د اساسي قانون پرتطبیق د څارنې خپلواک کمیسیون له دغې محکمې سره د ځانګړې کلمې له کارولوسره مخالف و ځکه وایي داساسي قانون له مخې ځانګړې محکمه داسې یو میکانیزم دی چې پر ولسمشر، سترې محکمې او وزیرانو باندې د لګیدلو تورونو د سپیناوی لو لپاره کارول کیږي. دوی ویل چې ستره محکمه د دې حق لري، چې د محکمو د قضایي قلمرو او اداري د قانون له مخې ځانګړې محکمې جوړې کړي خو داسې کافي قانوني واکونه نشته، چې له مخې یې ستره محکمه د ټاکنو په اړه ځانګړې محکمه جوړه کړي. د دوی دلیل دا و، چې که د ځانګړو محکمو داصولو له مخې دغه محکمه جوړه هم شي – لکه د ځوانانو ځانګړې محکمه ، نو واکونه او اداره یې باید له[۱۰۵]وړاندې دقانون په چوکاټ معلوم شوې وي.

دا مهمه ده، چې دلته د هغو ځانګړو محکمود جوړېدو په اړه هم لنډ معلومات درکړو، چې پخوا جوړې شوې دي. سترې محکمې د محکمو د قضایي قلمرو او اداري د قانون د پنځوسمې مادې پر بنسټ پنځه ځانګړې محکمې جوړې کړې دي. د مخدره توکو پرضد محکمه، د کورني او بهرني امنیت د جرایمو محکمه، د جایدادونو پر سر دلانجو محکمه، د شخصي احوالو محکمه او د ځوانانو ځانګړې محکمه.[۱۰۶] دغه ځانګړې محکمې د محکمو د قضایي قلمرو او اداري د قانون د اصولو له مخې جوړې شوې دي. دبیلګې په ډول، د سوداګرۍ محکمه د محکمو د قضایي قلمرو او اداري د قانون د **۴۵** مادې پر اساس جوړه شوې وه، د ځوانانو محکمه د **۴۴** مادې پر بنسټ جوړه شوې وه. همدارنګه د مخدره توکو محکمه – د مخدره توکو دقانون او د محکمو د قضایي قلمرو او اداري د قانون د **۵۰** مادې له مخې جوړه شوې ده. نو سترې محکمې، په هغه بڼه چې د ټاکنو ځانګړې محکمه یې جوړه کړه، د جوړېدو لپاره یې کومه مقدمه نه لرله. د دې ترڅنګ، د سترې محکمې لپاره داسې لږ دلایل و، چې دوی د **۲۰۱۰** کال د پارلماني ټاکنو دلانجو په څېر له ځانګړو پیښو سره کله نه و مخامخ شوي. په حقیقت کې، د قانوني دلایلو له وړاندې کولو پرته، د سترې محکمې لپاره داسې حالت نشته، چې ځانګړې محکمه جوړه کړي.

د یوه مخکې وضع شوي قانون په نشتوالي کې د محکمې جوړېدل په د معنا دی، چې ستره محکمه ددی صلاحیت لری چی نوو محاکمو تشکیل او قضایی صلاحیت ته دا واک ورکوي. د اساسي قانون د **۹۵** مادې له مخې، ستره محکمه د قضایي چارو د سمون لپاره یوائې د قانون طرحه د حکومت له لارې واړاندې کولای شي.[۱۰۷] په ځینو استثنایي حالاتو کې چې ځانګړې محکمې رامنځ ته شوې او له وړاندې یې اټکل لږ شوی، سترې محکمې هم همدغسې کړې ځکه ځانګړو قوانینو له وړاندې نوې محکمې او اداري تعریف کړې دي. نو ځکه، کله چې سترې محکمې د دغې محکمې د جوړېدو پریکړه وکړه، نو په دغه ډول حالاتو کې یی دقانون د جوړېدو لپاره د قانون طرحه وړاندې کړه.

کله، چې په **۲۰۰۹** کال کې پر اساسي قانون د تطبیق د څار د خپلواک کمیسیون قانون په پارلمان کې تصویب شو، نو له هغې وروسته ولسمشر ځکه ویټو کړ، چې ګوندی له اساسي قانون سره اړخ نه لګوي او د اساسي قانون تفسیر یوائې د سترې محکمې کار دی.[۱۰۸]

---

۱۰۴ میزان جریده ( د سترې محکمې مهالنۍ ) ګڼه ۱۴۷، ۲۰۱۰ – ( ۱۳۸۹ )

۱۰۵ ”د ټاکنیزو ادعاوو په اړه د سترې محکمې له خوا د ځانګړې محکمې د جوړېدو په اړه قانوني نظر پوښتنه، ګڼه،“ ۷. (کابل: داساسي قانون پرتطبیق دڅار خپلواک کمیسیون، ۲۰۱۰) نوټ: داساسي قانون پرتطبیق دڅار خپلواک کمیسیون نظر پوښتنه ، چې په دې څېړنه کې کارول شوې، په دري خپروه شوې او د دې تحقیق لپاره په انګریزي ژباړل شوې ده.

۱۰۶ ستره محکمه، Supreme Court, http://supremecourt.gov.af/en/page/625 (accessed Feb 15, 2014)

۱۰۷ د اساسي قانون **۹۵** ماده وایي: ”د قانوني طرحې پیشنهاد د حکومت او یا د شورا دغړیو او د قضایي چارو د تنظیم په برخه کې د سترې محکمې له خوا د حکومت له لارې وړاندې کیدای شي“.

۱۰۸ ریګستاني، ۲۰۱۴

ولسمشر له سترې محکمې غوښتنه کړه، چې دغه قانون ته له اساسي قانون سره مطابقت ورکړي. کله، چې دغه قانون په رسمي جریده کې خپور شو، له قانون نه داسې ښکاریده چې د سترې محکمې یو واک ورکول شوی وي. د لیل یې د سترې محکمې له خوا دا ورکول شوی و، چې له اساسي قانون سره اړخ نه لګوي، په ځانګړي ډول له ۱۲۱ مادې سره چې د قوانینو د تفسیر واک پکې دسترې محکمې دی.[109] خو له دې سره سره، سترې محکمې ویل، چې د قانون تفسیرول د دوی له واکونو څخه دي. د اساسي قانون په اړه دغه لانجمنه برخه لرې شوه او په لاندې برخه کې یې هغه دلایل راوړل، چې ولې یې دغه برخه لرې کړې ده. دې کار په ښکاره د اساسي قانون ۹۰ ماده تر پښو لاندې کړه ځکه د دې مادې له مخې یوازې پارلمان، قوانین تصویبولی شی، تعدیلاولای یې شي او یا یې هم لغوه کولای شي. په عمل کې سترې محکمې داسې وښوده چې کولای شي په یوارخیز ډول قانون اصلاح کړي او بیا یې د نشر لپاره عدلیې وزارت ته ولیږي. په دغه قضیه کې حکومت هم په ورته ډول له اساسي قانون نه سرغړونه وکړه ځکه د عدلیې وزارت په رسمي جریده کې هیڅکله پخوا داسې قانون نه وخپور شوی، چې لمنلیک (پاورقي) پکې راغلې وي او یا هم قضایی حکم پکې لیکېل وي، چې دغه قانون له اساسي قانون سره مطابقت نه لری.

نو په یادو شویو بیلګو کې ښکاره شوه، چې قضا په اغیزمن ډول د حکومت د نورو قانون جوړوونکیو بنسټونو په واکونو کې مداخله کوي.

دارنګه، د محکمو د قضایي قلمرو او ادارې د قانون د **۲۹** مادې په لومړي او اووم بند کې، چې سترې محکمې ته د نویو محکمو او ادارې واحدنو دجوړیدو اجازه ورکوي، نارونښانتیا رامنځ ته کړې ده. خو له دې سره سره د ټاکنو په اړه د ځانګړې محکمې جوړیدل بیا د اساسي قانون له **۱۲۳** مادې سره په ټکر کې دی، ځکه چې د محکمو جوړیدو، واکونو او اجراتو پورې اړوند ی چارې باید دقانون له لارې تنظیم شي. نو ځکه، که چیرې د محکمو د قضایي قلمرو او ادارې د قانون له مخې سترې محکمې د نوې محکمې جوړیدل غوښتل، نو دغه کار یې باید د حکومت دیوه بل ارګان له قانوني لارې کړی وای. نو له همدې وجې، د محکمو د قضایي قلمرو او ادارې قانون باید داسې تفسیر نه شي، چې ستره محکمه د قانوني اصولو په نشتوالي کې ځانګړې محکمه رامنځ ته کړي.

د ولسمشر د دفتر، پر اساسي قانون د تطبیق دڅار خپلواک کمیسیون (CIOCI)او سترې محکمې (SC) ترمنځ د مکتبونو لیږد را لیږد دغه بهیرنور هم پیچلی کړ. پر اساسي قانون د تطبیق دڅار خپلواک کمیسیون ویلي، چې دوی د وزیرانو شورا د دارلانشا او چارو ادارې له خوا په دې اړه په یوه لیک کې قانوني نظر غوښتی و. د دغه لیک په ضمیمه کې د سترې محکمې دوه نور مکتوبونه هم وو، چې په هغې ترې د دغه محکمې د تایید غوښتنه شوې وه. د [110]هر مکتوب په پای کې لاربنوونې هم ذکر شوې وې. په یوه لارښوونه کې د یوې مرحلې محکمې جوړیدل تصویب شوې وو خو په بل مکتوب کې یوازې د یوې محکمې جوړیدل تصویب شوی وو ( دا هم پکې نه و ذکر شوي، چې محکمه به څو اړخیزه وي )[111]

د ولسمشرۍ د دفتر او سترې محکمې له انده، د ځانګړې محکمې دجوړیدو پر څرنګوالي نا روښانتیا ښکاره وه. د سترې محکمې په وروستۍ پریکړه کې دا روښانه نه شوه، چې دغه ځانګړې محکمه به درې مرحلې لري او که یوه. داسې ګمان کیده ، چې د ولسمشر غوښتنه دا وه، چې دغه محکمه یوه پړاویزه جوړه شي ځکه پریکړې به یې وروستۍ وي او بدلون به پکې نه شي راتلای. پر اساسي قانون د تطبیق دڅار خپلواک کمیسیون دواړه ډوله محکمې باطلې ګڼلې او په ځانګړي ډول یوه مرحلیزه خو یې بیخي له اساسي قانون سره په ټکر کې بلله.

د ټاکنو خپلواک کمیسیون پر اساسي قانون د تطبیق دڅار له خپلواک کمیسیونه غوښتنه کوله، چې د ټاکنیزو لانجو په اړه د لویې څارنوالۍ دقانوني واکونو په اړه پلټنه وکړي او دارنګه یې غوښتنه کوله، چې د ټاکنو ځانګړې محکمې د جوړیدو په اړه هم څېړنې وکړي. د اساسي قانون د **۱۵۲** او **۸۲** مادې د تفسیر له مخې، پر اساسي قانون د تطبیق دڅار خپلواک کمیسیون ټینګار کاوه، چې اساسي قانون د ټاکنو خپلواک کمیسیون ته واک ورکړی چې په افغانستان کې هر ډول ټاکنې وڅاري او اداره یې کړي. دغه کمیسیون همدارنګه ټینګار کاوه، چې د «څارنې» په مفهوم کې دا هم راځي چې له قانونه د سرغړونې دمخنیوي لپاره د ټاکنو پر ټولو پروسو واک ولري د ټاکنو د قوانینو له مخې د ټولو شکایتونو ارزول یقیني کړي. خو له دې سره سره بیا هم، په بشپړ ډول د ټاکنو د اعتبار په اړه

۱۰۹ د اساسي قانون په ۱۲۱ ماده کې راغلي: " له اساسي قانون سره دقوانینو، تقنیني فرمانونو، بین الدول معاهدو او بین المللي میثاقونه د مطابقت څېړل د حکومت یا محاکمو په غوښتنه او دهغوی تفسیر دقانو له حکمونو سره سم د سترې محکمې صلاحیت دی." قضا او پارلمان دغه ماده په بیلا بیل ډول تعبیر کړې وه، پارلمان ویل چې د قانون تفسیر د سترې محکمې کار دی خو وروسته یې دغه واک ترې کم کړ. نو پارلمان چې کله دغه قانون تصویب او، دغه واک یې همدغه کمیسیون ته ورکړ.

۱۱۰ په افغانستان کې، د اداري دود له مخې، چې کله هم له یوې ادارې نه بلې ته غوښتنلیک لیږل کیږي، د هغه کار چې غوښتنه یې کیږي، هغه به د مکتوب په پای کې لیکل کیږي او مسوول چارواکي به پرې لاسلیک هم کړی وی.

۱۱۱ "د ناکامو کاندیدانو د ادعاوو د څېړلو په اړه د ځآنګړې محکمې پر جوړیدو قانوني نظر پوښتنه،" ګڼه، ۸. ( کابل: پر اساسي قانون د تطبیق دڅار خپلواک کمیسیون، ۲۰۱۰ )

پریکړه کول د شکایتونو دکمیسیون له واکونو څخه دي.[١١٢] دا هم ذکر شوي و، چې د ټاکنو دقانون له مخې د شکایتونو کمیسیون ته واک ورکول چې د ټاکنو د اعتبار په اړه ارزونه وکړي، دا کار خپله د شکایتونو کمیسیون ته الزامي واک ورکوي چې د رایو شمیرنې او رای اچونې په ګډون د ټولې پروسې په اړه کتنه وکړي. نو له دې وجې، پر اساسي قانون د تطبیق دڅار خپلواک کمیسیون د شکایتونو د کمیسیون پر وروستۍ پریکړې ټینګار کاوه او په دې ترتیب سره د ټاکنو خپلواک کمیسیون کولای شي چې د ټاکنو وروستۍ پایلې اعلان کړي.[١١٣]په همدې حال کې، پر اساسي قانون د تطبیق دڅار خپلواک کمیسیون دا یادونه هم کوله، چې د ټاکنو کمیسیون باید له قانونه د جرمي سرغړوونکو او اداري سرغړونکو ترمنځ توپیر وکړي او د یوه مکتوب له لارې یې دقانون پلي کوونکیو بنسټونو ته وروپیژني. خو له دې سره سره، چې دقانون پلي کوونکي اداري له قانونه د جرمي سرغړونکو په اړه پلټنه کوي، دغه کار باید نه د ټاکنو د کمیسیون مخه و نیسي، چې پایلې اعلان کړي او نه پارلمان پرانیستلو.

پر اساسي قانون د تطبیق دڅار خپلواک کمیسیون ټینګار کاوه، چې د اساسي قانون ۸۳ ماده د هغه نظر ملاتړ کوي، چې وایي دشکایتونو د کمیسیون پریکړې وروستۍ دي. همدارنګه ۸۳ ماده دا هم وایي چې ټاکنې باید د پارلمان[١١٤]د دورې له بشپړیدو نه له دیرشو نه تر شپیتو ورځو پورې مخکې تر سره شي. د دغې مادې له مخې د ولسي جرګې کار باید د وروستیو پایلو له اعلان سره سم پای ته ورسیږي. نو له همدې وجې، اساسي قانون د دوو پارلمانونو ترمنځ واټن ته ځای نه دی ورکړی. پر اساسي قانون د تطبیق دڅار خپلواک کمیسیون په پای کې وایي که د شکایتونو کمیسیون پریکړې وروستۍ نه وي، او ټاکنې پر خپل ټاکلي وخت پای ته ونه رسیږي نو په ۸۳ ماده کې راغلي اصول ترپښو لاندې کیږي. پر اساسي قانون د تطبیق دڅار خپلواک کمیسیون وایي چې بایلونکي کاندیدان به تل د ټاکنو پریکړې ننګوي. که چیرې ادعاوې په عادي محکمو کې مخ لاړې شي، نو د محکمو د تګلارو له مخې به نورو خت ته اړتیا پیداشي او په دې کار سره دا امکان نه لري چې په ۸۳ ماده کې راغلي اصول په پام کې ونیول شي.

که چیرې دقانون له مخې په وروستۍ پریکړه کې د مسوولې محکمې له خوا تغییرات نه راوړل کیږي، د ټاکنو او شکایتونو کمیسیونونو له خوا اعلان شوي بریالي کاندیدان باید په پارلمان کې خپلې څوکۍ اشغال کړي. نو له همدې امله، پر اساسي قانون د تطبیق دڅار خپلواک کمیسیون پریکړې په محتاطانه ډول دکاندیدانو قانوني حقونو، د محکمو په پریکړو او د پارلمان د دوام په اړتیا کې توازن رامنځ ته کړ. کله چې پریکړې تایید او اعلان شوې، نو بایلونکو کاندیدانو د ټاکنو له ځانګړې محکمې پر خپلو حقونو دټینګار لپاره جنجالونه کول. د دې ترڅنګ، قانون پلي کوونکو ادارو کولای شوای د قانون له مخې د دوی وظیفې پای ته ورسوي او جرمي پلټنې یې وکړي. خو له دې سره سره، د ټاکنیزو لانجو څیړل او یا هم ځنډول د بریالیو کاندیدانو اعلان او یا هم د نوي پارلمان پرانیسته نه شي ځنډولی.[١١٥]

## ۵.۳ د ځانګړې محکمې کړنې (اجراأت)

سره له دې چې د ټاکنو کمیسیونونو، د ټاکنو د څار کورنیو او نړیوالو څارونکو، ډیری کاندیدانو، سیاسي ګوندونو او قانون پوهانو د ځانګړې محکمې له جوړیدو سره هر اړخیزه مخالفت درلود، خو بیا هم دغه محکمه تشکیل شوه. ټولو خواوو د دغې محکمې جوړیدل او له اساسي قانون سره مطابقت او قانونیت تر پوښتنې لاندې راوستل. دغې ځانګړې محکمې ته دنده سپارل شوې وه، چې د ۳۳ ولایتونو د ټاکنو پایلې و ارزوي. دې کار د رایو شمیرنې نوې پروسې او د قرنطین شویو صندوقونو څیړنې ته اړتیا لرله.

د غې محکمې د شکایتونو او ټاکنوکمیسیون دواړو مرسته وغوښتنه خو د واړو کمیسیونونو دغه محکمه له اساسي قانون سره په ټکر کې بلله او د مرستې هر ډول غوښتنه یې رد کړه. د کمیسیون له هغو غړو، چې مرکې ورسره شوې دي ویل، چې داسې دلیل نشته، چې له مخې یې له دغې محکمې سره مرسته وکړي. په پایله کې کمیسیونونو محکمې ته هغه تګلارې روښانه نه کړې، چې له مخې یې صندوقونه قرنطین شوي وو، رایې شمیرل شوې وې او ټولې هغه پروسې د ټاکنو کمیسیون او شکایتونو کمیسیونونو د ټاکنو د بهیر د یوې برخې په توګه کارولې وې. د ټاکنو ځانګړې محکمې له لویه سره په عام ډول د ټاکنو پر کمیسیون نیوکې کولې چې مرسته نه کوي خو بیا هم کمیسیون هیڅ ډول همکاري ونه کړه.[١١٢] د ټاکنو او شکایتونو کمیسیونونو د ځانګړې محکمې کارونه د منلو وړ نه

١١٢ "د ناکامو کاندیدانو د ادعاوو د څیړلو په اړه د ځآنګړې محکمې پر جوړیدو قانوني نظر پوښتنه،". ګڼه ۸.

١١٣ د ناکامو کاندیدانو د ادعاو د څیړلو په اړه د ځآنګړې محکمې پر جوړیدو قانوني نظر پوښتنه. ګڼه ۸.

١١۴ د افغانسان اساسي قانون، ۸۳ ماده، ۲۰۰۴ کال

١١۵ "د ناکامو کاندیدانو د ادعاوو د څیړلو په اړه د ځآنګړې محکمې پر جوړیدو قانوني نظر پوښتنه،" ګڼه" ۱۳. (کابل: د اساسي قانون پر تطبیق د څار خپلواک کمیسیون، ۲۰۱۰، ډیسمبر ۱۲.

١١٢ "د ټاکنو د ځانګړې محکمې خبري ناسته،" میزان جریده (د سترې محکمې مهالنۍ) د ۲۰۱۰ کال، فبروري- ۱۳۸۹

بلل، په ځانګړي ډول د قرنطين شويو صندقونو د رايو له سره شميرل ، ځکه ويل يې چې دغه يې په ناقانونه توګه نه دي قرنطين کړي. ځانګړې محکمې خپل کارونه په انزوا کې پای ته ورسول. محکمې له ډېرو ادارو نه غوښتنه وکړه، چې په دغه بهير کې دڅارونکو په ډول برخه واخلي خو دفيفا په ګډون ټولو بنسټونو يې غوښتنه رد کړه او د محکمې کارونه يې د اساسي قانون د اصولو له مخې ونڼګول.[117] محکمې په ۳۳ ولايتونو کې چې شکايتونه پکې ثبت شوي وو ، له سره رايې شميرنې وکړې. له پنځو مياشتو کار وروسته، محکمې په ۲۷ ولايتونو کې ۲۲ ناراضی کانديدان بريالی وو.

وروسته له هغه، چې د ټاکنو په اړه د ځانګړې محکمې کارونه پشپړ شول، د سترې محکمې په وړاندې دا پوښتنه راپورته شوه، چې د دغې محکمې د پريکړو په اړه بلې لوړې محکمې ته اعتراض کيدای شي کنه؟ دغې پوښتنې ته د سترې محکمې ځواب مثبت و. ځانګړې محکمې هم د ښکيلو اړخونو هغه حقونه په رسميت پيژندل چې د وروستيو پريکړو په اړه يې د استيناف غوښتنه کولای شي. بالاخره استيناف محکمې د ګڼ شمير بې واکه شويو وکيلانو په غوښتنه د ځانګړې محکمې پريکړه له سره وکتله. د ولسي جرګې ۲۲ غړو، چې د ټاکنو د کميسيون او شکايتونو کميسيون له لوري بريالي اعلان شوي وو ، د دغې محکمې پر پريکړو بحث نه کاوه، ځکه دوی دغه محکمه د اساسي قانون له مخې بې اعتباره بلله.[118] استينفاف محکمې په ځواب کې د ځانګړې محکمې اصلې پريکړه تاييد کړه.

## ۵.۴ سياسي بنسټ؟

د ۲۰۱۰ کال د ولسمشرۍ له ټاکنو وروسته، چې کومې کړکيچ رامنځ ته شو ، لامل يې يوائې قانوني ناروښانتيا نه وه. بلکې د ځانګړې محکمې د قانونيو والي او د اساسي قانون له اصولو سره يې ورته والي په اړه پوښتنو او د ټاکنيزو کميسيونونو کړنو يوې لويې سياسي جګړې ته لاره هواره کړې وه.[119] اساسي قانون او مقررې په ټولنه او خلک عمل ته نه اړباسی، بلکې ټولنې او خلک قوانين په عمل کې پلی کوی. حتا په نړۍ کې تر ټولو غوره اساسي قوانين، له سياسی ارادې پرته نه شي پلې کيدای. د دې بر عکس، کمزوری اساسي قوانين او حتا نا ليکل شوي اساسي قوانين په هغه صورت کې تر ټولو ښه کار کولای شي، چې د اطاعت لپاره يې غوره سياسي چمتووالی موجود وي.[120] کله، چې د ټاکنو لومړنۍ پايلې په ډاګه شوې، ظاهرا داسې معلوميده، چې سياسي لوری به د ولسمشر په تاوان بدليږي. د ټاکنو له شته ميکانيزم سره د مخالفت په ډول، هغه د داسې نوي ميکانيزم جوړيدل غوښتل چې د ده په خوښه د ټاکنو پايلې بدلې کړي. له بده مرغه، په دغه بهير کې د اجرايه ځواک لاسوهنې په ټول افغانستان کې په پراخه کچه په سياسي لوبغاړو کې ناخوښي رامنځ ته کړه، ځکه دغه کار داساسي قانون خلاف و.

د دغې ځانګړې محکمې د جوړيدو لپاره د ولسمشر استدلال هغه وخت پيل شول، چې دی د ټاکنو د کميسيون له لوري د غزني ولايت د پايلو له اعلان سره مخالف شو ځکه هلته ټولې يوولس څوکۍ هزاره ګانو وړې وې. خو په ټاکنو کې د ده د ملاتړو ناکامي، د پياوړې پارلمان له رامنځته کيدو سره د هغه مخالفت او د ټاکنيزو کميسيونونو تر اغيز لاندې راوستل نور هغه لاملونه وو، چې ولسمشر د ځانګړې محکمې د جوړيدو حکم وکړ. د لومړنيو پايلو له اعلان سره سم، ولسمشر د بيا ټاکنو په ترسره کيدو ټينګار پيل کړ. د هغه ټينګار دا و ، چې له غزني نه دپښتنو نه استازيتوب به په دغه ولايت کې نازک امنيتي حالت لا پسې اغيزمن کړي. خو د ټاکنو او شکايتونو دکميسيونونو لپاره د پايلو بدلون غوراوی نه و. دوی د غزني د وروستيو پايلو اعلان له ټاکل شوي وخت نه يوه اوونۍ وځنډاو خو بالاخره يې لومړنۍ پايلی تاييد کړې.[121]

د ۲۰۱۰ کال د ټاکنو په بهير کې د اجراييه ځواک له خوا لاسوهنې د پخوانيو ټاکنو د تجربی تکرار و. د ۲۰۰۹ کال له ټاکنو وروسته، حکومت د ټاکنو کميسيون هڅاوه، هغه کانديدان څارنی لاندی ونيسی، چې د ټاکنو پرمهال يې پر دولت نيوکه کوله. د ۲۰۰۹ کال د ولسمشرۍ ټاکنو په پيل کې، کانديدانو بايد دهغوی د لس زره ملاتړو نومونه، د رای اچونې دکارتونو په اړه معلومات او نور جزييات دټاکنو خپلواک کميسيون ته سپارلی وای.[122] خو د دې ترځنګ په قانون کې دې ته اړتيا نه وه چې کانديدان دې له همدغو ملاتړو نه د ټاکنو پرمهال لږ تر لږه ۱۰،۰۰۰ رايې ترلاسه کړي. له ټاکنو وروسته، د ټاکنو خپلواک کميسيون هغه کانديدان چې له ۱۰،۰۰۰ نه يې کمې رايې ترلاسه کړې وې، لويې څارنوالۍ ته معرفي کړل. داسې ادعا کيده، چې دوی له ټاکنو وړاندې درغلۍ کړې دي. لويې

---

117 "مطبوعاتي اعلاميه،" په افغانستان کې د ازادو او رڼو ټاکنو بنسټ، فيفا ، ۲۰۱۰ ډيسمبر ۱۲

118 د ستري محکمي لوړ پوړی چارواکی، فبروري، ۲۰۱۴

119 قاضي جان کريګلر ( په ۲۰۱۰ کال د شکايتونو دکميسيون کميشنر )، فبروري، ۲۰۱۴

120 جان کريګلر، فبروري ۲۰۱۴

121 د غزني درايو په اړه د بشپړو جزياتو لپاره ، د جوشانه پارټل " د يوه ولايت ستونزو د افغانستان ټآکنې وځنډولې: چارواکي وايي بيا ټاکنې ممکنې دي،" مطلب ولولئ. واشنګټن پوسټ، بهرنۍ برخه. د نومبر ۲۴، ۲۰۱۰ . تامس رټينګ "دغزنې ډرامه ټاکنې: دا سيستم دی." د جنوبي اسيا کانال، بهرنۍ پاليسي، ۲ ډيسمبر، ۲۰۱۰.

122 ټاکنو قانون، ۳۵ ماده، ۲۰۰۵ کال.

ښارنوالۍ دغه کاندیدان د څېړنیاتو لپاره وروغوښتل. خو حقیقت دا وه، چې دغه کاندیدان ځکه په نښه شوې وو، چې دوی په پراخه کچه د ټاکنو پر رڼوالي او د ټاکنو کمیسیون پر استقلالیت نیوکې کولې او دا ګوابښ یې هم کاوه، چې دوی به د ټاکنو پایلې د کورنیو او نړیوالو محکمو په وړاندې راوننګوي.[۱۲۳] د لویې ښارنوالۍ کړنې په ښکاره له هغوقانوني اصولو څخه سرغړونه وه، چې د پخوانیو جرمونو په اړه بندیزونه وضع کوي.

د هر ټاکنو په پایله کې، د ټاکنو او شکایتونو کمیسیونونه لویې ښارنوالۍ ته د سرغړونو او سرغړوونکو یو لیست وړاندې کوي. همدغه کار د ۲۰۱۰ کال د پارلماني ټاکنو په پای کې بیا تکرار شو. خو تر اوسه لویې ښارنوالۍ د[۱۲۴] ۲۰۰۵ او ۲۰۰۹ کال له ټاکنو وروسته د هیڅ شخص د قانوني تعقیب رپوټ نه دی ورکړی. د حیرانتیا خبره خو لا دا ده، چې د ۲۰۱۰ کال له ټاکنو وروسته هم هیڅوک له قانوني پلوه نه دي تعقیب شوي. له بده مرغه، د هغو کسانو پرضد، چې په ټاکنو کې یې سرغړونې کړې وې، قانوني اقدام نه کول په افغانستان کې د معافیت دود ته لا ډېره وده ورکړه.

## ۵.۵ د ځانګړې محکمې منحلیدل او د ټاکنو خپلواک کمیسیون ته یې د واکونو لیږدیدل

ولسمشر په پنځو ورځوکې، د ټاکنو په بهیر نا قانونه لاسوهنو د پای ته رسولو لپاره نړیوالو او کورنیو فشارونو دې ته اړ کړ چې ځآنګړې محکمه منحل کړي او د ټاکنو کمیسیون ته اجازه ورکړي، چې وروستۍ پریکړې اعلان کړي.[۱۲۵]

د ټاکنو خپلواک کمیسیون وروسته اعلان وکړ، چې دوی د استیناف محکمې د له ۲۲ ګڼه قضایی حکم نه وروسته د ولسمشر له خوا داسې فرمان چې له مخې یې د ټاکنیزو لانجو په اړه د پریکړو واک ولسمشر ته ورکړل شوی دی او ولسمشر د ټاکنو خپلواک کمیسیون ته دنده سپارلې چې د اساسي قانون د ۳۳، ۸۲ او ۱۵۲ مادې- او د ټاکنو دقانون د ۲۲، ۲۳ او ۲۴ مادې له مخې او د[۱۲۶] ۲۲ ګنه قضایی له حکم سره سم د ټاکنو په اړه وروستۍ پریکړه وکړي چه دا په خپله په حقیقت کې ولسمشر ته د واک د لیږد اعلان و.

د ټاکنو د خپلواک کمیسیون دا اعلامیه د لحن له مخې داسې ښکاریده، چې د استیناف محکمې د ۲۲[۱۲۷] ګنه قضایی حکم له مخې د پریکړې واک ولسمشر ته لیږدول شوی دی. خو دغه کار دقضا د خپلواکۍ د ټولو اصولو خلاف و ځکه دې چارې اجراییه ته ځواک د قضا په پریکړو کې لاسوهنې ته لاره برابر وله. په دې کار سره همدارنګه د اساسي قانون ۱۲۹ ماده هم نقص کیږي، په دغه ماده کې راغلي چې د قضا ټولې وروستۍ پریکړې د قانون له مخې وروستۍ دي او باید دمحکمو د اصولو له مخې پلې شي.

بالاخره دغه کړکیچ د دواړو ښکیلو خواوو تر منځ په یوه معامله بای ته ورسید. په ورستنیو شیبوکې له هځو څخه د ولسمشر له لاس اخیستنې داسې ښکاریده چی هغه په حقیقت کې د خپلې آبرو دساتنې په خاطر د ټاکنو کمیسیون ته فرصت ورکړی چی وروستۍ پرېکړه وکړی او په دې توګه ځینی نوماندان پارلمان ته لار ومومی.

که څه هم دغه جوړ جاړي د چاروکو له خوا په ځانګړي ډول د ولسمشر له لوري له اساسي قانون نه ځینې پورته واکونه وکارول شول، خو بیا یې هم د اساسي قانون د حکمونو په تړاو راپورته شوی کړکیچ پای ته ورساوه. په سر کې ولسمشر قضاییه قوه تر فشار لاندې ونیوله چی محکمه جوړه کړی او د هغی د موجودیت د توجیه لپاره یې د قانونی زمینو د موجودیت لپاره لاره هواره کړی. خو ولسمشر د محکمی د کار له بشپړیدو وروسته بیرته د دغې محکمې واکونه د ټاکنو خپلواک کمیسیون ته ولیږدول، دی اړ وه، چې د محکمې وروستۍ پریکړې له سره و ارزوي. د ډیرې حیرانتیا خبره خو لا دا ده، کله چې ولسمشر ځانګړې محکمه منحل کړه او واکونه یې د ټاکنو کمیسیو ته ولیږدول، سره له دې چې پر قضایې بشپړ اغیز درلود، قضا د هغه پر پریکړه هیڅ ډول اعتراض ونه کړ.

۱۲۳ بشیر بیژن (پخوانی کاندید او یو له هغو کاندیدانو چې ښارنوالۍ ورغوښتی و) فبروري، ۲۰۱۴

۱۲۴ د اروپا د امنیت او همکارۍ اداري او دارنګه د بشري حقونونو او دیموکراتیکو بنسټونو اداري د ۲۰۱۰ کال د اکتوبر په لسمه نیټه له مرستیال لوی ښارنوال سره تر غونډې وروسته د ټاکنو په اړه په رپوټ کې دغه خبره وکړه. نور مالومات "دټاکنو ملاتړې ډلې رپوټ." کې لیدلی شئ.

۱۲۵ د ټاکنو د ځانګړې محکمې د منحلیدو په اړه د سکاټ وراډن "کرزی د افغانستان د ټاکنو په کړکیچ کې سترګه وهي،" رپورټ وګورئ. فارینن پالیسي، د جنوبي اسیا چینل، ۲۰۱۱ کال، داګست ۱۰ مه؛ رحیم فیض او هیډي وګوټ "د افغانستان محکمې د ټاکنو پایلې نه شي بدلولی" حامد کرزی: (هوفینګټون پوسټ، ۲۰۱۱ د اګسټ لسمه.)

۱۲۶ "خبر پاڼه،" د ټاکنو خپلواک کمیسیون، ۲۰۱۱ د اګسټ۲مه__http://www.iec.org.af/pdf/wolesi-pressr/pressr-deliberation_complaints
(accessed 10 February 2014)cn_wj_2010_21-Aug-2011.pdf

۱۲۷ د قضاد د ۲۲ ګڼه حکم د متن لپاره دا اجازه نه وه چې دباندې د سرچینې په ډول وکارول شي.

د دغه جوړ جاړي له مخې، د ټاکنو خپلواک کمیسیون باید یوه داسې حل لاره موندلې وای چې له دغو ۲۲ کاندیدانو (داسې ښکاریده چې ټاکنې یې بیللې دي) څخه ځینو یې پارلمان ته لاره پیدا کړې.د ټاکنو کمیسیون د ټاکنو دقانون د ۲۲ مادې د اوومې فقرې د تعبیر له مخې، چې د شکایتونو د کمیسیون له منحلیدو وروسته یې واکونه د ټاکنو کمیسیون ته ولیږدول شول، وویل چې دغه کمیسیون کولای شي پایلې تایید کړي، تعدیل یې کړي او یا یې هم باطلې اعلان کړي. دغه ډول تعبیر لومړی د شکایتونو کمیسیون، چې ځارونکی بنسټ دی، د شته والي په اړه پوښتنې راپورته کړې. دویم دغه ډول تعبیر دهمدغې مادې له پخوانۍ فقرې سره په ټکر کې دی، چې وایي د شکایتونو کمیسیون پریکړې وروستۍ دي. دغه کار د ټاکنود کمیسیون له خوا د ټاکنو دقانون ښکاره نقض وو. څکه همدغه کمیسیون د ټاکنو د کړکیچ پرمهال د ټاکنو پرقانون ټینګار کاوه او دا یې ویل چې ځانګړې محکمه دقانون له مخې د شکایتونو دکمیسیون د پریکړو د ارزونې واک نه لري.

دې ته په پام سره، چې دواړه کمیسیونونه له بیلا بیلو سیاسي فشارونو سره مخامخ وو، د ټاکنو کمیسیون له داسې یوې معما سره لاس او ګریوان و، چې د حل لاره یې نه وه. د ټاکنو کمیسیون یا باید د ټاکنو بشپړې او یا هم ځینې پایلې د ولسمشر له هیلو سره سمې بدلې کړې وای او یا یې هغه ډول بدلون پکې راوستی وای چې ځانګړې محکمې یې غوښتنه کوله. داسې ښکاري چې د ټاکنو خپلواک کمیسیون د قانون په ماتولو سره سیاسي فشارونو ته تسلیم شو او له دغو دواړو غوراویو نه یې کمې برخې غوره کړې. ۱۲۸

## ۵.۲ د قضایي خپلواکي: واقعیت که افسانه؟

ستره محکمه، د افغانستان دقضایي ارګان تر ټولو لوړه بنسټ دی، چې په تیوري کې د دغه هیواد خپلواک رکن دی. خو د قضا د استقلال لپاره دې ته اړتیا ده، چې قاضیان نه باید د خپلو شخصي ګټو او یا هم دهغه چا په نفغ چې دوی یې ګمارلي، کار وکړي. د دې لپاره، چې په حقیقي ډول په عمل کې خپلواکه قضا ولرو، لازمه ده چې ځانګړې مهم اقدمات تر سره شي. په دغو اقداماتو کې د قاضیانود ټاکلو سخت بهیر، ځانګړې کاری دو، مشخص مکافات او مجازات او د محاکمو په بودیجه او مالی چارو لاسبری په کې شامل دي. د دې لپاره چې دغه اقدامات اغیزمن ثابت شي، باید دغه معیارونه په اساسي قانون کې تضمین وشي. ۱۲۹

په افغانستان کې قضاییه قوه د بنسټونو له نشتوالي سره مخامخ ده او په پراخه کچه د اجراییه ځواک له نفوذ نه اغیزمنیدونکې ده. هغه مهال، چې حالت په لوړه کچه نازک وي، قضاییه قوه احساس کوي، چې د دوو نورو رکنونو له خوا په پراخه کچه ورته زیان رسیږي، له پارلمانه د خوندیدتوب هڅه کوي، خپله خپلواکي یې اغیزمنه کیږي او له هغه چانه (اجراییه ځواک) مرسته غواړي چې دوی یې ګمارلې دي.

له اجراییه قوې څخه د قضاییه قوې د پلویتوب د وسعت او پراختیا د ۲۰۱۰ کال له ټاکنوڅخه وروسته په جدي توګه ښکاره شول. د پارلمان له پرانیستلو وروسته، د پارلمان غړو په پرلپسې ډول د ځانګړې محکمې دمنحلیدو غوښتنه کوله. کله چې دغې محکمې د ولسي جرګې د ۲۲ غړو په اړه خپله پریکړه اعلان او دهغو پرځای د نورو وکیلانو د کیناستو لاربښوونه وکړه، پارلمان د ۱۳۰ سترې محکمې شپږ غړي استیضاح کړل او پریکړه یې د ملي تلویزیون له لارې اعلان کړه. د پارلمان دې پریکړې ته په ځواب کې سترې محکمې د میزان په نوم مهالنۍ خپرونه کې ولیکل: د اساسي قانون د ۲۴ مادې او اسلامي شریعت له مخې د سترې محکمې او ابتدایي محکمې د قاضیانو لرې کول یوازې د ولسمشر له واکونو څخه دی. ۱۳۱

خو په اساسي قانون کې ولسمشر ته دا واک نه دی ورکول شوی چې د سترې محکمې قاضیان له دندې لرې کړي. د اساسي قانون په ۲۴ ماده کې د قاضیانو په اړه په دوو فقرو کې معلومات راغلي دي. په دولسمه فقره کې په ډاګه ویل شوي، چې د سترې محکمې رییس او غړي د ولسي جرګې په تایید ټاکل کیږي. د همدې مادې په دریارلسمه فقره کې بیا ولسمشر ته نور واک ورکول شوای چې قاضیان وټاکي، تقاعد ورکړي او د قاضیانو استعفا ومني او عزل یې کړي. له دغو دوو فقرو څخه داسې معلومیږي هغه قاضیان چې په ۱۳ فقره کې ذکر شوي، هغوی یا د ابتدایي محکمې او یا هم د استیناف محکمې غړي دي. د اساسي قانون په ۱۱۷ ماده کې دا تایید شوي، چې ولسمشر به د سترې محکمې غړي د ولسي جرګې په تایید ټاکي خو دوی تر هغې نه شي عزل کیدای چې د کار موده یې نه وي پوره شوې.

---

۱۲۸ قاضي، کریګلر، ۲۰۱۴

۱۲۹ د روډریک ای مکډونالډ او هیو کانګ "داساسي قانون د ارزښتونو له مخې د قضا خپلواکی،" وګورئ. اکسپورډ لاربښود، مقایسوي اساسي قانون. اکسپورډ پوهنتون، ۲۰۱۲

۱۳۰ پارلمان یوازې شپږ قاضیان استیضاح کړل څکه د دوی په باور د سترې محکمې د مشر او دوو نورو غړو وخت له وړاندې پوره شوی و. نو څکه پارلمان هغوی د چارواکو په ډول نه پیژندل

۱۳۱ میزان جریده، د سترې محکمې مهالنۍ خپرونه، ګڼه ۱۲۸، کال ۲۰۱۱ – ۱۳۹۰.په دې اړه نور مالومات دلته تر لاسه کولای شئ. http://supremecourt.gov.af/Content/Media/Documents/۱۳۲۵۳۳۲۵۵۳۲۱۷۲۹۳۳۱۲۱۱۱۲۰۱۲۲۱۲۱۸۲۷.pdf,(accessed ۲۵ February ۲۰۱۴).

د اساسي قانون په ۱۲۷ ماده کې راغلي چې د سترې محکمې رييس يا غړی هغه مهال عزل کیدای شي، چې د ولسي جرګې له خوا له واک نه په ناوړه ګټې اخيستنې او ياهم د جرم د اتهام پر اساس تورن شي. خو له دغو اصولو سره سره، سترې محکمې اساسي قانون داسې تعبير کړ، چې ولسمشر کولای شي قاضيان له دندې نه عزل کړي.

## د قضاييه قوې پر وړاندې نورې ننګونې: د اساسي قانون دتفسير واک

د دغو ټاکنيزو پيښوپه بهير کې، چې نژدې يو کال کې حل شوې، دا روښانه شوه چې بيلا بيلو بنسټونو له سياسی يا قانونی توافق پرته له اساسي قانون څخه خپل خپل تعبيرونه لرل.[۱۳۲]

د ۲۰۰۴ کال اساسي قانون کې راغلي، چې په افغانستان کې به داسې يوه محکمه وي چې د اساسي قانون د تعبير واک به لري. خو د اجراييه ځواک له خوا د وروستيو بدلونونو له مخې دغه محکمه منحل شوه او واکونه يې قضاييه قوې ته وليږدول شول. داساسي قانون ۱۲۱ ماده کې په روښانه ټکو ويل شوي قضاييه قوې د دې واک لري چې په افغانستان کې داساسي قانون په اړه د ناروښانه ټکيو په اړه خپله پريکړه وکړي. خو ۱۲۱ ماده د بيلابيلو بنسټونو له خوا د خپلو ګټو پر بنسټ تفسير شوه. ستره محکمه دغه ماده داسې تفسيروي چې يواځې ستره محکمه د اساسي قانون [۱۳۳] د تفسير واک ولري خو د اساسي قانون پر تطبيق دڅار خپلواک کميسيون بيا بل ډول نظر لري. [۱۳۴] د بيلګې په ډول، د اساسي قانون پر تطبيق دڅار خپلواک کميسيون يو غړي داساسي قانون په ۱۲۱ ماده کې ابهامات تايي کړل. په دغه ماده کې راغلي، چې داساسي قانون د ۱۵۷ مادې له مخې د اساسي قانون پر تطبيق دڅار کميسيون رامنځ ته کيدای شي. دغه غړي دارنګه د اساسي قانون د ۹۴ مادې له مخې دا هم ويل چې ملي شورا د قوانينو د تصويب واک لري. نو له همدې وجې، ده ويل، دا چې د اساسي قانون پر تطبيق دڅار کميسيون قانون ملی شورا تصويب کړی، او قانون د اساسی قانون پر تطبيق د څار خپلواک کميسيون ته دغه صلاحيت ورکړی دی. [۱۳۵]

که داساسي قانون د ۱۲۱ مادې له مخې، ستره محکمه د دې واک لري چې له اساسي قانون سره د نورو قوانينو مطابقت وڅيړي، نو دا څنګه امکان لري چې خپله داساسي قانون د تفسير څخه پرته دغه څېړنه تر سره شی ؟ [۱۳۲] دا روښانه ده، چې ملي شورا به هغه قوانين تصويب نه کړي، چې د اساسي قانون له اصولو سره ټکر ولري. دا ، چې ولې ستره محکمه د اساسي قانون د تفسير واک د ځان ګڼي، دليل يې دا دی چې ښايي ځينې ځانګړې قوانين داساسي قانون له اصول سره په تناقض کې وي. په دغه ډول حالاتو کې، د قضاييه قوې په څير اداري بايد په داسې ښه قوانين و ارزوي، چې د اساسي قانون له اصولو سره برابر وي.

کله، چې ولسي جرګې پر اساسي قانون د تطبيق د څار کميسيون قانون تصويب کړ، جالبه خو دا وه چې پر اساسي قانون د تطبيق د څار کميسيون ته يې دا وک هم ورکړ چې له سترې محکمې سره د دغه کميسيون د اوسنی مخامختيا په اړه هم له قضايي پلوه ارزونه وکړي. دا کار د اساسي قانون له ۱۲۱ مادې سره، چې سترې محکمې ته يې دغه واک ورکړی، ښکاره ټکر و. په ۱۲۱ ماده کې راغلي:

> له اساسي قانون سره د قوانينو ، تقنيني فرمانونو ، بين الدوله معاهدو او بين المللي ميثاقونو دمطابقت، دحکومت يا محاکمو په غوښتنه او دهغو تفسير د قانون له حکمونو سره سم د سترې محکمې صلاحيت دی.

نو ځکه، داساسي قانون د تفسير او له اساسي قانون سره د نورو قوانينود تطبيقولو واک، نه يواځې دا چې بايد د رڼاوی يې وشي، بلکې پر اساسي قانون دتطبيق د څار کميسيون له جوړيدو سره بايد اصلاح شي. نو، له دې سره د اساسي قانون په اړه ، پر اساسي قانون دتطبيق د څار کميسيون نقش نا رسمي وي ځکه بيلابيل بنسټون د اساسي قانون په اړه يو ډول کار پر مخ ته بيايي. که چيرې داساسي قانون پر وړاندې سرغړونه کيږي، نو سرغوونکی بايد د قانوني تعقيب لپاره سترې محکمې ته معرفي شي.

په همهالي ډول د دوو بنسټونو له خوا، د اساسي قانون د تفسير او د اساسي قانون له اصولو سره د نورو قوانينو مطابقت سياسي لوبغاړو ته دا فرصت برابروي چې په خپله خوښه په دواړو بنسټونو کې يو د دې لپاره غوره کړي، چې د دوی په ګټه پريکړې وکړي. د

۱۳۲ سکاټ ورډين او سلوانا کيو سينها: "په افغانستان کې داساسي قانون تعبير او روان کړکيچ،". (واشنګټن ډي سي: د امريکا د سولې انسټيټوټ، ۲۰۱۱ )

۱۳۳ د سترې محکمې لوړ پوړی چارواکی، ۲۰۱۴.

۱۳۴ ولسی جرګې دا خبره رد کړه، چې ګڼې ستره محکمه د اساسي قانون د تفسير واک لري او له همدې امله يې پر اساسي قانون د تطبيق د څآر کميسيون له قانوني پلوه دغه واک ورکړ.

۱۳۵ امين احمدي، "په افغانستان کې داساسی قانون د تفسير واک،" http://icoic.gov.af/Content/20%D9%85%D8%B1%D8%AC%D8%B9%20%D9%82%D8%A7%D9%86%D9%88%D9%86%20%D8%A7%D8%B3%D8%A7%D8%B3%DB%8C.pdf%20%D8%AA%D9%81%D8%B3%DB%8C%D8%B1%20files (accessed March 2014).

۱۳۲ نادر دري، (په افغانستان کې د ازادو او رڼو ټاکنو بنسټ- فيفا اجرايوي مشر ) فبروري، ۲۰۱۴.

دغو دواړو بنسټونو په قضايي قلمرو کې نا روښانتيا او ابهام، د قضاييه قوې پريکړې اغيزمنې کړې دي او داسې د هيواد په کچه يې داسې مغشوشتيا راپورته کړې چې اجرايوي ځواک يا نور بنسټونه ترې په اسانۍ په خپله ګټه کار اخيستی شي.

خو له دې هر څه سره سره دافغانستان په اوسني حالت کې، د سترې محکمې لپاره خورا ضروري ده، چې خپله خپلواکي ولري. په ځانګړې ډول چې کله د اساسي قانون د تفسير مسله راپورته کيږي. که چيرې، ستره محکمه د اجرايوي ځواک په خوښه خپل کارونه همداسې پر مخ بوځي، نو داساسي قانون د تفسير لپاره ښه اغيزمن بنسټ نه شي کيدای. د اجرايوي ځواک (ولسمشر) او يا هم قاضيانو ته د دې اختيار ورکول چې اساسي قانون په خپله خوښه تفسير کړي، د کار په لومړي سر کې داساسي قانون لرل نفي کوي.[۱۳۷]

له دې سره سره، په ځينو ځانګړو حالاتو کې چې قضا خپله خپلواکي ونه شي ساتلای- لکه د ځانګړې محکمې د جوړيدو پرمهال چې و ليدل شول، ښايي دا تر ی غوره وي چې داساسي قانون پر تطبيق د څار کميسيون د اساسي قانون تفسير وکړي. خو په دغه ډول حالاتو کې به بيا هم دا مغشوشتيا موجوده وي، چې داساسي قانون تفسير د چا صلاحيت دی. هغه دريځ چې په ۲۰۱۰ کال کې د ټاکنو په اړه پر اساسي قانون دتطبيق د څار کميسيون د ولسمشر په مقابل کې غوره کړ، هغه يواځې د څو غړو دريځ و، نه د ټول کميسيون.[۱۳۸] نو ځکه لکه د سترې محکمې په څير، که پر اساسي قانون دتطبيق د څار کميسيون غړيتوب کې بدلون راځي، ښايي د ناپېيلتوب کچه يې له خطر سره مخامخ شي.

## ۵.۷ د ټاکنيزو بنسټونو راتلونکې

د ۲۰۱۰ کال له ټاکنو وروسته دا روښانه شوه، چې په ټاکنيزوقوانينو او په ځانګړې ډول د ټاکنو کميسيونونو په واکونو کې اصلاحاتو ته اړتيا وه. له خورا ډيرو بحثونو او سياسي هڅونو وروسته، د ۲۰۱۳ کال په جولای کې د ټاکنو قانون د پارلمان له خوا و ارزول شو او تصويب شو. ولسي جرګې همدارنګه د ټاکنو دخپلواک کميسيون او د شکايتونو کميسيون د جوړښت، دندو او واکونو په اړه هم بل قانون تصويب کړ.[۱۳۹] د دې قانون له تصويب وروسته، پارلمان هڅه کوله چې د ټآکنيزو کميسيونونو د جوړښت خپلواکي خوندي کړي او د دواړو کميسيونونو دغړو په غوره کولو کې د ولسمشر واک محدود کړي. د قانون له مخې د شکايتونو کميسيون يو دوامداره کميسيون شو او په نوم کې يې د ( خپلواک ) کلمه هم ور ايضافه شوه، چې په دې سره يې د خپلواک څارونکي بنسټ په څير نقش ډير لوړ کړي.

د ټاکنو دخپلواک کميسيون او د شکايتونو کميسيون د جوړښت، دندو او واکونو په قانون کې د غوراوي کميټې د جوړيدو وړانديز شوی. د دغې کميټې دنده دا ده، چې د دغو کميسيونونو دغړو د ټاکلو لپاره د کانديدانو غوښتنليکونه تر لاسه کړي. خو دټاکنو په قانون کې ددغو کانديدانو لپاره ټاکنيزه تجربه شرط نه ده بلل شوې.[۱۴۰] دغه کميټه به ولسمشر ته د ټاکنو دخپلواک کميسيون دغړو ټاکلو لپاره د ۲۷ کسانو نوملړ ورکوي او د شکايتونو د کميسيون لپاره به د ۱۵ کسانو ليست وړاندې کوي. ولسمشر به له دغه ليست نه د ټاکنو کميسيون لپاره ۹ غړي او د شکايتونو کميسيون لپاره پنځه غړي په خوښه ټاکي. په هر کميسيون کې د هرې ځوکۍ لپاره، ولسمشر ته درې کانديدان معرفي شوی وو. دغوراوي کميټې په جوړښت کې د ملي شورا د دواړو جرګو مشران، د سترې محکمې مشر، دافغانستان دبشري حقونو دخپلواک کميسيون مشر (AIHRC)، پر اساسي اساسي قانون د تطبيق د څار کميسيون مشر او د مدني ټولنې يو غړی شامل وو.

د ټاکنو له قانون تصويب ته سم لاسي وروسته، د ټاکنو خپلواک کميسيون ادعا وکړه چې د غوراوي کميټه له اساسي قانون سره په ټکر کې ده او ناقانونه ده.[۱۴۱] د ټاکنو خپلواک کميسيون او نور هغه څوک چې د غوراوي کميټې مخالف وو، باور کاوه چې ولسمشر غواړي د دغه ډول مکانيزمونو په رامنځ ته کولو سره په حکومتي بنسټونو کې خپلې ګمارنې وکړي. د اساسي قانون د ۶۴ مادې په ۱۳ فقره کې راغلي چې ولسمشر د لوړ پوړو چارواکو د ګمارنې واک لري خو په اساسي قانون کې دا نه دي ويل شوي چې ولسمشر به د ټاکنو د خپلواک کميسيون غړي هم ټاکي.

۱۳۷ د بيلګې په ډول، د رابرټ ايچ بورک ( تر ټولو ښه مناظره ) وګورئ : زموږ داساسي قانون تفسير، ۴۳. (واشنګټن ډي سي. فدرالي ټولنه، ۲۰۰۵)

۱۳۸ خبري ناسته، کابل ۲۰۱۴

۱۳۹ د ټاکنو دخپلواک کميسيون او ټاکنيزو شکايتونو کميسيون د جوړښت، واکونو او دندو قانون ( رسمي جريده، ګڼه ۱۱۱۲) ۲۰۱۳ (۱۳۹۲)

۱۴۰ د ټاکنو دخپلواک کميسيون او ټاکنيزو شکايتونو کميسيون د جوړښت، واکونو او دندو قانون. ۷ ماده، دريیمه بند او ۲۱ ماده دريمه بند.

۱۴۱ صالحه سادات، طللوع نيوز- د ۲۰۱۴ کال ټاکنې، "دټاکنو کميسيون مشر: د غوراوي کميټه او د شکايتونو کميسيون د اساسي قانون خلاف دي" د ۲۰۱۳، جولای.

خو له دې سره سره، د غوراوي کميټې پلويانو بيا استدلال کاوه، چې د اساسي قانون په **۲۴** ماده کې په روښانه ټکو راغلي چې په حکومت کې ګمارنې بايد له قانون سره سمې وشي. په اساسي قانون کې په ځانګړي ډول ويل شوی، چې ولسمشر بايد په هيواد کې د اداري او روغتيايي سيستم د سمون لپاره لازم اقدامات ترسره کړي. دولت خپلې ټولې دندې بې پرې او د قوانينو له اصولو سره سمې پر بوځي .... دولت به د هيواد وګړي له هر ډول تعصب پرته د ورتياوو له مخې له قانون سره سم [142]استخداموي. د دې ترڅنګ، دغې کميټې محدود واک درلود خو ولسمشر ته بشپړ واک ورکول شوای و، چې وروستۍ پريکړه وکړي.

د دريوو دلايلو له مخې دکميټې کار اغيزمن نه و. لومړی داجراييه ځواک د يوې سياسي مداخله چې نه يې غوښتل د مدنی ټولنې منتخب استازی په دې پروسه کې شامل شی. [143] د په داسی حال کې ده ، چې مدنې ټولنو د فيفا بنسټ مشر، چې د **۲۰۰۴** کال ټاکنې يې هم څارولې وې، د دغې کميټې غړيتوب ته ټاکلی و. خو د چارو اداري او وزيرانو شورا دارلانشا دعوه کوله، د مدني ټولنو دخپلو کانديدانو داستازو نومونه دوی ته نه دي ورکړي نو ځکه د افغانستان د رښو ټاکنو بنسټ- ټيفا هم خپل ځان نومولی دی. [144]دغه بنسټ همغه وخت نوی پرانيستل شوی و. نو له همدې امله، د مدنې ټولنې استازي نه هم د شکايتونو د کميسيون دغړو او نه هم د ټاکنو د کميسيون د غړو په ټاکنو کې برخه واخيستلای شوای.

دويم، په قانون کې د سياسي ګوندونو استازو ته اجازه نه وه ورکول شوې چې د غوراوي په کميټه کې برخه واخلي. خو په دغه بهير کې بايد د ګوندونو استازو ته برخه ورکول شوې وای او يا هم په دغه بهير کې د شفافيت د ډاډمنيدو لپاره بايد دګوندونو استازو ته لږ تر لږه د ناظرينو په ډول ځای ورکول شوی وای. درييم، د کميټې په اکثريت غړو کې داسې څرګند تمايل و، چې هغه کسان کانديدان کړي چې دحکومت خوښ وي. حتا که په دغه کميټه کې ځينې غړي د ځانګړو کسانو د کانديدۍ مخالف هم وو، نو دقانون له مخې اکثريت بيا هم غالب و. [145]حتا داسې رپوټونه هم ورکول شوې وو، چې د دغې کميټې غړو له ولسمشر سره، مخکې له دې چې هغه ته د **۲۷** کانديدانو وروستی نوملړ وسپاري، په دې اړه بحث کړی و. [146]

د غې کميټې همدارنګه د کانديدانو دغوراوي لپاره ځانګړی طرزالعمل او هم لارښودو نه درلول. هغه قانون چې دغه کميټه يې رامنځ ته کړې وه،د هغه چارو د اجرا څرنګولی په اړه يې د يادونی وړ جزييا نه وو وراندې کړی. [147] نو له همدې امله د کانديدانو غوراوی خورا په عجله وشو او په پراخه کچه پرې مدنې ټولنو نيوکې وکړې ځکه داسې فکر کيده، چې ډير کانديدان د ولسمشرۍ ماڼۍ پلويان دي. [148]

سره له دې، چې نه هم د غوراوي بهير او نه هم ټاکل شوي کانديدان مطلوب (ايډيال) کسان وو، خو بيا هم داسې ځانګړي اقدامات ترسره شول، چې وښيي ګوندې د کميسيونونو غړي په بشپړ ډول د ولسمشر له خواو نه ټاکل شي. نو دغه نسبی اصلاحات د ټاکنيزو کميسيونونو د بې پريوالي د ډاډمنولو لپاره يو لوی اقدام وه. خو لا هم په مجموع کې د شکايتونو دکميسيون په واکونو کې هيڅ بدلون را نه وړل شو اود پخواني قانون په څير د دغه کميسيون پريکړې وروستۍ او د بدلون وړ نه وې. د غه څرګنداصل، چې د شکايتونو د کميسيون پريکړې څوک نه شي ننګولای، په راتلونکې کې د کميسيون په چارو کې د سياسي لاسوهنو د خونديتوب ضمانت کوي.

د **۲۰۱۳** کال د ټاکنو دخپلواک کميسيون او ټاکنيزو شکايتونوکميسيون د جوړښت، واکونو او دندو قانون ځينې نورې ځانګړنی دا دي چې ( په **۱۱** او **۲۳** مادې کې له راغلو احکامو ) او د مسوولې محکمې له پريکړو پرته د کميسيون غړی څوک نه شي نيولی. همدارنګه دا هم ويل شوي چې دکورنيو چارو وزارت به د دواړو کميسيونونو لپاره امنيت ټينګوي. ( **۳۳** ماده).

د قانون له مخې د شکايتونو کميسيون بايد پرانيسې غونډې ولري چې سياسي ګوندو، مدنې ټولنې، رسنيو، کورنيو او نړيوالو څارونکو ته بايد پکې د ګډون اجازه ورکول شي. (**۲۴** ماده) د شکايتونو دکميسيون ماموريت دا دی، چې خپلې ټولې پريکړې داساسي قانون، ټاکنيزو قوانينو او د هيواد له نورو قوانينو سره په مطابقت کې وکړي. ( **۲۵** ماده) په قانون کې تصريح شوې، چې د شکايتونو د کميسيون پريکړې وروستۍ او د بدلون وړ نه دي. ( **۱۴** او **۲۲** ماده).

---

۱۴۲ د افغانستان اساسي قانون، **۵۰** ماده، **۲۰۰۴**.

۱۴۳ د افغانستان د تحليل ګرانو شبکې د رپوټ له مخې، "مدنې ټولنو د چارو ادراه په دې ملامتوله چې په دغه بهير کې يې لاسوهنه کوله چې د مدنې ټولنې استازی د غوراوي په کميټه کې برخه ونه اخلي. په دې کار سره دوی غوښتل، چې د کانديدانو وروستی ليست په خپله خوښه وټاکي." ګران هيواد، مارټين وان بجليرټ او تامس پوټيګ : له عجلې ډک بهير: د ټاکنو نوی کميسيون اعلان شو. کابل ( دافغانستان دتحليل ګرانو شبکه، **۲۰۱۳** )

۱۴۴ سادات " د غوراوي کميټه او د شکايتونو کميسيون داساسي قانون خلاف دي،"

۱۴۵ د ټاکنو دخپلواک کميسيون او ټاکنيزو شکايتونو کميسيون د جوړښت، واکونو او دندو قانون، **۸** ماده، درييم بند او **۲۲** ماده دريم بند.

۱۴۶ هيواد، وان بيجليرټ او ټوپيګ: "يوه عجله پروسه."

۱۴۷ هيواد، د اړيکو برخه، **۲۰۱۴**

۱۴۸ هيواد، وان بيجليرټ او ټوپيګ:"يوه عجله پروسه."

د **۲۰۱۳** کال د ټاکنو په قانون کې د بېلا بېلو ټاکنيز پروسو په اړه ډېر داسې جزيات راوړل شوي، چې پخوانيو هغو کې نه و. د بېلګې په ډول، په دغه قانون کې کانديدانو او دهغوی استازو ته دا حق ورکول شوی، چې د قرنطين شويو بکسونو په اړه خپل شکايتونه دشکايتونو له کميسيون سره ثبت کړي او د ټاکنو کميسيون هم بايد دصندوقونو د قرنطين لپاره تګلارې جوړې کړې. ( **۵۷** ماده ).

د ټاکنو په قانون کې د ټاکنو کميسيون ته دا واک هم ورکړل شوی، چې که دشکايتون کميسيون پريکړې ورته ناسمې ښکاري، پرضد يې اعتراض وکړي خو بيا هم د وروستۍ پريکړې واک له شکايتونو کميسيون سره وي. ( **۵۹** ماده ). د ټاکنيزو د لانجو او د شکايتونو د څېړلو په اړه په **۱۳** فصل کې کافي جزييات راوړل شوي، چې د شکايتونو کميسيون بايد څه ډول تګلارې طرزالعملونه ورته جوړ کړي ( **۲۲** او **۷۰** ماده ) خو د **۲۵** مادې له مخې، د کانديدانو رايې بايد په هغو مرکزونه کې هملته باطلې اعلان شي په کومو کې چې د کانديدانو او يا هم دهغوی د پلويانو له خوا سرغړونې شوې وي، يا يې له واکه نا وړه ګټه اخيستې وي او يايې هم د ټاکنو په بهير کې له وسلې نه کار اخيستی وي. که چيرې يو څوک دغه ډول ناقانونه کړنې کوي، دا به له ارزښته ډکه خبره وي چې د ټاکنو له بهير و ايستل شي ځکه په دې کار سره به په راتلونکې کې د ورته سرغړونونه مخنيوی ډاډمن شي.

په قانون کې دټاکنيزو شکايتونو مستقل کميسيون د قانون د تنفيذ د بنسټونواو قضاييي قوې واکونو حدود مشخص شوې دي. په قانون کې راغلي، په هغو مواردو کې چې درغلۍ جرمي بڼه ولري، د قانون پلې کوونکيو ادارو ته تورن کسان پېژندل کيږي اود نورو ټول ټاکنيزو لانجو په اړه به دشکايتونو کميسيون پريکړه کوي. په پای کې د ټاکنو قانون د ټولو هغو اصولو ځای نيسي، چې ټاکنې اداره کوي. ( **۸۰** ماده ).

د ټاکنو اوسنی قانون په ټوله کې د ټاکنو پرمهال د څارونکو او اواستازو د ملاتړکوي دی. د دغه قانون په **۵۵** ماده کې د څارونکو او ستازو دندې تصريح شوي دي او وايي چې دوی بايد (دهر ډول لانجو د رامنځ ته کيدو د او اوازو دخپريدو مخه ونيسي). دغه ډول له ابهامه ډک اصول په ډيره اسانۍ داسې کارول کيدای شي، چې د استازو او څارونکو کارونه محدود کړي او تر اغيز لاندې يې راولي. د بېلګې په ډول، که چيرې کوم استازی او يا هم څارونکی د رايو په مرکز کې د ټاکنو بهير او يا د ټاکنو چارواکي وننګوي، کيدای شي دغه کار د لانجو جوړول وانګيرل شي او د څارونکي او يا هم استازي خوله د ټاکنو د چارواکو له خوا وتړل شي. نو په خپله بايد په قانون کې دا جمله (دهر ډول لانجو د رامنځ ته کيدو او اوازو دخپريدو مخه ونيسي) جمله تعريف شي او يا هم په جلا مقررو او اصولو کې راوړل شي.

دا هم مهمه ده، چې حکومت او ټاکنيز کميسيونونه بايد د ټاکنو د بهير په بيلا بيلو برخو کې څارونکو بنسټونو ته دبرخې اخيستو اجازه ورکړي. د فيفا، د اروپا دامنيت او همکارۍ ادارې او نورو نړيوالو او کورنيو ادارو په رپوټونو کې په پرلپسې ډول شکايت شوی، چې له پخوانيو ټاکنو لا له دوی وړاندې له پامه غورځول شوې دي. د دغو ادارو کارونه به تر هغې په اوږد مهال کې اغيزمن نه وي، چې حکومت او ياهم ټآکنيز کميسيونونه له دوی سره يوځای لاس په کار نه شي او نور اصلاحات رانه ولي.

## ۲. هغه درسونه، چې له ټاکنو څخه زده شول

دقانون حاکمیت وايي: هغه څه، چې پېښ شوی او ستاسو خوښ نه وي، خو له هغه سره ژوندکوي هڅه مه کوئ چې اساسي قانون بدنام او له هغه نه سؤ استفاده وکړئ.

- قاضي، کریګلر، د ټاکنیزو شکایتونو د کمیسیون غړی، ۲۰۱۰

د ۲۰۱۰ کال په پارلماني ټاکنو کې د اساسي قانون او نورو قوانینو تر پښو لاندې کولو یو څه روښانه کړله، چې د حاکم نظام د ټاکنو پایلې خوښې نه وې او هڅه یې کوله، چې له اساسي قانون څخه د لوړو اقداماتو په ترسره کولو او په هره ممکنه لاره یې پایلې بدلې کړي. حکومت له قضاییه قوې او نورو بیلابیلو لارو کار واخیست، چې پر ټاکنیزو کمیسیونونو فشار راولي او پریکړې یې ونګوي. کله چې حکومت کمیسیونونه ونه شوای هڅولی، داسې ځانګړې محکمه یې جوړه کړه، چې د ټاکنو کمیسیون خلاف وه. بالاخره حکومت کولای شول، چې د ټاکنو پایلې هغه ډول بدلې کړي، چې په قانون کې یې په اړه هیڅ نه و راغلي.[۱۴۹] په پارلماني ټاکنو کې قانوني او داساسي قانون شخړې هیڅ یوه لویه سیاسي ستونزه نه وه، بلکې اساسي قانون او د قانون حاکیمیت ته درناوی نه و.

په افغانستان کې د اغیزمنو ټاکنو د ترسره کیدو لپاره، په دغه هیواد کې د اساسي قانون اصولو او د قانون حاکمیت ته درناوی په کار دی. همدارنګه د ولسمشر د مهارکولو لپاره په سم ډول په بنسټونو کې د واک ویش، پیاوړې پارلمان، بې پرې او خپلواکې قضا، د ټاکنو بې پرې کمیسیونونو او د ټاکنو د څارنې لپار پیاوړو څارونکونو بنسټونو چې څارنه وکړي او ناقانونه کړنې را برسیره کړي.

په افغانستان کې د واک ویش د ناکامۍ پر څنډه ولاړ دی، ځکه له دغې ناکامۍ نه یوي ځانګې ګټه ترلاسه کړې او په هرڅه واکمنه پاتې شوې، نو د دې لپاره، چې د دولت په درې واړو ارګانونو کې واک په مساوي ډول وویشل شي، په بنسټونو کې اصلاحاتو ته خورا اړتیا ده. د دغو اصلاحاتو د رامنځ ته کیدو لپاره، سیاسي اراده حتمي ده. که چیرې حکومتي بنسټونه همداسې بې اغیزې او غیر مؤثر وی، افغانان به پرې خپل باور له لاسه ورکړي. دغه کار به د ټاکنو د کمیسیون په څیر په نورو بنسټونو هم تاثیر وکړي. پر حکومتي بنسټونو د عامو خلکو باور باید د اصلاحاتو له مخې، چې دقانون حاکمیت پراخ کړي، پیدا شي.

د افغانستان په اساسي قانون کې د قضاییه قوې د خپلواکۍ ضمانت شوی، خو دغې خپلواکۍ ته باید د دولت ټول ارګانون درناوی ولري او څارنه یې وکړي. دا چې افغانستان تازه دغه تجربه پلې کوي، په دغه هیواد کې قضاییه قوې بیلا بیلو ننګونو اغیزمنه کړې ده، لکه اداري فساد، لږه ګټه اخیستل، قضایي ښایسته سالاري او له مالي پلوه پر نورو تکیه کول. د دې ترڅنګ، د ولسمشر لاسوهنو هم د قضاخپلواکۍ لا پسې اغیزمنه کړې ده.

### ۲.۱ وړاندیزونه

په افغانستان کې د ټاکنو د بریالیتوب د دقیقې څېړنې دترسره کیدو او یا هم د ټاکنو دښې اداري لپاره، په پراخه کچه پر هغه سیاسي مهفوم پوهیدل په کار دي، چې ټاکنې پکې ترسره کیږي.

د ټاکنو پروسه ټکنۍ، ستونزمنه او پراخ فساد زیان ور اړولی و. د اصلاحاتو هغه هڅې چې ټاکنو په بهیر کې د دغو ننګونو دحل لپار ترسره کیدې، هم له نیمګړتیاوو ډکې وې. خو له دې سره سره، په افغانستان کې د ټاکنو ترسره کیدل په خپله یوه لویه لاس ته راوړنه وه. د دغې لاس ته راوړنې مهم لاملونه قانوني چوکاټ، د ټاکنیزو چاراوکو هڅې، د کورنیو او نړیوالو څارونکو پر لېسې څارنه او دنړیوالې ټولنې مرستې وې. هغو نظرونوته په پاملرنه چې په دې څېړنې کې وڅیړل شوې، هغه مهم وړاندیزونه چې په دې څېړنه کې په پام کې نیول شوي دادي:

۱۴۹ قاضي کریګلر، ۲۰۱۴

## د افغانستان د اساسي قانون سمون (اصلاح)

- د دولت درې واړه څواکونه باید په ګډه هڅې وکړي، چې اساسي قانون اصلاح شی. په دغو اصلاحاتو کې د اساسي قانون تعدیل اړین دی، ځکه په افغانستان کې به د واک د برابر ویش لپاره زمینه برابره کړي. د اساسي قانون تعدیل باید د داسې پیاوړي سیستم رامنځ ته کول ډاډ من کړي، چې د دولت په درې واړو څواکونو کې د مساوي واک ویش رامنځ ته کړي او عملي یې کړی.
- د قضاییه قوې خپلواکي، همغسې چې د قانون د حاکمیت لپاره یې یادونه شوې د افغانستان راتلونکې ته خورا اړینه ده. دی ته اړتیا ده چې اساسی قانو داسې اصلاح شی چې د قضاییه قوې نقش د دولت د یوه مساوي او موازي رکن په ډول پیاوړی شي او همدارنګه د اجرایی قوې د بې مورده نفوذ مخه هم ونیول شي. په ځانګړي ډول، د سترې محکمې د قاضیانو د ټاکلو بهیر باید دقیق تر سره او یواځې د ولسمشر صلاحیت کې پاتې نه شي. هغه موده، چې د اساسي قانون له مخې دقاضیانو لپاره ټاکل شوې، باید درناوی یې وشي او وڅارل شي. له تقاعد اخیستلو وروسته باید قاضیانو ته مناسب تقاعد، فزیکي امنیت او نوره حق الزحمه ورکول شي. قضا باید ځانګړې د بودیجی او له مالي پلوه خپلواکه وي.
- د سترې محکمې او پر اساسي قانون د تطبیق د څار خپلواک کمیسیون واکونه باید په روښانه ډول مشخص شي. په څرګنده توګه دغه ډول اصلاحات ځکه ضرور دي، چې د قانون د تفسیر صلاحیت او د قوانینو څېړنه پای ته ورسیږي. د سترې محکمې واکونو ته نه یواځې باید دا چې درناوی وشي، بلکې پر اساسي قانون د تطبیق د څار خپلواک کمیسیون په اتمه ماده کې له بدلون سره باید پیاوړې شي. پر اساسي قانون د تطبیق د څار خپلواک کمیسیون باید په هیواد کې داساسي قانون د پلې کیدو څارنه وکړي.
- به هر حال په لنډ مهالي حالت کې په افغانستان کې د قانون د پلی کولولپاره دې ته اړتیا ده چې باید د دریو اړو رکنو نو د وظیفوی او جوړښتی تفکیک لکه څنګه چې به اوسنی اساسي قانو کې مشخص شوی درناوی وشي. په ځانګړی توګه باید اجراییه قوه د قانون احکاموته په پاملرنه ځان له قانون سره عیار او هغه مراعات کړی همدارنګه د خلکو او دولت په وړاندی ځان په حساب وړکونه مکلف و ګڼی. له بلی خوا باید قضاییه قوه او پارلمان له اجراییه قوې سره د دوو موازی رکنونو په توګه د اساسي قانون پر بنسټ خپلی دندی د اجراییه قوې د په څارلو سره تر سره کړی یا د اجراییه قوې کړنی وڅاری.

## د افغانستان دولت ته

- د افغانستان دولت باید ډیره هڅه وکړي، چې دا تضمین کړی چې د ټاکنو بهیر د واکمن رژیم لپاره یو سیاسي مصلحتی بهیر نه دی. حکومت باید د ټاکنو بهیر او اړوندو قوانینوته درناوی وکړي، د دې پرځای چې د ټاکنو د پایلو د سبوتاژ هڅه وکړي او یا یې بدلې کړې، باید دټاکنو پایلې ومني.
- د قانو حاکمیت ته درناوی، هیواد د سیاسی او قانونی ثبات لپاره یوه جدی اړتیا ده. دولت باید د قانون حاکمیت ته درناوی وکړي او له قانون نه د هر ډول پورته کړنو مخه ونیسي.

## ټاکنیزو کمیسیونونو ته

- د دې لپاره، چې د ټاکنو کمیسیونونه خپل کارونه له ټاکلي مهالویش سره سم پیل کړي، ملي شورا باید ټاکنیز قوانین له وړاندې تصیب کړي.
- د ټاکنو خپلواک کمیسیون او د شکایتونو کمیسیون باید له قوانینونو پوره معلومات ولري او د ټاکنیزو قوانینو د ښه پلې کیدو لپاره باید تګلارې او لارښودونه جوړ کړي. د دواړه کمیسیونونه باید خپلو ټولو کارکوونکو ته له ټاکنو څخه وړاندې د ټاکنیزو قوانینو، تګلارو او لارښودونو په اړه پوره زده کړې ورکړي.
- سره له دې، چې دواړه کمیسیونونه خپلواک دي، خو بیا هم دواړه باید داسې مشترک پروسجرونه رامنځ ته کړي، چې له مخې یې په کارونو کې په لوړه کچه همغږي ډاډمنه شي. د بیلګې په ډول کمیسیونونه باید داسې طرزالعملونه همغږي کړي، چې له مخې یې رایې باطلې کړي.

- اوس دواړه کميسيونونه هم د ټاکنو کميسيون او هم د شکايتونو کميسيون دومداره بنسټونه دي. خو له دې سره سره، کله چې د دغو کميسيونونو د غړو د کارموده پای ته رسيږي، پرته له ځنډه بايد دهغوی ځآی ناستي وټاکل شي. د غوراوي په بهير کې بايد لا ډير شفافيت رامنځ ته شي، د مدني ټولني او د سياسي ګوندونو استازو ته بايد برخه پکې ورکول شي. د دغه کار لپاره بايد د ټاکنو قانون په ۸ او ۱۲ ماده کې تعديل راوړل شي.
- د خلکو د باور د ترلاسه کولو لپاره دې دواړه کميسيونونه پراخې هڅې وکړي. اوس د ټاکنو پر وړاندې بدبيني ډيره شوې ده. د تيرو څو ټاکنو له تجربو نه معلوميږي چې خلک بې باوره دي. دواړه کميسيونونه بايد د عامه پوهاوي لپاره ډيرڅه وکړي او خلکو ته د اصلاحاتو هڅې روښانه کړي. دوی همدارنګه بايد واضع کړي، چې د ټاکنو پرمهال د درغليو د مخنيوي لپاره کوم اقدامات ترسره کيږي.
- د ټاکنو کميسيون اود شکايتونو کميسيون بايد له کانديدانو سره له نژدې کار وکړي او هغوی ته د ټاکنيزو قوانينو او تر ټولو مهم د ټاکنيزو مقرراتو او پروسيجرونو په اړه معلومات ورکړي. همدارنګه کانديدان هم بايد ټآکنيزو سرغړونو په اړه پوره معلومات ولري. ډير وخت د دوی ترمنځ اړيکې نه وي. نو له همدې امله ډير وخت، کانديدان په بشپړ ډول له پروسيجرونو نا خبره وي او هم خبر نه وي، چې بهير څنګه مخ ته ځي. د اړيکو د منظمو چينلونو د رامنځ ته کيدو له مخې، ښايي د درغليو کچه راکمه شي ځکه کانديدان او د هغوی ملاتړي به له درغليو خبر وي او ممکن مخه يې ونيسي.
- د ټاکنو په بهير کې د څارونکو ډلو د شته والي هدف دا دی چې د رڼو او ازادو ټاکنو په ترسره کيدو کې له ټاکنيزو کميسيونو سره مرسته وکړي. دغه هدف د ټاکنو بهير د څارنې پرمهال ترلاسه شوی. نو دغو څارونکو ډلو ته بايد يواځې د ټاکنو په ټولو بهيرونو کې د څارنې اجازه ورنه کول شي، بلکې هغې انديښنې يې بايد واوريدل شي، چې د دغه بهير د شفافيت په اړه يې راپورته کوي. د ټاکنو کميسيونونه بايد په دغه بهير کې داصلاحاتو د يوې برخې په توګه، ټولې هغه نظريې چې څارونکي يې وړاندې کوي، په جدي ډول وڅيړي. له دغه ډول څارونکو سره له مشورو پرته، ښايي هر ډول اصلاحات د پام وړ پايله ونه لري.

## قضا ييه قوې ته

- د دې لپاره چې قضاييه قوه په خپل بنسټ کې د خپلې خپلواکۍ لپاره اغيزمن کار وکړي ، بايد هر ډول اصلاحات رامنځ ته کړي. په دغو اصلاحاتو کې د قاضيانو قانوني سيالي، د لياقت پراساس د قاضيانو ګمارنه او په ټوله کې د قاضيانو دخپلواکۍ ډاډمنولو لپاره دقضايي ارګان شفافيت شامل دي.
- قضاييه قوه بايد خپله خپلواکي په دې اغيزمنه نه کړي، چې اجرايوي ځواک ته په خپلو چارو کې د لاسوهنې اجازه ورکړي او يا هم د هغوی لاربنوونې ومني. سره له دې، چې دافغانستان په اساسي قانون کې له تعديل سره به د قضا خپلواکي ډاډمنه شي خو په اوسنيو حالاتو کې هم قضا خپلواکه پاتې کيدای شي او پياوړې کارونه کولای شي.
- قضاييه قوه او لويه څارنوالي د قانون پلي کوونکيو بنسټونو په توګه، بايد د هغو قضيو څيړل پيل کړي، چې ټاکنيزې سرغړونې يې کړې دي. له هرو ټاکنو وروسته، د يوه مناسب قضايي سيستم نشتوالي په افغانستان کې د معافيت کلتور تقويه کړی او په دې کار سره په راتلونکيو ټاکنو کې خلک لا ډيرو درغليو ته هڅيدلې دي. د قضايي ارګان لپاره دا مهمه ده، چې د شکايتونو دکميسيون په کارونو کې د مداخلې پر ځای، هغه اصلي کسان عدالت ته راکاږي، چې سرغړونې يې کړې دي.
- د ټاکنو اړونده لانجو په اړه د قضاوت واک به په افغانستان کې قضاييه قوې ته وسپارول شي، خو قضاييه قوه بايد په خپلو کارونو کې بې پرې والی او خپلواکي ثابته کړي. د دې ډاډ هم بايد ورکول شي، چې د قانون له مخې، د ټاکنو په اړه د ځانګړو محکمو دجوړيدو ټول شرطونه بايد پوره شي.

## کورنیو او نړیوالو څارونکو ته

- د ټاکنو کورني څارونکي باید ټول بهیر وڅاري او خلکو ته د لاسرسي وړ معلومات برابر کړي. دوی باید خپل کارونه داسې همغږې کړي، چې دعامه پوهاوي په اړه خپل پروګرامونه هغو سیمو ته هم وغځوي، چې په لوړه کچه تر امنیتي ګواښونو لاندې دي. له پخوانیو ټاکنو څخه ثابته شوه، چې د درغلیو فرصت په ناامنه سیمو کې ډیر و. نو ځکه په دغه ډول سیمو کې د څارونکو او استازو حضور مهم دی.
- د نړیوالو څارونکو ماموریت هم باید له کورنیو بنسټونو سره یو ځای د ټاکنو دبهیر څارنې ته دوام ورکړي. اړونده حکومتي ادارې دې په ولایتونو کې دوی ته د څارنې زمینه برابره کړي.
- د ټاکنو ټول لوري دې تیر لس کلونه و ارزوي او یوه ګډ ټکي ته دې ورسیږي او بیا دې په شریکه د اصلاحاتو لپاره هر اړخیزه تګلاره جوړه کړي. د ټاکنو بهیر، قانوني چوکاټ یې او ټول طرزالعملونه یې د بندو دروازو تر شا جوړ شوې دي. له یوې لسیزې وروسته، اوس افغانستان دی ته چمتو دي چې په خپل ټاکنیز سیستم کې په پراخه کچه سمون راولي. د اصلاحاتود پلې کولو لپاره باید یوه قوی سیاسي اراده موجوده وي.

# ضميمه

## هغه کسان، چې مرکې ورسره شوې دي

| | نوم | دنده |
|---|---|---|
| ۱ | شعيب تيموري | حقوقي کارپوه |
| ۲ | فضل احمد معنوي | د ټاکنو کميسيون IEC پخواني مشر، ۲۰۱۰ |
| ۳ | ضيا رفعت | د شکايتونو کميسيون ECC پخواني غړی، ۲۰۱۰ |
| ۴ | محمد فريد حميدي | دبشري حقونود خپلواک کميسيون AIHRC مرستيال، د شکايتونو کميسيون ECCپخواني غړی۲۰۰۵ |
| ۵ | فهيم حکيم | د شکايتونود کميسيون ECC پخواني غړی، ۲۰۰۹ |
| ۶ | محمد امين احمدي | داساسي حقوقو کارپوه، پر اساسي قانون د تطبيق د څار کميسيون iCOIC غړی |
| ۷ | نادر نادري | فيفا FEFA/ د افغانستان دبشري حقونو دخپلواک کميسيون AIHRC پخواني غړی |
| ۸ | قاضي سيد مراد شريف | د شکايتونو د کميسيون ECC پخواني مشر، ۲۰۱۰ |
| ۹ | شاه سلطان عاکفي | د شکايتونو کميسيون ECCغړی، ۲۰۱۰ |
| ۱۰ | عبدالله احمدزی | د ټاکنو د کميسيون ECCد اجرايي پخواني مشر |
| ۱۱ | نجلا ايوبي | د ټاکنو کميسيون IEC پخواني غړې |
| ۱۲ | صالح ريګستاني | د پارلمان پخواني غړی |
| ۱۳ | احمد بهزاد | د ولسي جرګې غړی او د ځآنګړې محکمې مخالف |
| ۱۴ | نه يې غوښتل نوم يې واخيستل شي | د سترې محکمې يو لوړ پوړی چارواکی |
| ۱۵ | مير احمد جوينده | د پارلمان پخواني غړی |
| ۱۶ | محمد علي ستيغ | د شکايتونو کميسيونECC، د دارلانشا مشر |
| ۱۷ | محمد صادق صافی | د کندز د ټاکنيزوشکايتونو دکميسيون غړی |
| ۱۸ | محمد اشرف | د تخار کې د ټاکنيزو شکايتونو کميسيون غړی |
| ۱۹ | محمد ضيا بيګزاد | په سمنګانو کې د شکايتونو کميسيون غړی |
| ۲۰ | محمد اشرف | په جوزجان کې د شکايتونو کميسيون غړی |
| ۲۱ | ډاکټر غلام حيدر علاما | د اساسي حقوقو کارپوه |
| ۲۲ | بشير بيژن | پخواني کانديد |
| ۲۳ | ټيلبرټ لوک | د ټاکنو مسوول، اين ډي ای NDI |
| ۲۴ | ګرانټ کيپن | د شکايتونو کميسيون ECC پخواني مشر، ۲۰۰۵ تر ۲۰۰۹ پورې |
| ۲۵ | قاضي جوهان ګريګلر | د ټاکنيزو شکايتونو دکميسيون ECCپخواني غړی، ۲۰۱۰ |
| ۲۶ | صفوت مصطفی صديقي | د ټاکنيزوشکايتونو دکميسيون ECC پخواني غړی، ۲۰۱۰ |
| ۲۷ | پيټر ليپسيچ | د شکايتونو کميسيون IECCسلاکار |

# مأخذ

"Afghanistan's Elections Stalemate." Asia Briefing no. 117. Kabul/Brussels: International Crisis Group, 2011.

"Afghanistan Parliamentary Election Observation." Kabul: Free and Fair Election Foundation of Afghanistan, 2011.

*Amendment to Clause 3 and Addendum to Clauses 4 and 5 or Article 37 of the Electoral Law,* Decree no. 119 (*Official Gazette* no. 847), 2004 (SY 1383).

*Agreement on Provisional Arrangements in Afghanistan Pending the Re-Establishment of Permanent Government Institutions (Bonn Agreement)*, 2001.

Ahmadi, Amin. "The Authority of Constitutional Interpretation in Afghanistan." http://icoic.gov.af/Content/files/%D9%85%D8%B1%D8%AC%D8%B9%20%D8%AA%D9%81%D8%B3%DB%8C%D8%B1%20%D9%82%D8%A7%D9%86%D9%88%D9%86%20%D8%A7%D8%B3%D8%A7%D8%B3%DB%8C.pdf (accessed March 2014).

An-Na'im, Abudllahi Ahmed.*African Constitutionalism and the Role of Islam*. Philadelphia: University of Pennsylvania Press, 2006.

Austin, Reginald. "Afghanistan: An Electoral Management Body Evolves." In *Electoral Management Design: The International IDEA Handbook*, edited by Allan Wall, Andrew Ellis et al., Stockholm: International IDEA Handbook, 2006.

Ayub, Fatima, Antonella Deledda and Patricia Gossman, "Vetting Lessons for the 2009-10 Elections in Afghanistan." New York: International Centre for Transitional Justice, 2009.

Barakzai, Zekria. *2014 Presidential and Provincial Council Elections in Afghanistan*. Washington, DC: United States Institute of Peace, 2013.

Bork,Robert H*. The Great Debate: Interpreting Our Written Constitution 43*. Washington, DC: Federalist Society, 2005.

Constable, Pamela. "Afghanistan's Hazaras Gain Clout in Disputed Parliamentary Elections." *Washington Post Foreign Service*, 24 December 2010.

*Constitution of Afghanistan*. 2004.

"Declaration on Criteria for Free and Fair Elections." Paris: Inter-Parliamentary Council, 1994.

Dempsey, John and J. Alexander Their.*Resolving the Crisis over Constitutional Interpretation in Afghanistan*. Washington, DC: United States Institute of Peace, 2009.

"Election Support Team Recommendations on 2005 Parliamentary Elections." Warsaw: Organisation for Security and Cooperation in Europe, (OSCE), 2005.

"Election Support Team Report." Warsaw: Organisation for Security and Cooperation in Europe, Office for Democratic Institutions and Human Rights, 2010.

"Election Support Team to Afghanistan: Recommendations on 2005 Parliamentary Elections." Warsaw: Organisation for Security and Cooperation in Europe, 2005.

*Electoral Law*, 2004 (SY 1383).

*Electoral Law*, 2005 (SY 1384).

*Electoral Law*, 2010 (SY 1389).

*Electoral Law*, 2013 (SY 1391).

*Elements of Convening Elections during the Transitional Period*, Decree no. 110, 2004 (SY 1382).

Ennis, David. "Analysis of the Electoral Legal Framework of Afghanistan: International Foundation for Electoral Systems." 2006. http://www.ifes.org/Content/Publications/White-Papers/2006/Analysis-of-the-Legal-Electoral-Framework-of-Afghanistan.aspx.

Fehrenbacher, Don E. *Constitutions and Constitutionalism in the Slaveholding South*. Athens, GA: University of Georgia Press, 1989.

"Final Report for Parliamentary Elections of 2005." Kabul: Election Complaints Commission, 2006.

"Final Report of Impartial Panel of Election Experts Concerning Afghanistan Presidential Election." Kabul: Impartial Panel of Election Experts Concerning Afghanistan Presidential Election, 2004.

Foschini, Fabrizio. "The Social Wandering of the Afghan Kuchis: Changing patterns, perceptions and politics of an Afghan community." Kabul: Afghanistan Analysts Network, 2013.

Hasebe, Yasuo, and CesarePinelli. "Chapter 1, Constitutions." In *Routledge Handbook of Constitutional Law*, edited by Mark V. Tushnet, Thomas Fleiner and Cheryl Saunders. Oxon: Routledge, 2013.

Henríquez, José de Jesúsand and AymanAyoub. *Electoral Justice: The International IDEA Handbook*. Stockholm: International IDEA, 2010.

Hewad, Gran, Martine van Bijlert and Thomas Ruttig, "A Hasty Process: New Independent Election Commission Announced." Kabul: Afghanistan Analysts Network, 2013.

*Independent Election Commission,* Decree no. 21, 2005 (SY 1385).

*Interim Afghan Electoral Commission*, Decree no. 39, 2003 (SY 1382).

*International Covenant on Civil and Political Rights (ICCPR)*, 1966.

"Islamic Republic of Afghanistan Presidential and Provincial Council Elections, Election Support Team Report." Warsaw: Organisation for Security and Cooperation in Europe, Office for Democratic Institutions and Human Rights (OSCE/ODIHR), 2009.

*Joint Electoral Management Body*, Decree no. 40, 2003 (SY 1382).

Kippen, Grant. "Elections in 2009 and 2010: Technical and Contextual Challenges to Building Democracy in Afghanistan." Kabul: Afghanistan Research and Evaluation Unit, 2008.

*Law on the Structure, Duties and Authorities of the Independent Election Commission and Independent Election Complaints Commission* (*Official Gazette* no. 1112), 2013 (SY 1392).

"Legal Opinion on the Acting Positions of the Members of Supreme Court and Delay in Appointing and Introducing Ministers, Members of Supreme Court and Attorney General." *Yearbook* 1390, no. 37. Kabul: Independent Commission on Overseeing the Implementation of the Constitution (ICOIC), 2011.

"Legal Opinion on the Establishment of Special and Specialized Courts by the Supreme Court to Adjudicate Electoral Claims." No. 7. Kabul: Independent Commission on Overseeing the Implementation of the Constitution, 2009.

"Legal Opinion of the ICOIC on the Specialized Electoral Tribunal to adjudicate Electoral claims." No. 8. Kabul: Independent Commission on Overseeing the Implementation of the Constitution, 2009.

"Legal Opinion of the ICOIC on the Specialized Electoral Tribunal to adjudicate Electoral claims." No. 13. Kabul: Independent Commission on Overseeing the Implementation of the Constitution, 2010.

"Legal Opinion on the Special Tribunal for Adjudication of Dissatisfied Candidates' Claims." No. 8. Kabul: Independent Commission on Overseeing the Implementation of the Constitution, 2010.

Macdonald, Roderick, A. and Hoi Kong. "Judicial Independence as a Constitutional Virtue." In *Oxford Handbook of Comparative Constitution Law*, edited by Michel Rosenfeld and AndrasSajo. Oxford: Oxford University Press, 2012.

*Mizan Gazette* (Supreme Court Periodical), no. 147. 2010 (SY 1389)

*Mizan Gazette* (Supreme Court Periodical), no. 168, 2011 (SY 1390) http://supremecourt.gov.af/Content/Media/Documents/16812122011121339216553325325.pdf.

Moschtaghi, Ramin. *Afghanistan Court Organisation and its Compliance with the Constitution and International Law*. Amended 3rd edition. Kabul: Max Planck Institute for Comparative Public Law, 2009.

Nwabueze, B. O. *Constitutionalism in the Emergent States.* London: C. Hurst & Company, 1973.

"Observation Mission: Parliamentary Elections 2010, Final Report." Kabul: Democracy International, 2011.

Partlow, Joshana. "Problems in One Province Delay Afghan Election: Re-vote Possible, Officials Say." *Washington Post Foreign Service*, 24 November 2010. http://www.washingtonpost.com/wpdyn/content/article/2010/11/24/AR2010112400498_pf.html.

"Press Release," *Free and Fair Elections Foundation of Afghanistan*, 16 December 2010

"Press Release." *Independence Elections Commission*, 21 August 2011. http://www.iec.org.af/pdf/wolesi-pressr/pressr_deliberation_complaints_cn_wj_2010_21-Aug-2011.pdf.

Rahim, Faiez and Heidi Vogt. "Afghanistan Courts Cannot Change Elections: Hamid Karzai." *Huffington Post*, 10 August 2011. http://www.huffingtonpost.com/2011/08/10/afghanistan-courts-election-hamid-karzai_n_922978.html.

"Reforming Afghanistan's Broken Judiciary." *Asia report* n°195. International Crisis Group, 2010.

Reynolds, Andrew and John Carey. "Fixing Afghanistan's Electoral System: Arguments and Options for Reform." Kabul: Afghanistan Research and Evaluation Unit, 2012.

Reynolds, Andrew and Andrew Wilder. "Free, Fair or Flawed: Challenges for Legitimate Elections in Afghanistan." Kabul, Afghanistan Research and Evaluation Unit, 2004.

Rutting, Thomas. "Ghazni's Drama Election: It's the System." *South Asia Channel, Foreign Policy*, 2 December 2010. http://southasia.foreignpolicy.com/posts/2010/12/02/ghaznis_election_drama _its_the_system.

Sadat, Saliha "Selection Committee and ECC 'Unconstitutional': IEC Chief," *Tolo News – Election 2014*, 27 July 2013.

"Special Election Tribunal Press Conference." *Mizan Gazette* (Supreme Court Periodical). Kabul: February 2010 (SY 1389).

Supreme Court of Afghanistan Website, http://supremecourt.gov.af/en/page/625.

*Termination of Authorities of the Joint Electoral Management Body,* Decree no. 110, (*Official Gazette* no. 874), 2006 (SY 1384).

"The 2010 Wolesi Jirga Elections in Afghanistan." Kabul: National Democratic Institute, 2010.

Tran, Mark "Afghanistan Elections Postponed," *The Guardian*, 24 January 2010.

Trofimov, Yaroslav. "Afghan Supreme Court Asked to Void Election - Suicide Bombing Kills Six U.S. Troops in Kandahar Province." *The Wall Street Journal*, 12 December 2010.

"U.N. Basic Principles on the Independence of the Judiciary." http://www2.ohchr.org/english/law/indjudiciary.htm. 1985.

*Universal Declaration of Human Rights (UDHR)*, 1948.

"Voter Turnout Data for Afghanistan," International IDEA http://www.idea.int/vt/countryview.cfm?id=4.

Worden, Scott and Sylvana Q. Sinha. *Constitutional Interpretation and the Continuing Crisis in Afghanistan*. Washington, DC: United States Institute of Peace, 2011.

Worden, Scott. "Karzai Blinks in the Afghan election Crisis." *Foreign Policy, The South Asia Channel*, 10 August 2011. http://southasia.foreignpolicy.com/posts/2011/08/10/karzai_blinks_in_afghan_election_crisis.

## د څرګندونو لپاره ستاسي غوښتنې

د افغانستان د څیړنې او ارزونې واحد ډیره علاقه لري چې ستاسو څخه اوري. په هر صورت که تاسی د دی واحد خپرونو لوستونکی یاست، یا مو د افغانستان د څیړنې او ارزونې واحد کې په لکچر یا ورکشاپ کې ګډون کړی وی، یا مو له کتابونو څخه استفاده کړی وی، یا مو د ادارې له کارونو او څیړنو سره آشنایي پیدا کړی وی، ستاسي څرګندونی او غوښتنې زمونږ لپاره ډیر د ارزښت وړ دی، ستاسی وړاندیزونه له مونږ سره مرسته کوی ترڅو خپل هدف په ښه توګه تعقیب او د خپلو کارونو لاسته راوړنې په ښه ځیر د خپلو خبرونو له لوستونکو سره شریکې کړو.

ترټولو آسانه لار د څرګندونو لپاره ستاسي غوښتنی د بریښنالیک له لاری areu@areu.org.af همدارنګه تاسي کولای چې له مونږ سره په اړیکه کې شي ۷۹۹ ۲۰۸ ۵۴۸ (۰) ۹۳+

- تاسي په خپلو اکه توګه نظر ور کولای شی، اما ستاسی ځوابونه او معلومات په دی اړه زمونږ لپاره ډیر ارزښناک تمامیږی
- له دی اداري او د دی اداری له څیړنو سره څنګه اشنا شوی (د خپرونو له لاری، یا د دی اداری په غونډو و یا مجلسونو کې ګډون له لاری)
- د افغانستان د څیړنې او ارزونې د اداري له څیړنو د څه لپاره استفاده کوی
- د افغانستان د څیړنې او ارزونې د اداري څیړنې څنګه ترلاسه کوی
- آیا له خپرونو نه په بریښنایي یا چاپي ډیر استفاده کوی
- د خپرونو معلومات تاسو ته څه دول وړاندی شی
- ستاسو وړاندیزنه د دی اداری د څیړنو په اړه څه شی دی
- د افغانستان د څیرنی او ارزونی د اداری کومه خپرونه یا پیبنه تاسوته په زړه پوری ده؟
- ستاسي په باور په کومو موارد و کې زمونږ کارونه ګټور تمامیږی
- علاقه، د دندی ساحه او یا ستاسی د مطالعی ځای

# د افغانستان د څېړنې او ارزونې واحد وروستي خپرونې

- په افغانستان کې د کوچنیو او منځنیو کاروبارونو ( پانګونو ) پرمختګ او سیمه ییزه سوداګري، مجیب مشعل
- په افغانستان کې حکومتولي: یو پېژند ، آریا نجات
- د افغانستان د سرپل به فرعی حوزه کی د اوبوحق او په هغو پوری د اړوندوستونزو لمنځه ورل، تاماس ونسنت
- په افغانستان کی د ښځو اقتصادی غښتلتوب او وړتیا : د فرصتونو مینځ ته راوړل او د چاپیریال چمتو کول، لینا ګنیش*
- په افغانستان کی د ښځو اقتصادی غښتلتوب او وړتیا : د وضعیت تحلیل، لینا ګنیش
- په افغانستان کی د ښځو اقتصادی غښتلتوب او وړتیا : معلوماتو راتولول، لینا ګنیش
- د بلخ اقتصاد د انتقال په پړاو کی، پاول فیشستین
- په افغانستان کې د اوبو د ښه مدیریت نمونه: خالیګاوی او فرصتونه، توماس ونسنټ*
- په ۲۰۱۱-۲۰۱۲ کلونوکې د بلخ او بدخشان ولایتونه یو څه له کوکنارو پاک او ځینی کروندې بې ویجاړ شوې دي، پاول فیشستین*
- په افغانستان کی د اوبو د ښه مدیریت نمونه: خالیګاوی او فرصتونه، تاماس ونسنت
- څمکه، ولس، او دولت په افغانستان کې ۲۰۰۲ – ۲۰۱۲ ، لیز آلدن ویلی*
- ټول شرط تړل منع دی! توافق ته درسیدلو نندارہ او په هلمند او ننګرهار کې د انتقال په بهیر کی د مخدارتو کنټرول، ډیوید منسفیلد*
- الف څخه تر یا د افغانستان لپاره مرستندوی لارښود یوولسم ګنه ۲۰۱۳*

*دغه نښه(علامه) ښیی چی خپرونی او یا هم د هغوی لنډیز په پښتو ژبه تر لاسه کیږی.

AREU

څېړنې د ښه افغانستان لپاره

ټولې خپرونې په دغه پاڼه کې د راښکته کولو لپاره www.areu.org.af لاس ته راوړی شي.

په کابل کې ددغه ادارې په دفتر کې چاپ شوی کاپیانې هم موجودی دی.


**افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره**

دحاجي یعقوب له څلور لاری څخه د شهید د څلورلارې په لور، کین اړخ ته دریمه کوڅه، ۱۴۴ کور، نوی ښار، کابل، افغانستان

تیلفون: ۵۴۸ ۲۰۸ ۷۹۹(۰)۹۳+

بریښنالیک:publications@areu.org.af

ویب پاڼه:www.areu.org.af


۱۲ کاله

باکیفیته څېړنه